شهامت

نهم کال، دریمه ، پرلپسې ۵۳ مه گڼه، ذوالحجة الحرام ۱۴۳۶هق ، ستمبر ۲۰۱۵م

په جهادکې دمطبوعاتي فعالیت ارزښت

طالبانو ولې (طلوع) او (یک) چینلونه وګواښل؟!

دامریکا ، نوې استراتیژي دناکامو تجربو ناکام تسلسل!!

آخرهم ،
دطالبانوپر پوځي ورتیا اشغالګرو اعتراف وکړ!!

مدرسه و پېژنئ!

اشتباه بزرگ در آزمون شکست؟!

ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله خپل ولس اومسلمان ملت ته څه وکړل؟

د سترو فتحو لړۍ دوام لري

د غزني زندان د ماتېدو په اړه د ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه

دهېواد دعلمي، جهادي او روحاني شخصیت
مولوي عبد الهادي اخندزاده ژوند او خدمتونو ته کتنه

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

نهم کال ۳مه، پرلپسې ۵۳ گڼه، ذوالحجة الحرام ۱۴۳۶هـ ق سټمبر ۲۰۱۵م

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرمقاله....................................	۱
۲	طالبانو ولې طلوع او یک چینلونه وګواښل؟!.............	۳
۳	آخرهم، د طالبانو پرپوځي ورتیا اشغالګرو اعتراف وکړ!!...	۵
٤	دسترو فتحو لړۍ دوام لري.........................	۸
۵	ملامحمد عمر مجاهد خپل ولس او مسلمان ملت ته څه وکړل	۱۰
٦	دکندز تاریخي او ویاړمنې فتحې ته کتنه................	۱۹
۷	دهیواد جهادي شخصیت مولوي عبدالهادي اخندزاده ژوند	۲۲
۸	په اسلامي هیوادو کې د اسلامیت او مغربیت ترمینځ.......	۳۳
۹	ګلورینې پاڼې....................................	۳٦
۱۰	دشیخ الحدیث مولانا محمد علي رح دژوند حالات او.......	٤۰
۱۱	طالبانو ۱۴ کاله وروسته څینې رسنۍ وګواښلې............	٤۳
۱۲	دبهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې دملکي تلفاتو......	٤۵
۱۳	استقبال فراګیر مردم از استهداف شبکه های شیطاني.......	٤۸
۱٤	مدرسه وپیژنئ!..................................	۵۱
۱۵	دغزني دزندان دماتیدو په اړه دهمدې ولایت له جهادي......	۵۲
۱٦	اشتباه بزرګ در آزمون شکست ؟!......................	۵٦
۱۷	دکندز فتحه، پرروغتون خونړۍ بمبار او ددښمن پوچ........	۵۸
۱۸	په جهاد کې دمطبوعاتي فعالیت ارزښت...................	٦۳
۱۹	طالبانو په یوه مارش دیرغلګرو ځوارلس کلنه خواري.......	٦٦
۲۰	نومیالي عالمان..................................	٦۷
۲۱	په کندز کې ماتې خوړلي ګوډاګیان او د طالبانو چلند...!!؟	۷۰
۲۲	دشهامت دارالافتاء...............................	۷۱

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

د امریکا!

نوي استراتیژي!

د ناکامو تجربو؛

ناکام تسلسل...!

نږدې یوه اوونۍ وړاندې سپینې ماڼۍ زمونږ په ګران هېواد(افغانستان) کې د یوشمېر یرغلګرو امریکایي پوځیانو پاتې کولو نوې تګلاره اعلان کړه، چې له مخې به یې د ۲۰۱٦زکال ترپایه پورې په افغانستان کې دامریکا ۹۸۰۰ اوله هغه وروسته ۵۵۰۰ سرتیري پاتې وي.

د سپینې ماڼۍ دغه ظالمانه او مغرورانه پرېکړه ښيي چې دامریکا یې ښکېلاک د پالیسۍ جوړونکو مغزو ته لا سد ندی ورغلی، هغوی په نړۍ کې دخپلو شیطاني عزایمو او ارادو دلومو غځولو څخه ستړي او لاس په سر شوي ندي! بلکې هنوز هم افغانستان اوپه سیمه کې دصلیبي تاړاک وحشتونو اوظلمونو ته ددوام موندلوپه فرضي او نامرئي عواملو پیداکولو مصروف اولګیا دي.

دسیاسي او پوځي کتونکو په اند: امریکا دافغانستان په شان هېواد په مهم جغرافیوي موقعیت اواستراتیژک استقامت کې د ګاونډیو هېوادو دننه د استعماري موخو ترلاسه کولو ،خپل شیطاني رول د تقویې او شومو مغرضانه لاسوهنو ته دچانس اوفرصت برابرولو لپاره پوځي شتون اړین بولي! ښکاره ده چې د همدادول استراتېژۍ او د جګړې د دوام ترشاه دامریکا دمقننه څواک (کانګریس) ملاتړ هم موجود دی چې زیاتره غړي یې په یوه خوله له افغانستانه دټولو امریکا یي پوځیانو وېستل اشتباه بولي! او هم دپنټاګان څیني جنرالان په سیمه کې دجګړې غځولو په نیت دیوه بل نوي جنګي ائتلاف درامنځته کولو اشارې هم ورکوي. لنډه داچې دامریکا نوې استراتېژي هیڅکله تصادفي یا دڅوتنو لخوا پرېکړه نه؛ بلکې دټول امریکایي ولس د جګړه مار ذهنیت عکاسي ده.

خو هر دشعور او پوهې څښتن پوهیږي چې دامریکا یانو دظالمانه اشغال ۱۴کلنې دورې افغانستان او سیمې ته نه هېریدونکې بدمرغۍ اونه جبرانېدونکي زیانونه راوړي، داچې اوس په راتلونکي کې هم امریکا دخپلې شیطاني ارادې نه

لاس په سر نه ښکاري! دافغانستان په ګډون دټولې سیمې دولسونو لپاره بد زیری دی! چې حتماً به یې له امله افغانستان او دسیمې هېوادونه دمنطقوي رقابتونو په وجه داستخباراتي کشمکش او نیابتي جګړو په ډګر و اوړي.

هو! د صلیبي اشغال تمدیدل به خامخا افغانستان او سیمې لپاره نور داسې بوړنوونکي زیانونه راوړي ،چې دعواقبو له پلوه به هغه په افغانستان او سیمه منفي تاثیرات پرېباسي.

او حتمي ده چې افغانان او ګاونډیان به په دې مورد کې سرله اوسه خپل نازک مسؤلیتونه او درانه وجایب درک کاندي، هغوی باید په ګډه دامریکا ددغو شیطاني عزایمو او ارادوپه وړاندې ښه ځېر اوبیدار اووسي، ځکه د۱۴کلن صلیبي جنګ ترخو تجربو وښوده، چې ددې ناروا جنګ په لمبو کې نه یواځې افغان ولس ترننه کړېږي او ځورېږي بلکې ورسره په چم او ګاونډ کې مېشت ولسونه او پرګنې هم پکې لولپه کېږي!

نواوس دې نړیوال هم نور خپلې سترګې ښېرته کړي اوپه دې دې قانع شي چې نړیوال امنیت ترډېره ځایه دافغاني قضیې دواقعبینانه حل او ا منیت سره تړاو لري، اوروښانه ده چې دافغانستان ثبات، امنیت او راتلونکی د[افغانستان اسلامي امارت] پورې تړلی دی، ځکه امارت اومجاهدین دافغانستان دننه ترنورو زیات مؤثر،سیاسي او جهادي جهت دی ! باید نړیوال په ورین تندي دغه روڼ حقیقت تسلیم او له زړو نه په منلو سره دې د افغانستان په باب په هرتصمیم او هره پرېکړه کې دامارت دموقف او دریځ درناوی وکړي.

بې له شکه افغان ولس چې دکومې جګړې ، ستونزو او ناخوالو قرباني دی، اساسي وجه یې داده چې دنړۍ بډای او زبرځواک هېوادونه دخپل انانیت ددفاع لپاره دبېرته پاتې ولسونو بالخصوص دمسلمانانو په ملي شتمنیو او زېرمو باندې خېټه اچولې، چې دادی نن یې دساتنې په نوم دافغانستان له ارضي تمامیت څخه دسپر په توګه کار اخلي.

امریکاد همدې موخو دترلاسه کولو په غرض له تېرو ۱۴ کلو راهیسې د خپلې پرمختللې جنګي ټیکنالوجۍ او د پرېمانه وسلو اوتجهیزاتو سربېره ځان سره د پراخ نړیوال سیاسي، اقتصادي او پوځي ملاتړ په متو افغانستان او سیمې ته جنګونه، مرګونه او ناورینونه راوړل، دخپل بري لپاره یې هرډول موډرنې وسلې وکارولې.

خو! ددې ټولو باوجود یې هم بری په برخه نه شو دشکست، خجالت،رسوایي او شرمنده ګۍ پرته یې بل څه ترلاسه نکړل اوس ددې لپاره چې له نړیوالو څخه خپله کرغېړنه او شکست څپلې څېره پټه وساتي افغانستان کې داشغال تمدیدولو انګازې خپروي او دخپلو یوشمېر عسکرو دپاتې کېدو په عنوان نوې استراتیژي اعلانوي! چې دا به امریکا ته له دې پرته چې دخپلو پاتي کېدونکو پوځیانو ژوند په خطر کې واچوي بله کومه لاسته راوړنه په برخه نکړي او نه به په دې سره خپلو مورال بایللو ګوډاګیانو ته سپک ور وبښي.

له دې سره سره په ټوله کې دامریکا یې ښکېلاک د شومو پلانونو او ارادو شنډولو لپاره دافغانانواو مسلمانانو خپلمنځي اتحاد او یو والی اړین دی اوهم امریکا او نړیوالو ته په دې غوړونه خلاصول پکاردي چې په افغانستان او سیمه کې دواقعي امنیت ،ثبات، خوشالۍ اود ترقۍ لپاره د افغانستان له خاورې څخه دټولو اشغالګرو عسکرو وتل حتمي او ضروري دي! له دې پرته بله هره استراتېژي او تګلاره به دناکامو تجربو؛ ناکام تسلسل وي!!

طالبانو ولې طلوع او یک

چیــــنلونه وګواښــــل؟!

شاهد غزنیوال

د روان کال د تلې د میاشتې په ۲۰ نیټه د افغانستان د اسلامي امارت نظامي کمیسیون په یوه فوق العاده پوځي اخطاریه کې د طلوع او یک په نوم تلویزوني شبکې وګواښلې او هغه یې د پوځي اهدافو په لیست کې شاملې کړلې.

داچې ولې اسلامي امارت اړ شو یادې رسنۍ په خپلو پوځي اهدافو کې شاملې کړي په لاندې کرښو کې په مختصر ډول وربانديې بحث کوو.

په افغانستان باندې د امریکایانو له پوځي یرغل سره سم هغوی د دغه یرغل د توجیه کولو او یا هغه ته د مشروعیت ورکولو لپاره خپل تبلیغاتي یرغل هم پیل کړ.

هغوی په افغانستان کې د تبلیغاتي یرغل د موفقیت لپاره په هماغه اندازه دقیق پلانونه په کار واچول څومره چې یې د پوځي یرغل لپاره تیاری په پام کې نیولی و.

امریکایانو ترهرڅه له مخه د خپلوهمدغو تبلیغاتي وسائلو او رسنیو له لارې یوشمیر ځانګړي مصطلحات ایجاد او بیایې د افغان ولس په اذهانو کې دهغوی د ځای پر ځای کولو لپاره فعالیت پیل کړ .

دیموکراسي ، د بیان آزادي ، له تروریزم سره مبارزه د ښځو حقوق او... هغه څه و ل چې په افغانستان کې د غربي میډیا د فعالیت د تمرکز نقطه بلل کیده او دوی خپل ټول جنګي جنایات تر دغې نقطې لاندې پټول.

امریکایانو د خپل تبلیغاتي یرغل د پرمختګ لپاره په افغانستان کې په سلګونو چاپي او صوتي رسني او تلویزوني شبکې ایجاد او د هغوي د مدیریت او انتظام چارې یې یوشمیر داسې افغانانو ته وسپارلې چې هغوی امریکایي مصالحوته خپله تر امریکایانو هم ډیر ژمن او وفادار پاتې شوي ول.

د دغو رسنیو په منځ کې طلوع او یک تلویزوني شبکې د غربي ملوثو افکارو د ترویج لپاره تر ټولو پرمختللې او له تخنیکي او مسلکي لحاظه فعاله رسنۍ دي چې هم یې د خلګو په منځ کې شهرت تر لاسه کړی او هم امریکایي منافعو ته تر نورو هغو ډیرې وفادارې دي .

دغو دواړو رسنیو د امریکایانو د پوځي فعالیتونو د انعکاس ترڅنګ په افغاني مسلمانه ټولنه کې د غربي لویدلي فرهنګ د ترویج او خپراوي لپاره هم ډیرې هلې ځلې وکړې.

هغوی د خپلو مختلفو پروګرامونو له لارې د بې حجابۍ، اختلاط، بیدني او الحاد دخپراوي ترڅنګ د افغانانو د اصیل اسلامي فرهنګ او دهغوی د سپیڅلو د ارزښتونو پرخلاف نشرات لرلې چې وخت ناوخت د افغان مؤمن ولس له کرکې سره سره مخ او دهیواد په بیلابیلو ولایتونوکې د پوهنتونونو د محصلینو او د مدارسو د زده کوونکو لخوایې په خلاف لاریونونه هم شوي دي.

طلوع اویک ټلویزوني چاینلونو په فرهنګي برخه کې دفکري تخریب تر څنګ په پوځي برخه کې هم ددښمن دپوځي عملیاتو او د هغوی د لاسته راوړنو د انعکاس په برخه کې یې ددښمن دیوې فعالې پوځي رسنۍ په حیث رول اداء کړی.

د بیلګې په توګه د طلوع تلویزون خبریالان چې کله د کابل رژیم د پوځي فعالیتونو د انعکاس لپاره کومې پوځي ساحې ته ځي د هغوي په دومره پلویتوب سره خپل رپوټ تر

تیبوي چې سړی دا نشي تشخیصولای چې دا رپوټ د دفاع وزارت د نشراتو د ریاست د رسمي کارکوونکو لخوا ترتیب شوی او که د یوه غیر دولتي تلویزون د خبریال لخوا؟.

آن تردې چې د طلوع تلویزون خبریالان له پوځې ساحې څخه د خبري پوښښ پر مهال کټ مټ هماغه ضدمرمي خولۍ او واسکټونو کاروي کوم چې د ملي اردو ځواکونه د محاربې په مهال تري استفاده کوي .

که څوک له جګړه ییزې ساحې څخه د خبري پوښښ پرمهال د طلوع تلویزون د خبریال لایف خپرونه (نشر- مستقیم) ووینې هغه هیڅ دا فکر نه کوي چې دا دې دکومې آزدې رسنې خبریال وي ؛ بلکې پر دې به یې یقین وي چې دا د دفاع وزارت د نشراتي څانګې اړوند کوم موظف مطبوعاتي تیم دی او خپلې اړوندې مرجع ته له ساحې څخه د خپلو پوځې فعالیتونو رپوټ ورکوي.

هره رسنۍ دا مکلفیت لري چې د جګړې له ساحې څخه د رپوټ ورکولو پر مهال د خپلې اړوندې مرجع مربوط شعار او مخصوص د مرمۍ ضد خولۍ او واسکټ چې Press لیکل شوی وي کاروي ، او د جګړې شکیل اړخونه د خبریالانو د دغه مخصوص لباس لرونکو خبریالانو د خوندیتوب اومصؤنیت مسؤلیت لري .

داچې د طلوع او یک خبریالان په لوی لاس د جګړې په ساحه کې هغه لباس اغوندي کوم چې د رژیم پوځې افراد کاروي او دهغوي په ټانګونوکې له هغوی سره یوځای دمجاهدینو تعقب کوي او یاهم هغه خبري او اصطلاحات کاروي چې د رژیم مطبوعاتي چارواکي یې په خپلو رسمي څرګندونو کې د مجاهدینو په ضد کاروي نو مجاهدین مجبور دي له همدغو رسنیو او دهغوي له خبریالانو او ټولو اړونده چارواکو سره هغه تعامل وکړي کوم چې د پوځې مقاومت پر مهال د دښمن له افرادو سره کوي .

ځکه دغو رسنیو او دهغوی کارکوونکو د دښمن په طرفداري کې خپل مهني او مسلکي حیثیت په خپله تر پښولاندې کړی ، نو مجاهدین مجبور دي چې له هغوي سره د دښمن د پوځې افرادو په حیث عمل وکړي نه د مسلکي بې پرې خبریالانو او مطبوعاتي کارکوونکو په توګه د طلوع تلویزون خبریالان د رژیم ماتې خوړلیو عسکرو ته د مورال ورکولو لپاره د جګړې له ساحې څخه په خپلو رپوټونو کې یواځې هغه معلومات خپل مرکز ته ورکوي چې د درژیم د پوځې چارواکو لخوا ورته ویل کیږي ، د بیلګې په توګه د رژیم چارواکې مجاهدینو ته د تروریستانو نوم کاروي او غواړي ددې نوم په کارولو سره خپل جنایات پټ کړي ، د طلوع خبریالان د رژیم دپوځې چارواکو په اقتفاء په خپلو خپرونو کې دمجاهدینو لپاره عین همدا نوم کاروي او د رژیم په خلاف د هغوی مقاومت توهینوي .

حال داچې یوه بې پرې رسنۍ په خپل رسنیز فعالیت کې دا صلاحیت نه لري چې په هیڅ ډلې هم خپل حکم وکړي او یا دهغوی پرخلاف د جانب مقابل په ګټه تبلیغات وکړي.

که څه هم چې د طلوع اویک چاینلونو په اړه د اسلامي امارت د پوځې کمیسیون اعلامیه د ځینو غربي چارواکو او موسسو لخوا غندل شوې او د دوی په اصطلاح د خبریالانو ګواښنه جنګي جنایت بلل شوی ، خو اسلامي امارت په یادې اعلامیې کې په وضاحت سره د بې پرې رسنیو او دهغوی د کارکوونکو مصؤنیت د ځان مکلفیت ګڼلی .

په یاده اعلامیه کې د طلوع اویک تلویزوني شبکې دهغوی د رسنیز فعالیت له مخې نه بلکې د هغوی دتبعیضي- کړنو اوښکاره پلویتوب له مخې ګواښل شوې چې داکار د دښمن په خلاف د مجاهدینو له کاري اجراآتو څخه ګڼل کیږي نه د خبریالانو او خبري رسنیو په خلاف دهغوي غیر مجاز فعالیت .

(هڅاند)

آخر هم،
دطالبانو پر پوځي ورتیا

اشغالګرو اعتراف وکړ!!

وروستیو تحولاتو جوته کړه، چې داسلامي امارت مجاهدین دخپل خواک او پوځي ورتیا مظاهره کوي اودغربي نیواکګرولخوا دیرې اشغال شوي سیمې، یوپه بل پسي له اجیرو ملیشو او تویکوالوځخه په تیزۍ سره نیسي ،ددې کال د(عزم) پرمختیاوو په ډاګه کړه، چې کـه غربي باداران له خپلو زر خریدو غلامانو څخه لاس واخلي، نو دکابل حکومت طالبانو ته هغه دچا خبره(یو وارنسوار) هم ندی اوطالبان به په کلونو نه بلکې دځومیاشتو په جریان کې به ټول افغانستان باندې دخپل حکومت وزرې وپرکوي!

داخبرې هسې ادعاوې ندي، بلکې هغه مسلم حقیقت دی ،چې پخپله یرغلګر او ددوئ لاسپوڅي اداره یې هم لـه چاځخه نه پټوي او اوس چې ددوئ دواک سا ء نوره مرۍ ته رسیدلې، نو له خلکو یې نور دپټیدو شونتیا کمه بولي.

دې اواخرو کې دملل متحد اداري په یوه څیړنـه کـې وویـل :چـې طالبـان د ۲۰۰۱م واک او خـواک تـه ورګرځېـدلي،د ملګـرو ملتونـو د اداري څخـه پـه خپـره شـوي یـوه څیړنـه کـې ویـل شـوي: چـې طالبـان اوس یـو ځـل بیـا پـه افغانسـتان کـې هغسـې خپـاره شـوي، لکـه څرنګه چې په ۲۰۰۱ کال کې وو.

د نیویارک تایمز (امریکایي رسنی) له خبر سره سم د ملګرو ملتونـو د وروسـتیو معلومـاتو او لـه سیمه ایـزو چارواکو سره د مرکو پر بنسټ ترسره شوي څیړنه کـې دوئ ته دا جوته شوي، چې طالبـان یـو ځـل بیـا د(۲۰۰۱) کـال قوت ته ورګرځېدلي.

د خایي چارواکو په وینا د امنیتي ستونزو لـه کبلـه د ملګـرو ملتونـو د یوناما اداري لـه خپلـو(۱۳)ولایتـي مرکزونو څخه څلور دفترونه په بشپړه توګه تړلي.

له راپـور سره سـم د ملګـرو ملتونـو د مختلفـو ادارو څخه د امنیتي وضعیت په اړه راټول شوي هغـه معلومـات ،چې د کندز تر سقوط وړانـدې د سپتمبر پـه میاشـت کـې راټول شوي، ښکاره کوي، چې د ملګـرو ملتونـو چـارواکو دافغانستان نیمایي برخه د امنیتي لحاظـه خطرناکـه او ډیره خطرناکه بللې، چې دا کچه د کنـدز د سـقوط او همدارنګـه دهیـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې د طالبـانو د بریـدونو او پرمختګونو له کبله لا زیاته شوي.

د نیویـارک تـایمز د راپـور پـر ارسـاس د ملګـرو ملتونـو اداره خپـل دغـه معلومـات د رسـنیو سره نـه شریکـوي، بلکـې پـه افغانسـتان کـې د بهرنیـو ځواکونـو د ایتلافي هیوادونو سره یې په پټه شریکوي.

ورځپاڼه زياتوي چې د ملګرو ملتونو دغه راپور د امريکايي قومندان (جون کامپيل)د هغې ادعا په خلاف معلومات ورکړي ،چې نوموړي د کانګريس په وړاندې وکړه او ويې ويل چې «افغان ځواکونه په ميړانه د طالبانو په خلاف جنګيږي او دوئ اوس هم په اوضاعو واکمن دي، پلازمينه، د هيواد ټول ولايتي مرکزونه او د ولسواليو مرکزونه د دولتي ځواکونو په لاس کې دي........

دکندز بشپړه فتحه ،دتخار ،بدخشان ،بغلان ،سرپل ،فارياب ،غزني او نورو ولايتونو غونډي دلويو ولسواليو او ستراتيژيکو نقاطو نيول او هلته سپين بيرغ رپول، څه معمولي او تش دخولي خبرې نه دي، بلکې داستره پوځي لاس ته راوړنه او تيرو ځوارلسو کلونو کې دنړيوالو داټکلونو خلاف هغه پرمختګونه دي ،چې له امله يې دامريکا او متحدينو لينګي ورپيدل ،ټوله ځوارلس کلنه خواري يې په سيند لاهو شوه او داميدو نو په بزغلي يې خړ سيلاب راغی .

دامريکايانو له بي رحمانه بمبارد نه چې آن د(بي سرحده ډاکترانو)روغتون يې هم په ظالمانه شکل بمبارد او نړدي(۸۰)شاخوډاکتران ،مريضان او په عوضان يې پکې دخاورو سره برابرکړل،دکندز ښاريان يې دماتم په تغر کښينول او ډول ډول جنايات يې هلته ترسره کړل ، داسلامي امارت مشرتابه خپلو اړوندومجاهدينوته امر وکړ، چې دکندز اطرافوته عقب نشيني وکړي او خپل ولس باندې ترحم وکړي .

دکندز دښار نه دمجاهدينو خروج يو تکتيکي شاته تګ دی او لکه څرنګه چې امارت په يوه خپره شوي اعلاميه کې څرګنده کړه ،چې مونږدځه جهادي تکتيکونو او دولسي وګړودژوندډمصؤنيت په نيت لدي ولايت له مرکزه شاتګ کړی او دښار په څنډو کې مو مورچې جوړې کړي ،دخپل مسلمان ولس او مجاهدينو سره دامارت دمشرتابه هغه خواخوږي ده، چې آن پخپله داشغالګرو امريکايانو سپينې ماڼۍ هم دطالبانو ددې اعلاميې تود هرکلی وکړاودايې وستايه ، د(تور اوباما دسپينې ماڼۍ)دې هرکلې په زباد ورسوله، چې دامارت اسلامي اهداف سوله ايز او دنړۍ ولسونو ته دحسن ارادت پيغام لري اوهم داچې طالبان ،لکه څنګه چې اشغالګرو (ترهګر!!!)بلل، محض تحکم او بلا دليله مدعی ده .

اسلامي امارت پخپله اعلاميه کې وويل چې :

داچې اسلامي امارت د نظامي مصلحت په بنياد د ښار د دفاع اوږده جګړه چې د مجاهدينو د ځاني تلفاتو او مهماتو د بې اغيزې مصرف باعث ګرځېده، د دغسې بې ګټې جګړې په عوض يې ښه وبلله چې د ښار د ساتنې په ځای د ښار په اطرافو کې خپل مواضع مضبوط او خپل بشري او تدارکاتي توان د راتلونکو اغيزمنو عملياتو لپاره وساتي نو ځکه يې مجاهدينو ته د ښار له څلور لاريو، مارکيټونو او دولتي ودانيو څخه د عقب نشينۍ امر وکړ.

موږ ټولې نړۍ او خپل مجاهد اولس ته ډاډ ورکوو، لکه څرنګه چې د کندز مجاهدينو د امريکايانو او داخلي ګوډاګيانو ځانګړي ځواکونو له هوايي ملاتړ سره سره په بيا بيا له ښاره وايستل او څو ځله يې د هوايي ډګر تر ترمينله وځغلول، همدا اوس هم مجاهدين کولای شي چې د الله تعالی په مرسته کندز ښار تر خپل بشپړ تصرف لاندې راولي او دښمنان يوځل بيا تيښتې ته اړ باسي.

د کندز ښار له بازار او دولتي ودانيو شاته تګ يوازې دجهادي مصلحت له امله شوی چې ستر غرض پکې د ملکي خلکو له بمبار څخه محفوظول او په اوږده بې اغيزې دفاعي جګړه کې د جهادي بشري ځواک او مهماتو د ضياع مخنيوی دی............

له ښه بخته چې دادی نن همدا نيوالګرطالبان دخپلو پرونو څرګندونوخلاف يوقوت بولي او ترهګر ورته لدې امله نشي ويلای چې دا ادعی ثابتولای نشي .

دې خبره کې هم کوم شک او تردد ندی پاتي ،چې ددومره سترو قربانيو او دربدريو سربيره بيا هم طالبان يو داسې ځواک پاتي دی، چې نن يې پخپله ملګري ملتونه او امريکايان هم مني او پدې معترف دي، چې دطالبانو قوت ،نن يو ځل بيا د(۲۰۰۱ز)کال ته ورګرځيدلی او نن بيا دوې دومره ستر قوت دی ،چې کولای شي، دځو ساعتونو په ضرب کې دکندز غوندې ستراتيژيک سوق الجيشي- ولايت ونيسي- او دشمال غوندې هغومناطقو کې چې امريکايانو په مصؤني سيمي بللې دنور هيواد په شان دخپلي توري تر بريښ لاندې راولي !

له مخکني وختونو خلاف اوس دا تمه له هر چاسره ځو واري زياته شوې ،چې هغه شيبې رانږدې شوي ،چې هيواد کې اسلامي شريعت پلی شي او يرغلګر کفار او مزدوران يې دواک له ګدی ليرې شي،په همدي هيله او تلوسه چې يو ځل به بيا دا ځوريدلی قام دخپلو ارمانونودتکامل شيبې په سترګو ووينې او دشهيدانو هيلې به يې پوره !!!

انشاءالله تعالی

یوه هیله

حنيف باسولی

ی زما پاکه پالونکيه مهربانه
يوه هيله مې ده زړه کښې له پخوا نه

کړاوونه افغانانو ډير زيات تير کړل
حوصله، صبر کې کلک وو له هر چا نه

ډيري سختې د ژوندون ورباندې راغلې
د هدف لاره کې هيڅ نه شول ستومانه

له هرخوا نه تاړاکونه په دوی وشول
څوک راغلي وو له زمکې څوک هوا نه

سرکاسه کې يې انګريز ته اوبه ورکړې
خپل تيري باندې ئې ډير کړلو پښيمانه

بيا پرې وارد سرو وحشي روسيانو راغی
ورک يې نوم د شوروي کړو له دنيا نه

لا تپو نه يې د روس، انګريز روغ نه وو
ګوزارونه اوس سخت خوري له امريکا نه

دا به هم لکه د تيرو را چپه کړي
کړي به خلاصه دا نړی له دې بلا نه

فغانان په اتفاق او هم يې پوی کړې
د دې هيلې سرکيده غواړم له تا نه

د حنيف باسولي هيله که پوره شوه
يا الله خله به يې ډکه وي ثنا نه

دسترو فتحو لړۍ دوام لري

أبوعابد

د ۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم د میاشتې ۱۲ مه نیټه ده، د کورنیو او یوشمیر نړیوالو رسنیو مخونه په دې سرخطونو ډک دي، په سرپل کې د ۱۰۰ تنه پولیسو له تسلیمۍ وروسته د کوهستاناتو مهمه ولسوالي طالبانو ونیوله. د هلمند نوزاد ولسوالي کلابنده او د سقوط په ژۍ ولاړه ده. په کندز کې د اربکیانو تر واک لاندې یوازینۍ پاته سیمه اقتاش د طالبانو لاس ته ولوېده. د کونړ په مروره ولسوالۍ کې طالبانو ۸ پوستې فتحه او پراخې سیمې ونیولې او …

دا خبرونه اوس د رسنیو ورځنۍ ورد ګرځېدلی، پخوا هم د افغانستان له لراوبر څخه د مجاهدینو د بریدونو او بریاوو راپورونه ورکول کېدل، خو په دې وروستیو کې د افغانستان په ټولو سیمو کې جګړې کاملا یو بېل شکل غوره کړی دی، دولسوالیو سقوط، د دښمن د لویو قرارګاوو او غونډونو تسلیمي، د ډلې ډلې اربکیانو تسلیمي او د جهاد په پلوی اولسي قیامونه هغه څه دي چې په افغانستان کې روان جهاد یې نوي پړاو ته داخل کړی دی.

په تېرو څو اونیو کې چې د دغسې سترو فتوحاتو او جهادي بریاوو بېلګې وړاندې نو څو پېښې یې داسې راخلاصه کولای شو.

د روان ۲۰۱۵ میلادي کال د جولای په دریمه د میدان وردګو په جلریز کې د اربکیانو ۱۴ پوستې فتحه تر ۴۰ زیات اربکیان قتل او ټولې وسلې او مهمات یې مجاهدینو ته غنیمت پاته شول، دغه اربکیان چې د کابل او بامیان تر منځ د لارې د امن ساتلو لپاره ګمارل شوي و، د مجاهدینو په ستر برید کې په بشپړه توګه له منځه لاړل چې د کابل رژیم خصوصا د حزب وحدت ډلګۍ ته یې سخت ټکان ورکړ.

د جولای په شپږمه د فاریاب په پښتون کوټ کې مجاهدینو په یوه ستر برید سره د دښمن شپږ پوستې فتحه کړې او ډېرې سیمې یې د دښمن له شتون څخه تصفیه کړې، په همدې ورځ د همدې ولایت په قیصار کې هم مجاهدینو یو مهم بازار او ۸ کلي له دښمن څخه ونیول او د دښمن پوستې او عسکر یې د سیمې پرېښودو ته اړ کړل باید وویل شي چې فاریاب هغه ولایت دی چې د بغلان، کندز او بدخشان غوندې په روان کې ګڼ مهم جهادي فتوحات په کې ترلاسه شوي دي.

ددې پېښې په سبا د جولای ۷ مه د هلمند په کجکي کې مجاهدینو د دښمن درې پوستې فتحه کړې او لوی مقدار مهمات او وسلې په لاس ورغلې، د جولای په ۱۲ نیټه مجاهدینو د هیواد په مرکزي ولایت بغلان کې د ډنډ غوري ولسوالۍ مربوط د ګورکند مهمه پوځي قرارګاه فتحه او په کې مېشت پوځیان یې تېښتې ته اړ کړل دا په دې ولسوالۍ کې د دښمن وروستۍ پوځي مرکز و چې په سقوط سره یې په دې ولسوالۍ کې دولتي واک ته د پای ټکی کېښودل شول. د جولای په ۱۳ مه مجاهدینو د فاریاب په شیرین تګاب کې د دښمن ۲۲ پوستې فتحه کړې او ۴۰ کلي چې پخوا د اربکیانو تر تسلط لاندې وي

تر واک لاندې راوستل له دې پیښې دوه ورځې وروسته د همدې ولایت په المار ولسوالۍ کې مجاهدینو د دښمن ۱۲ پوستې فتحه او ۴۲ کلي یې د دښمن له واک څخه وایستل، د المار په نیول شویو سیمو کې یوه هم د قرایي په نوم ستراتیژیکه سیمه چې نیولو یې حکومت سخت وارخطا کړ ځکه له دې سیمې مجاهدین کولای شي په اسانه د فاریاب مرکز میمنه ښار تر برید لاندې ونیسي.

د جولای په ۲۵ نیټه د بدخشان په وردوج ولسوالۍ په تیرګران سیمه کې د دښمن یوه ستره قرارګاه په مکمل ډول مجاهدینو ته تسلیم شوه، په دې پیښه کې ۱۲۰ تنه عسکرو وسلې مجاهدینو ته وسپارلې چې په دې وسلو کې ۱۰ میله پیکا ماشیندار، ۱۰ قبضې آر پي جي راکټ، ۹۰ میله کلاشینکوف، ۳ میله دهشکې، ۲ پایې هوان او یو توپ، له پریمانه مرمیو، مهماتو، نظامي توکو او ګڼو عراده جاتو سره شامل.

له دغې قرارګاه سره د دښمن ۶ پوستې هم ونیول شوې، او د سیمې ۱۲ لوی کلي د دښمن له وجود څخه په بشپړه توګه پاک شول.

په وردوج کې د بشپړې قرارګاه سقوط حکومت له بشپړ حیرت او وارخطایي سره مخامخ کړ په پوره سپین سترګۍ یې د دې خبرې له منلو انکار وکړ او د بدخشان چارواکي یې له دې امله وګواښل چې ولې یې دا خبره رسنیو ته منلې ده.

د وردوج د قرارګاه سقوط په دومره ستره کچه د عسکرو د وسلو غورځولو لومړۍ پیښه وه، خو له دې پیښې دوه ورځې وروسته د جولای په ۲۷ ورته پیښه د سرپل ولایت په کوهستانات ولسوالۍ کې هم تکرار شوه په دې سیمه کې ۱۰۰ تنه اربکیانو په اتفاق سره ارخ بدل کړ، د حکومت له ملاتړ څخه یې لاس واخیست خپلې وسلې یې مجاهدینو ته وسپارلې او خپل تر ولکه لاندې کلي او مناطق یې هم د مجاهدینو په واک کې ورکړل له دې موقعیت څخه په استفاد مجاهدینو د کوهستانات ولسوالۍ په مرکز برید وکړ او یوه ورځ وروسته یې دغه ولسوالي په بشپړه توګه فتحه او د حکومت له واکه وایستله.

د کوهستانات ولسوالۍ په فتحه کې مجاهدینو د نورو ډیرو غنایمو تر څنګ له دښمن څخه ۱۳ عرادې پوځي موټر هم نیولي دي، باید ووایو چې له دښمن څخه نیول شوې وسلې مهمات او په خاص ډول پوځي او زغره لرونکي وسایط د جهادي عملیاتو په مؤثریت کې لوی رول اداء کړی دی.

د سږکال په سترو فتوحاتو کې چې له دښمن څخه ګڼې ولسوالۍ او پوځي مراکز ونیول شول، مجاهدینو لسګونو عرادې هغه پوځي موټر هم غنیمت کړي چې په درنو وسلو سمبال دي او د خفیفه وسلو په وړاندې مقاومت کوونکي زغرې لري، د جولای په ۲۸ نیټه چې مجاهدینو د کندز په ولایت کې د اربکیانو وروستۍ سیمه اقتاش چې ۶۵ کلي په برکې نیسي فتحه کړه، دغه راز یې په قلعه زال ولسوالۍ کې هم د پام وړ پرمختګ وکړ، حکومتي ویاندانو وویل چې مجاهدینو له هغو زغروالو وسایطو او درنو وسلو څخه استفاده کړې چې د چهاردرې او دشت ارچي په فتوحاتو کې یې نیولې وې.

همدا اوس چې دا کرښې لیکم د هیواد په ختیځ کې د کونړ مروره ولسوالۍ او په جنوب کې د هلمند نوزاد ولسوالي د مجاهدینو تر درنو بریدونو لاندې او حکومتي ځواکونه په کې محاصره دي چې په غالب احتمال به سقوط وکړي، له دغو سترو فتوحاتو څخه ښکاري چې په هیواد کې جهادي بهیر د فتحو او بریاوو یو نوي پړاو ته داخل شوی دی چې ورځ تر بلې زور اخلي.

رحمه الله

ملا محمد عمر مجاهد

خپل ولس او مسلمان ملت ته څه وکړل؟

کومه ورځ چې ددې لیکنې دپوره کېدلو او مسئول مقام ته دوراستولو وه هغه ورځ تېره شوې خو ما عاجز پرې ایله نن پیل وکړ؛نه غفلت و، نه بې غمي وه او نه بل کار له دې زیات مهم و خو دا چې لیکنه دزماني دهغه ستر شخصیت په اړه وه چې دکارنامو اتلولیوو او شاهکاریو ودرول شوي مناورونه یې تراسمانه رسېږي نو په اړه یې ما په خپل کم استعداد؛کوچني زړه او کمزوري قلم دڅه لیکلو هیڅ جرأت نه شو کولای؛دا هیڅ مبالغه نه بلکه حقیقت دی چې زموږ مرتبه او درجه له هغه ډېره ټیټه ده؛ نو څمکه به داسمان لویوالی او لوړوالی څه معلوم کړای شي او څه به پرې نور پوه کړای شي؟

دکوم شخصیت سره مې چې مینه کول لوی عبادت ګڼلو او پدې مینه نن هم ویاړم او دخدای تعالی نه پرې دستر اجر تمه لرم دداسې شخصیت وفات او ابدي فراق زړه ته ورکوزول او دحفظه الله تعالی پرخای ورسره رحمه الله تعالی لیکل اسان کارندی؛دزړه د حال نه یواځې الله تعالی خبر دی؛ څه چې پرې تېرېږي بیان یې له توان نه وتلی دی ؛خوداچې په اړه یې یو څو ټکي لیکل هم دعشق غوښتنه ده نو پرخان یې فرض او دامیرالمؤمنین رحمه الله قرض بولم نو مې ترې انکار هم ونه شو کړای ؛نن مې خپل مات قلم راخستی؛ دالله تعالی نه دسمو ټکو دلیکلو توفیق غواړم او دا چې پرې داجر ګټلو تمه لرم نو همدا کمزوري هدیه دامیرالمؤمنین رحمه الله تعالی سپېڅلي روح ته ډالۍ کوم.

هو! امیرالمؤمنین ! دا ډېره کوچنۍ ډالۍ ده ته دډېر څه حقدار وې او ستا موږ ډېر پوروړي یو

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد! نن چې پراسلامي نړۍ مسلط حاکمان دسیکولرزم خونړي سېلاب لاهوکړیدي په ټولې نړۍ کې یوازې تاسې واست چې د منبر او محراب له ډګره راپورته شوې اوخدای داهمت درپه برخه کړچې دیومسلمان رهبر په صفت مو هم خپل نظام د خالصو اسلامي اصولو مطابق جوړ کړاوهم موسیاست بېرته اسلامي کړ، په سیاست او نظام کې مود سیکولریزم او نوروکفري نظریاتو مداخله رد کړه اونړۍ ته مو یو ځل بیادا ثابته کړه چې مسلمان که وغواړي هم په خپل شخصي ژوند کې مسلمان کېدی شي او هم له معاصرو کفري نظریاتو او

اصولو ليري خپل نظام اسلامي کولی شي.

ملا محمدعمر مجاهد!تاسې د يوه رښتيني مسلمان رهبر په حيث نه د کفري نړۍ له لويو ځواکونو نه وه وېرېدئ ، نه له نوي نړيوال نظام اود ملګرو ملتونو د کفري قوانينو نه مرعوب شوئ نه دنړۍ دسترو طاغوتونو سره په کوم کفري نظامي يا سياسي تړون کې شامل شوئ ، نه موغرب او يا شرق ته دځان نږدې کولواوخپل واک ته دطول ورکولو په مقصد په خپل نظام کې پردي معيارونه مراعت کړل، او نه موهم د چا سياسي، اقتصادي او نظامي بنديزونو او تهديدونو ته سرټيټ کړ.

داهرڅه دسادګۍ او د معاصرې نړۍ له سياسي وضعيت او حالاتو نه دناخبرۍ له امله نه وولکه څيني پردي پالي او لنډ فکره خلک چې وايي؛ حقيقت دا دی چې هغه ساده او ناخبره نه وو، بلکې هغه يو رښتينی مسلمان رهبر و چې ددين دلاربښوونو اودشريعت داصل مزاج نه خبر؛ د اسلام په حقيقي روحيه سمبال او يو کلک شعوري مسلمان و چې په هيڅ صورت ورته په اسلام او اسلامي سياست کې پيوندکاري د منلوړ نه وه.

هغه يو ژمن مسلمان و، او پر دې يې عقيده درلوده چې لکه څنګه چې د مسلمان دين او عقيده اسلامي کېدل ضروري دي همداسې بايد د هغه سياست او نظام هم اسلامي وي.

سره له دې چې زموږتولنه مذهبي ټولنه ده اودهراشغالګرنه دهېواد په دفاع اوازادۍ کې دديني عالمانولويه ونډه ده خو دهېواد په سياست دسيکولرزم دعملي تسلط له امله لادکمونستي رژيم نه ورانديې علماء کرام دنظام اوحکومت نه لرې وو ؛په عملي سياست کې هيڅ ونډه نه ورکول کېدله او د هېواد د سياسي، عسکري او اجتماعي قيادت چارې له دين څخه ناخبرو او يا له دين څخه باغي اوياغي سياستوالو،عياشو، دين دښمنوجابرو بادشاهانو، په پرديو پورې ترلوفکري غلامانواو ليبرال فاشستانو په لاس کې نيولې وې.

دغو له دين څخه ياغي او پردي پالو حاکمانو په هېواد کې داسې نظام او قوانين رامنځته کړي ول چې د هغو په توسط يې زموږمسلمان ولس د ذلت، اختناق، سياسي استبداد ، ټولنيزې بې عدالتۍاو اجتماعي فسادسره مخامخ کړ؛ له دې وېرې چې نظام اوخودساخته قوانين يې له زوال سره مخ نشي۔ اود اسلام د حاکميت مخه ونيول شي دعلماوو اوصالحو عوامو پرضد يې نا اعلان شوې پټه بې رحمه جګړه روانه وساتله اوتل يې دوئ دتهديدونو اوفشارونولاندې لرلو لپاره ټول وسائل په کار واچول چې په نتيجه کې يې علماء او د دين د حاکميت لپاره کار کوونکي ټول ژمن مسلمانان له نظام او حاکميته لرې اود سياسي جريانونونه تجريد شول .

دا وضعيت نه يواځې پر افغانستان بلکې پر ټولې اسلامي نړۍ حاکم و او اسلامي سياسي احزابو او جريانو نوددې وضعيت نه د ولسونو اوهېوادونو دويستلو لپاره کوښښونه هم کريدي خوچې داکوښښونه د خالصو اسلامي انقلابي اقداماتو او جهادي ستراتيژۍ له لارې نه وونودپام وړ برياليتوب پکې چاته نه و ورپه برخه شوی اوځيني خولا ددېموکراسۍ له بهيرونو سره په ښلابښلو شکلونويوځای شول اوځانونو ته په حکومتونواو پارلمانونوکې په چوکيو پيداکولو راضي شول اومتأسفانه چې همدا يې کاميابي وګڼل .

خودلوی فراست مالک اودالله تعالی پرذات سترمتوکل ملا محمد عمر مجاهد داسې ونکړل ؛ د سيکولرزم ټول پر دين نه ولاړاصول او معيارونه يې ردکړل، اودشرعي لاربښوونواود فطرت دغوښتنوسره سم يې يې د نظام او سياست د چارو واګې ښړته علماوو

مجاهـدينو اودينـدارو وګـرو تـه ور وسـپارلې او نظـام او اداري لـه ديـن دښمنو عناصرو پاکې کړې.

په کـومې تـولنې کـې بـه چـې خلکوويل :ملا په حکومت څه پوهيږي ؟ په هماغه ټولنې کې مـلا محمـدعمر مجاهــد، ملااومجاهــد صــدراعظم ، رئيس الـوزراء ،لـوی درسـتيز، والي ، وزيـر، ولسـوال ، امنيــې قومنــدان ، قاضي، څارنوال، ولسوال، سياسـتوال، ديپلومات، ليکوال، اديب او مبصر جوړ کړ چې له امله يې د ملا او تـولنې تـر منځ پرې شـوې رابطـه بېرتـه داسـې وصل کړه چې بېرته پر پرېکولو يـې د نړۍ يوطاقت هم ونه توانېد که هر څو يې خپل ټول وسائل په کار واچول.

دهمدې ټينګې رابطې په برکت ټول نړيوال کفرماتې وخوړه ؛ مـلا اوطالـب دنړيـوال ښـکېلاک پرضـد جنګېږي اونـه يـواځې خپـل ولـس بلکې ټـول امـت يـې ترشـا ولاړدی نوهمداملامحمدعمرمجاهد دی چې په سياسي، فکري، او پوځي لحـاظ د امريکااونورلويـديځ پـه ګټـه يوقطبه شوې نړۍ يې بېرته داسې دوه قطبه کړه چې يـو قطـب يـې اوس دټـولې غـربي ټلـوالې اود سيکولر نظرياتو له خاوندانو جوړ

دی ، او بل قطـب يـې خرېرمجاهـد ،غريب ملا او د هغه فکر دی.

دملا دې فکراوشاهکاريو په ټولې نړۍ کـې داسـې يـوژمن مسـلمان او مجاهد نسل او يوه سياسي او جهـادي تيوري رامنځته کړه چـې ټولـه کفـري نړۍ يې سخته ورخطا کړه، ستر پوځي ځواکونه يې وننګول، اواوس په داسـې ځواک بدلېدونکی دی چې ټوله نړۍ به يې له مقابلې عاجزه وي.

د هغه لـه لاسـه دا هـر څـه پـه تصادفي ډول نـه دي تـر سره شـوي، بلکې د دې هر څه لپاره يـې همداسـې عزم درلود.

مسـلمانانو لــه اوږدې مـودې راهيســې د يــوه واقعــې او رښــتيني مسلمان حاکم نمونه نـه ده ليدلې لـه تېــرې اوږدې زمــانې راهيســې د خانداني موروثيت، يا د کودتاګانو، يا د پرديو لخوا په تحميلي شکل او يا هم د غربي ديموکراسۍ د انتخاباتو لـه لارې

واک تـه رسـېدونکي د اسـلامي نـړۍ تقريبـا ټـول حـاکمان دشرق يـاغرب داسـې فکـري غلامـان وو چـې خپـل سياسـت او اقتصـادي نظامونـه يـې دپـانګوال يااشـتراکي نظامونوتـابع ګرځولي وو؛ دين ته يې هېڅ التزام نـه درلودلو، اود مسلمانۍ تظـاهريې هـم يوازې دخپلو محکومو ولسـونو دتېـر ايستلو لپاره و.

په فکري لحاظ د اسـلامي نـړۍ دې سـيکولرحاکمانوبه د خپلـو ګټـو اودقدرتونودبقا او دوام لپاره هـر کـار روا باله ؛ شکل او صورت به يـې هـيڅ دمسلمان نه ښکارېدلواوپه عمل کې به هم دکفارونه کفرته زيات وفاداروواوپه تمامه معنـی بـه د پرديـو فرهنګونـو تمثيلوونکي وو.

خود اوسنۍ زمانې د حکامو بـر عکس ملا محمـد عمـر مجاهـد د يـوه رښتيني مسلمان حاکم نمونه و؛ د شکل او صـورت پـه لحـاظ لـه شريعـت او

افغاني اصيل دود سره برابرحاكم و؛ هغه په فكري لحاظ پريوپردي نظام يا قطب پورې ترلى نه وبلكې دملت په منځ كې له مسجد او محرابه راپورته شوى متدين او متشرع شخص و؛ دشريعت نه خبر ،د دين په تقاضا او روحيه پوه اودشريعت نافذولوته ژمن رهبر و.

سره لدې چې اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد يومثالي ځواكمن حاكم او يو قوي رهبر وخوهغه په خپل ځواک هيڅکله هم دغروربشكارشوى نه واونه يې دنړى دديكتاتورانوپه څېرتولې پرېكړې په يواځې ځان كولې هغه يومتواضع رهبراوحاكم و؛ هر وخت يې خپل تصاميم د شريعت له علماوو څخه د پوښتنې او له خپلو ملگرو سره د مشورې په نتيجه كې نيول، اودتولومهموپرېكړو لپاره به يې په اوونى كې يوځل دهمدې مشرانومسؤولينو اوعلماءوسره مشوره درلوده.

ملا محمد عمر مجاهد داسلامي نړى د اوسنيو نورو حاكمانو او سياستمدارانو په څېر د معاصرغرب د فريب نه ډكې سياسي فلسفې اومكاروسياسي فيلسوفانوپر نظرياتو باورنه درلود چې همدا يې داسلامي فكر او د اسلامي سياست د خالصتوب رازو؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلّم او د ابوبكرصديّق، فاروق اعظم، على مرتضى ، عثمان ذوالنورين رضي الله تعالى عنهم اونورو اسلافو كرنلاره يې د عقيدې او سياسي تفكر اصل سرچينه وه او د هغوئ ساده خو پوخ او اصيل فكريې خپله تگلاره گرځولې وه چې له همدې امله يې تر وروستى سلگى د شريعت التزام ته پرتولې دنيا اود د نيا د خلكو پر توصيو او فرمايشاتو ترجيح وركړه.

اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد چې دطالبانو داسلامي تحريک په نوم دكوم حركت بنسټ كېښود اوكابوترډوه لسيزو يې ددې حركت اوپه افغانستان كې دقائم شوي اسلامي امارت قيادت اومشري وكړه دې حركت ددېرې سترې ناهيلى په حالت كې ولس اومسلمان ملت ته هغه بې ساري لوى خدمت وكړچې چابه يې تصورهم نه شوكولاى.

دتجاوزگرو روسانو په مقابل كې چې په شوي جهاد اوهجرت كې افغانانوسخت كړاوونه وگالل ؛سترې قربانئ يې وركړې يو نيم مليون افغانان شهيدان شول او د افغانانو دمقدس جهاد او پكې د سترو قربانيو په نتيجه كې چې روسانو ماتې وخوړه نو دافغانانو او د نړئ د تولو مسلمانانو د هيلو سره سم دلته د عدل او امن نه ډک سوچه اسلامي نظام نافذېدونكى وخوله بده مرغه چې زموږ سركښانو دې لويو قربانيوته ونه كتل ؛د جهاد اهداف يې په نظر كې ونه ساتل او هغه څه يې وكړل كوم چې دنړيوال كفر ارمان و ؛ د قدرت په سر د څو حريصو څېرو د خپلمنځي اختلافاتو اوپه نتيجه كې يې په پلازمېنې اودهېواد په گوډ گوډ كې درامنځته شويوجنگونو له امله نه يواځې دا چې دې نظام تحقق و نه موندلو بلكې دمسلمانانو قتل عام وشو ؛ كورونه يې لوټې لوټې شول؛ دكابليانو په شمول په سونو زره هېوادوال بيا په هېواد كې دننه اودهېوادنه بېرون هجرت كولوته ارشول اوپر دې غريب ولس د شر او فساد نه ډک يو داسى حالت راغلو چې دولتي نظم بيخي له منځه ولاړ ؛ پرهېواد طوائف الملوكي مسلطه شوه ؛ هر زورور د خپلى قبضې لاندې سيمې باچا شو ؛ د هرو دوه ښارونو تر منځ دسرکونوپه سرډ غلو او لوټمارانو په سونو پاټكونه جوړشول ؛ افغان ولس د صحت او تعليم په شمول دژوند د تولو اسانتياو نه بى برخې شو او د هيچاځان ، مال او عزت خوندي پاتې نه شو .

په افغانستان كې په خطرناكې خپلمنځي جگړې كې دجهادي ډلو داخته كېدو له امله د جهاد عظمت د

خلکوپه سترګو کې راکم شو؛ دې ستر،کامیاب اوتاریخي جهاد ته کمونستانو او نېشنلستانو د فساد خطاب وکړ؛ عام ذهنیت هم ترډېره حده له دوئ متاثر شو؛ اسلام ته ژمنه توله حلقه اوپه ځانګړې ډول مجاهدین په نړۍ کې د یوې ناکامې ډلې په حیث وپېژندل شوه.

په افغانستان کې دروسانو دماتې سره سم دخلکو یقین ته پرېوتې وه چې نړۍ کې ټولې تیورئ ، فلسفې او ګروهې ماتې شوې ؛ پر نړئ دحاکمیت وار د اسلام دی او ټوله انساني ټولنه به ژغوري.

خوله بده مرغه چې کله تنظیمونه خپلو کې سره ښکرپه ښکر شول نو د اسلامي نظام په نوم داسې نظام رامنځته شو چې خلکو په هر نظام شکر وويست.

دا حالت به د هرې ورځې په تېریدلو له بد نه بدتر کېدلو؛ افغانان داسې پړاو ته رسېدلي ول چې په تاریخي لحاظ ترې د یوې سوبې تمه لرل خو ډېره لرې وه په خپل منځ کې ترې دسولې ټول امېدونه هم له منځه تللي وو نوځکه دښمن فکر وکړ چې دا خلک ګوندې پراګنده شول او وحدت یې دتل لپاره له منځه ولاړ.

داهغه وخت وچې تر ټولو ستر ګواښ چې دافغانستان دتجزیې ګواښ و دښمنه نړۍ ورته سترګې په لار شوه او ولې به نه وه چې په جنګ کې ښکېلو ډلوکې داسې لویې ناولې ډېرې خبرې وې چې دهېواد ویش ته یې ښه په سپین سترګۍ خوشالي ښکاره کوله اوپه زړونو کې یې دا ګوري اوشکرې ماتولې چې په واړه مساحت کې خو د ده په خېربې سواده شیان چې څوک بې په سروکې هم نه شمېري، وزیر کېدای شي.

هغه نړئ چې افغانانو د روسانو د ستر شر نه ژغورلی وه پکې یوهېواد هم داسی نه و چې پدې حالت کې یې افغانانو ته لاس ورکړی وای او یایې ددې بد حالت نه د دوئ د راویستلو لپاره کوچنی اقدام یا فکر کړی وای.

داچې دستر ګټل شوي جهاد نتایج اوثمرات ضایع کېدل نوپه دې حالت دنړۍ مخلص مسلمانان سخت زورېدل ځکه چې نه یواځې افغانانو ته بلکې دنړۍ ټولو مسلمانانو ته د افغان جهاد د نتایجو ګټل او ساتل مهم وو ؛ کله چې د روسانو له ماتې وروسته ځینې رهبران خپلو کې سره ونښتل د نړۍ لوی لوی علماء، دعات او خیرخواهان د دوئ د روغې جوړې لپاره لاس په کار شول ؛ پدې لارکې هغوئ ډېرتکالیف وګالل خوپه جنګ

کې اخته اړخونوجنګ ونه دروللو اونه پکې دجهاد دثمراتو اودامت داجتماعي سترو ګټو دساتنې څه فکر پیدا شو.

له هر لورې ناهیلي وه او دې غریب ولس هیڅوک داسی نه لیدلو چې دامېد سترګې یې وراړولی وای اونه یې یو فیصد دا تمه لرله چې ګینې د دې ستر ناورین نه به یوه ورځ راووځي اویابه پدې هېوادکې امن ، ثبات ، دولتي نظم اونظام بیاوجود ومومي له هر لورې ناهیلي وه

امیرالمؤمنین دسترې نا هیلی نه په یک همدې حالت کې د خپلو څو ملګرو سره یوځای ددې ستر شر او فساد پر ضد په یوکلي کې توره په لاس میدان ته راووت؛ هغه چې د ستر فراست نه برخمن ؛ د هېواد او ملت لوی غمخور، رښتیني مدبر، د همت غر او د جرأت ، حریت او قرباني سمبول و کوچنی ډلې ته یې الله تعالی په لږې مودې کې په قندهارکې ستره کامیابي ور په برخه کړه نو د افغانستان ټول حق پالونکي علماء او د دیني مدرسو طالبان ورسره یو ځای شول ؛ د طالبانو تحریک ترې جوړ شو چې ټول مجاهد ملت یې ترشا ودرېدلو اوهر شوم پلان یې پوچ کړ؛ هره بده حیله یې په شا وتمبوله ؛هر بد نظر یې له بېخه وکاږه اوهره ناکاره اراده یې په نطفې کې خنثی کړه .

نو له شکه وتې خبره ده چې هغه په ټولې نړۍ کې رښتونې جهادي روحیه ؛داسلامي سیاست بهرني اودننې حقیقي شکل او اصل اسلامي حکمراني بیا راوژوندۍ کړه نوهغه ددې حقدار دی چې دعملي جهاد عملي اسلامي سیاست اوحقیقي اسلامي حاکمیت ددې زمانې مجدد وګڼل شي.

هغه په جهادي تنظیمونوکې ویشل شوي ټول مجاهدین په یوصف کې ودرول اونه بدلېدونکي اصول یې ورته وضع کړل ؛ هېواد کې دروسانوپرضد ترسره شوي ښوارلس کلن جهاد نه وروسته دقومیت ،سمت او ژبې په نامه بل شوي اورونه یې مړه کړل او ټول افغانان، دهرقوم سره یې چې تړاو و اوپه هرې ژبې یې چې خبرې کولې ؛ دشمال وو،که دجنوب ،دختیځ وو ،که دلویدیځ، داسلامي امارت دیوبیرغ لاندې سره راټول او دپردیو په اشارو دبغض ، حسد او دښمنیوو بنسټ یې دتل لپاره له منځه یوړو چې دهمدې واحد صف دوحدت په برکت مسلمانان سرلوړي شول ؛ جهاد کامیاب شواودنړۍ دسترو زبرځواکونو نه جوړ لوی صلیبي اتحاد دشکست تر سرحده ورسېد اوپه واحد صف کې ولاړ همدامجاهدین نن دټولې نړۍ دمسلمانانو قائدین شول.

پرهېواد دژبني ،سمتي اوقومي تعصباتوراخپرې شوې ټولې تورې وریځې دملي اودیني وحدت پاک نسیم له دوشنبې اوتهرانه هم پسې ورواړولې ! دافغانستان د ویش هره دسیسه یې له منځه یوړه او قومي تړون یې دسپېڅلې عقیدې په داسې تار سره وتاړه چې هیڅکله شلېدونکی اوخلاصېدونکې ندی.

که دښمنانو دافغانانو ددې ملي وحدت نه پرون انکار کاوه آیا نن یې کولای شي؟ تاسې وګورئ چې په شمال کې مجاهدین د اسلامي امارت په اطاعت کې ددښمن پرضدپه کوم احساس جنګېږي او په کومه رشته سره تړلي دي ؟

دقدرت اوډالرو وږوچې پرون بیا د تجزیې سندرې پیل کړې اوپېدې دلیل د اشغال د دوام خبرې کېدلې څنګه به یې تکراروي چې ملت په اتفاق دتجزیه کارو ټولې دسیسې عملاً ورشنډې کړې او د هېواد په لر وبر کې دهرې ژبې ،هرې سیمې اوهرقوم سره تړاولرونکي مجاهدین سره په یوه مزي او واحد اطاعت تړلي د اسلامي امارت تراطاعت لاندې ددښمن پرضد په پوره مېړانې جنګېږي اولویې لویې سیمې غونډې غونډې ولسوالۍ ددښمن دقبضې نه ازادوي اوستر بیسونه اوفوځې مرکزونه ترې نیسي .

افغانانوپواځې هغه وخت خپل تاریخي ارزښت اومقام ساتلای چې کله یې دخپل ملي وحدت مظاهره کړېده او لاسونه یې سره ورکړي دي ؛ اتفاق اواتحاد چې نه وي بیا خو تاریخ د پول پرانانو ،جنګ سالارانواو پاټک سالارانو کیسې لیکي.

دتنظیمي جګړو ، رقص مرده اودخپلوعفتونودساتلو په موخه دکابل ښار دمکرویانو ددریمو او څلورمو پوړونو نه لاندې ځمکې ته دخپلو ځانونو راغورځونکو عفیفوخویندو د ناموسونولوټېدلو هغه داستانونه خوندي کوي چې د کمزورۍ زړه څښتن یې لوستلای هم نه شي . نوجاه طلبو ،دډالرو مینانوا ،دقدرت وږو او بې ارزښته خلکو چې په کوم وخت کې د دې مسلمان ملت د اسلامي وروروالي احساس دځپلو ؛ دتعصباتو خپرولو ، دملت دوېشلواود هېواد دتجزیه کولوله لارې زموږتاریخ کې توربابونه ورزیاتول ملا محمد عمرمجاهد په پوره جرأت اومتانت توره په لاس دهمدې بې وژدانوپه مقابل کې میدان ته راووت ؛ افغاني تاریخ یې نه نړېدو ته پرېښود او نه یې خرابېدو ته نوداپرځای خبره ده چې امیرالمؤمنین د

جهـاد اودافغـاني تـاريخ د عظمتونـو وارث و .

حقيقـت د ادی کـه د الله تعـالی فضل او احسان او بيا د ملا محمد عمر مجاهـد پـاڅون نـه وای نـو نـن بـه نه واحد افغانستان وای، نه بـه دلتـه دغه ډول مجاهدين ول، نه به امريکا او ناټو ماتې خوړلې وه، نه به مو ولـس د آزادۍ دغه ډول روحيه درلـوده، او نـه به مو په نړۍ کې د جهاد او سر لوړۍ بيرغ رپيدلو؛ که ملا محمد عمر مجاهد د امريکا او د هغې د ملګرو په خلاف د جهاد بيرغ نه وای پورته کړی،نو دتـل لپاره به د کمونستانو پيغور راپر غـاړه وای.

ملا محمد عمر مجاهـد رښـتونی مسلمان متوکل حاکم اودمحمود غزنوي حقيقي وارث ووچې په باميانو کې يـې دبودا دمجسمې په نړولو دشرک بتکدې اودبهرنيـانو دفحاشـی ادې پـه ډيـر جرأت له منځه يوړې؛ ددې دپاتې کېدو لپاره يې نه دچا پيسې قبـولې کـړې او نـه دمسـلمانانودا زړور مشرـ دکـوم شکيلاکي ملک له تهديدنه وويرېد.

هغه په فکري لحاظ په اسـلامي معنی د امت پر وحدت باور درلـود، او د خپل توان تر حده يې د امت د عمـلي يو کولو هڅه وکړه ؛ هغه د نړۍ ډيـرو جهادي ډلو او لويو شخصيتونو تـه د خپل نظام په غيږ کـې ځـای ورکـړ، هماغه دغربيې په شپو ورځو کې يـې هغوۍ ته دارتياوړوسائل او د هغوۍ د مهاجرينو لپار د عزتمن ژوند امکانـات برابر کړل، پدې ډګـر کـې هغـه ديـو ملامته کونکي پروا ونه ساتله او پـدې اړه يې د شرعي حکم او مسؤوليت پـه مقابل کې د هېچا خاطر داري ونه کړه، که هر څومره ورتـه دا کـار پـه درانـه قيمت هم تمام شو.

هغـه بـه دمسـلمانانو دوحـدت لپاره نورهم ډېرڅه کړي وای خـو کـه نظام يـې بـاقي پـاتې شـوی وای ؛ د نوري نړۍ مخلص مسـلمانان دهغـه دهمدې ارادونه خبر ووڅکـه خـوې خپل امير او رهبر ګاڼه.

هغـه رښـتيا چـې دمسـلمانانو قدردان حاکم و ؛ نړۍ ته يـې وښـودله چې يومسلمان څومره دقـدر وړ دی ؟! هغه ديوه عرب مسلمان مجاهـد شـيخ اسامه بن لادن رحمه الله تعـالی څخـه بشپړه ننګه وکړه اوپدې اړه يې دنـړۍ يوډول فشارته هم سرټيټ نکړ ؛ امريکا يي فرعونيت ته يې غوڅ منفـي ځـواب ورکـړ ؛ دخپلـې واکمنـۍ نـه تېرشـو خوداسلام داصولونه تېر نه شو .

هغه چې دغـربې زبرځواکونونـه ،نه وېرېدلو ، پرمسلمانانو دننګې خبره چې راغله دشرقـې نېـړدې زبرځـواک روسې يې هم څه پروا ونه ساتله اوکله چې چيچين دمجاهدينو په لاس فتحـه شو نوپـه يـوازې ځـان يـې دچيچـين اسلامي حکومت په رسميت وپيژنـدلو ؛ داهغه تاريخ جوړونکې کارنامه وه چې پـدې سره يـې دقفقـاز دمسـلمانانو ترڅنګ دټولې سـيمې مسـلمانانو کـې جهـادي روحيـات لـوړ اوپکـې يـې دجهادي پاڅون او خپلواکۍ اخسـتلو ساه پوه کړه .

لـه دې هيڅـوک انکـار نشـي کولای چې د جهاداوافغـاني تـاريخ دعظمـت وارث چـې کلـه دخپلوملګروطالبانو اوملايـانوسره يوځای توره پورته کړه او ميدان تـه راووت نو أيله چمن ماليار ومونـد ؛ پر خزان وهلـو څپـرو دبهارتـازګي خپره شوه ؛ هيلو بياغوټۍ ونيـوې ؛ دارمانونوغوټۍ ګل شوې ؛ دجهـاد نوم اومقام بيا احيـا شـو ؛ دبـلالي اذان انګازو افقونه بيا رابيدار کړل ؛ دممبراومحـراب آواز بيـا خپـل اثربشکاره کـړ ؛ ددينـې لاربښـوونو پيـروي عامـه شـوه ؛ داسـلامي شعايروقدرداني پيل شوه ؛د اسلام ، ملت ،خاورې اوناموس نه ددفاع په خاطر قربـان شـويو سرونـو قـدر پيداکړ ؛د اسلام دحاکميت په هـدف له نړۍ کوچېدليو روحونو ارزښـت وموند او هغو سرونو قيمت وکاتـه

چې د شریعت د نفاذ په کوښښ لــه تنو جداشوي ول.

په افغانستان کې اسـلامي نظـام راتلل چې دټول مسـلمان ملـت ارمـان وحاکم یې کړ او نړۍ ته یې دا وښودله چې موږ چې دکوم نظام راوستلو لپاره قرباني ورکړیده په نفاذ یـې قــادر یــو اوپدې لارکې دچا خنډ کېدل نه منو .

هو ! د سترو قربانیوو په نتیجــه کې دتېرجهاد ثمراتو تحقـق وموښـدلو اودې بې چاره ملت ته داسې د امـن او سوکالۍ نه ډک مثالي نظام ور په برخه شو چې په ټول عمر کې به افغانـانو د خپـل سر،مـال او عـزت د خونـديتوب داسې احساس نه وکړی لکه پدې نظام کې یې چې وکړ.

داسمه ده چې موږ لــه بـل هــر ولس نه زیات او ستر اتـلان لــرو او د هر یو اتلولي پــه خپـل ذات کـې ډېـره ستره ده خو که د انصاف په نظر وکتل شي نو د ملا محمد عمر مجاهد رحمــه الله تعالی دا اتلولي به زموږ پــه تـاریخ کې بې ساري وي.

اسلام او مسـلمانانو دلــه منځــه وړلو په موخه د امریکا په مشرۍ کــې رامنځتـه شـوی لـوی صـلیبي اتحـاد دانساني تاریخ هغه ترټولوستر اتحـاد و چې د نـړۍ بـل یوطاقـت یــې هــم مقابلې ته د راوتلو جرأت نه شـوکولای او ټول ورتــه تسـلیم وو ؛ ددې اتحــاد مقابلې ته راوتل خو ډېره لرې خبره وه هغه څوک چــې اوس بریتونــه تـاووي ددې اتحاد دنوم په اورېدوبه یې لینګي رېږدل خو ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ددې ستر اتحــاد پــه مقابـل کــې د استقامت د غر په څېر میدان کې ودرېد او د شرمونکې ماتې سره ددې اتحاد د مخامخ کولو پورې یې ددې پیل شــوي جهاد قیادت وکړ چې دا یقینا د نړۍ په سطحه بې ساري اتلولي ده .

دنړۍ په تاریخ کې ترټولو لــوی اوپه مــادي اوعسـکري وسـایلوترټولو سمبال اتحاد چې دوسـایلو پــه لحــاظ زموږدکمزورواودښمن په لحاظ زمــوږ دلږو لښکروپه مقابل کې ماتې خــوري دازموږلپاره بې حده لوی افتخـاردی ؛ که څوک لــه دې افتخارنــه انکـارکوي ،بایې دبې ارزښته کولوهڅې کوي اویا هم خپل افتخارپردی کوي دابه دخپـل تاریخ سره نه جبرانېدونکی داسې جفا وي چې ملت به یې هیڅکلــه هــم ونــه بښي .

ددې فـــاتح لښکرسرلښـــکرچې دومره لوی شخصیت دی چــې دټــولې اسلامي نــړۍ حقــاني علــماء ،پوهــان ،جهادي قائدین ، عام مجاهدین اوټــول مخلص مسلمانان یې خپـل اتـل بــولي ؛دیانــت ، عظمــت ، شــجاعت ، متانــت ،بصیرت اوکرامت ته یې سلام کــوي او دعقیدت نه ډک خوراعــالي الفــاظ یــې روح تــه بالــی کــوي نوهمــدامو ددې وخت دی چې په کوردننــه ټــولې ورېې خبرې شاته کـړو اوځرنګــه یــې چــې اسلامي نړۍ غوارې همداســې یــې لــه هېواده وباسو اونړیوال یې کړو .

هو ! هغه نړیوال دی اوتاریخونه به یې نړیوال بولي ؛دکوم مقاومـت پــه نتیجه کې چې امریکــا اومتحــدین یــې مات اوټوله نړۍ یې له شرنه محفوظــه شوه ، ددې مقاومت قیادت چــې دمــلا محمدعمرمجاهد پــه غــاړه و نــو هغــه یقیناً ددې حقــداردی چــې یــاده ټولــه نړۍ یې خپل اتل وبولي.

ستراحمدشاه بابا ،محمودغزنوي شهاب الدین غــوري اومیــرویس نیکــه افغانان وو خو ټولــه نــړۍ منــي چــې تاریخي حیثیت یې نړیــوال و ، دنــړۍ پــه تــاریخ کــې قــدرمن امیرالـمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمــه الله تعــالی هم داستقامت ، حق پالنې ،خداپرستۍ، زړوتیا ،دیانت دارۍ ، په وعدو دوفــا ، په خپلې حقې خبرې دټیـګ ودرېـدلو، امانت دارۍ ، شریعت پالنې پــه خپـل ولــس دزړه ســوي اوتــرحم ، دټــول مسلمان ملت سره دخواخــوږۍ ، بشر- دوستۍ ، ددښمن په مقابل کې دمتـین عزم لرلو اوپواځې دالله تعـالی پـرذات دتوکــل داســـې زریـــن بابونـــه جوړاوراتلونکې تاریخ کې یــې ځانتــه

دومره لوړ ځای پریښود ،چې دنړۍ په سطحه دسترومسلمانو اتلانو غونډې به یې مسلمان ولسونه ترقیامته پـه تاریخ جوړونکو کارنامو ویاړي .

داکارنامې دومره لـویې اوزیـاتې دي چې دا اندېښنه شته چې په تـاریخ کـې ثبـت شـوي زیـاتره شـیان شایدراتلونکي نسلونه مبالغه یاخیـالي کیسې وګڼي څکه چې دادومـره دیـرې کارنامې اودا دومره دېـرې شـاهکارۍ اواتلولۍ عادةً په یوانسان کې خلکو تـه ناشوني ښکاري ،خوهغـه چـې عـام انسان نه و؛ څښتن تعالی لوی عظمـت اوکرامت ورکړی و واقعیت به همدا وي چـې دادومـره ښـیګنې ،اتلـولۍ اوشـاهکارۍ دهمـده پـه وجـود کـې نغښتې او دهمده په لاس تـرسره کـړې وې .

نومحترمو افغان مؤمنو لیکوالانو ،څېړونکو ،ادیبانو د اسلامي فکـر او د جهـاد د فکـري او فرهنګـي سـنګر ساتونکو اوعامومسلمانانو! راځۍ چـې دسـمتي ، قـومي ،تنظیمـي ،ژبنیـزو اونوروتعصباتوهنداري له سترګو لـرې کړو ؛دملا محمـد عمرمجاهدرحمـه الله تعالی دشخصیت په اړه دانصـاف نـه کارواخلو؛ د دې عظیم انسان د ژوند د بیلا بیلو اړخونـو پـه راسـپړلو او پـر اسلامي فکر او سیاست د هغه د تـأثیر پـه برجسـته کولـو خپـل فرهنګـي اوتـاریخي مسـئولیت اداکـړو او د دې لوی شخصیت تاریخ مخکې لـه هغـې تدوین او توثیق کړو چې د غربي اسلام دښـمنواداړو، اشـخا صـواودکفر دغلامانوله لـوري پـه مسـخ شـوې او تحریف شوې شکل راتلونکـو نسلونو ته وړاندې شي.

دسترامیرالمؤمنین وفات یقیناً چې دېره ستره حادثه او ویرجنه پیښـه ده خـو ددې طبعـي سـتر غـم سره د اطمینـان نـه ډک او دمعنـوي خوښیداخبره مل ده چې امیرالمـؤمنین رحمه الله تعالی له نـړۍ سـترګې پټـې کړې خو د صلیبي اتحـاد لـه لـوري د هېواد د اشغال نه وړاندې او د اشـغال نه پس یې دښـمن تـه دیـوې کـوچنۍ لمحې لپاره هم سرټیټ نکړاو نه یـې پـه خپل عمر کومه داسې کوچنۍ خبره یـا حرکت وکړ چـې د افغانـانو پرتـاریخ تورټکی شي بلکې هـره خـبره او هـره کړنه یې تاریخ جوړونکې وه .

کفـري نـړۍ خـو کفـري ده پراسلامي نړۍ مسلط کابوتول حاکمان چې تـاریخ شرمـونکي دي نـو دامیـر المـؤمنین دهمـدې تـاریخ جـوړونکی شخصیت سره دنړۍ نه تلل دمسـلمان ملت لپاره ډېره دخوښـۍ اوافتخـار وړ خبره ده .

دامیرالمـؤمنین رحمـه الله پـه اړه ددښمن ناکامي هم دمجاهـد ولـس او ټول مسـلمان ملـت لپـاره دډېـر سـتر اطمینان خبره ده.

هو ! هغه چې د هېواد نه د یـوې ورځې لپاره هم بېرون ونه وتلو خو بیا یې هم داخلي او خارجي دښمن سره له ټولو کوښښونو پـه ژونـدي نیولـو یـا وژلو ونه توانېد ددښـمن دا ناکـامي او دخپـل امیـر پـه اړه ددې سـترغم نـه دمسلمانانو بچ کېدل د ټولو مسلمانانو لپاره د ډېره دخوښۍ خبره ده .

حقیقت دادی چـې مسـلمانانوبه دهغه لپـاره داوړد ژونـد دغوښـتلونه وړاندې د دښمن نه دحفاظت دعاګـانې کولې ؛ ددښمن پرلاس دهغـه شـهادت یایې ژوندي نیول کېدل دمسلمان ملـت لپاره بیخي دزغم نه وتلی خبره وه چې دملت ټول تشویش هم په همـدې اړه و نوټول ملت چې پروفات سخت غمجـن دی ترځنګ یې ددښمن نه په حفاظـت ټول دېرخوښ وو اوزما په شمول ټولـو دحال په ژبه ویل :

ښـــه دی چې وار دګـــلو تېـــرشو
مدام به یې غم درژېدو راسره ونــه

د کندز تاریخي

او ویاړمنې فتحې ته کتنه

ابوعابد

کندز دافغانستان په شمال کې موقعیت لري چې ختیځ ته یې تخار ، جنوب ته بغلان ، لویدیځ ته بلخ او شمال ته یې دګاونډي هیواد تاجکستان حدود پراته دي ، کندز ولایت چې ۸۰۴۰ مربع کیلومتره مساحت لري نفوس یې دوروستیو شمیرنو له مخې تر یو ملیون زیات ښودل شوی چې څه باندې دوه لکه وګړي یې په مرکزي ښار کې اوسیږي .

کندز ولایت په مرکزي ښار سربیره د امام صاحب، چاردرې ، قلعه زال ، علي اباد ، خان اباد او دشت ارچي په نومونو شپږ ولسوالۍ لري ، دکندز اوسیدونکي پښتانه ، تاجک ، ازبک ، ترکمن ، ایماق او هزاره افغانان دي .

کندز ولایت دهندوکش دنورو شمالي سیمو غوندې یو زرخیزه او زراعتي سیمه ده ، چې تر ۷۰ فیصده ډیر خلک یې په زراعت بوخت دي ، غنم ، وریجې ، پنبه او ختکي دکندز دولایت مهم زراعتي تولیدات بلل کیږي ، چې دهیواد په سطحه له ښه شهرت څخه برخمن دي ، کندز پخوا دغوړیو او دپنبې دحلاجۍ فابریکې هم درلودې ، دغه راز په دې ولایت کې دغالیو کاروبار هم ښه نوم لري.

د کندز مرکزي ښار دمجاهدینو په واک کې

دکندز مرکز ي ښار چې دافغانستان په شمال کې تر مزارشریف وروسته دوهم ستر ښار بلل کیږي او دافغانستان په سطحه شپږم تر ټولو ستر ښار دی. دغه راز د شمال ختیځ افغانستان دروازه او مهم تجارتي او د دښمن سوق الجیشي- مرکز دی د روان هجري شمسي- کال د میزان د میاشتې په شپږمه نیټه د اسلامي امارت مجاهدینو فتحه کړ.

مجاهدینو د دوشنبې په سهار وختي د میزان په شپږمه د کندز په ښار له څو اړخونو بریدونه پیل کړل،د رسنیزو راپورونو او عیني شاهدانو د وینا له مخې د مجاهدینو پرمختګ ډیر منظم او سنجول شوی و، د برق آسا پیشرفت په ځای یې قدم په قدم پرمختګ کاوو، د ورځې په نیمایي کې مجاهدینو یوه شیبه خپل پرمختګ ورو کړ، دولتي قواوو او د کندز چارواکو د طالبانو دا توقف خپله لویه بریا وبلله او اعلان یې کړه چې طالبان یې د کندز له ښاره تمبولي وي، خو وروسته معلومه شوه چې د طالبانو دغه توقف تاکتیکي و، شاید د اکمالاتو ، دمې اخیستلو یا بل هدف لپاره شوی و، ماسپښین درې بجې طالبانو بوخل بیا په دولتي قواوو ناځاپي تندریز برید وکړ، د ښار امنیتي کلابند یې مات کړ اود کندز واټونو ته ننوتل، د ملکي روغتون، کرنې او مالداري ریاست او ګڼو نورو دولتي اداراتو په شمول یې د کندز یو شمیر مهم دفاتر ونیول، له همدې شیبې د کندز په ښار کې کوڅه په کوڅه جګړه او تصفیه پیل شوه، چې دتر قضاء ماښام طالبانو د محاکمو، د کندز محبس ، امنیه قومنداني ، ولایت مقام، د ملي امنیت

ریاست او نورو دولتي دواترو په شمول نړدې ټول ادارات ونیول شول او دولتي خواکونه یې د ښار به بالاحصار او هوایي ډګرکې کلابند کړل چې وروسته په بالاحصار کې کلابند عسکر هم ټول تسلیم او خپلې وسلې یې مجاهدینو ته وسپارلې.

د کندز له عملیاتو مجاهدینو څه ترلاسه کړل؟

د کندز له عملیاتو سره هم مهال مجاهدینو په ټول شمال ختیځ افغانستان او ځینو مرکزي ولایاتو کې عملیات پیل کړل دغه راز یې په کندز کې هم ډېرې بریاوې او غنائم د خان کړل د کندز له فتحې د مجاهدینو لاسته راوړنې په لاندې ډول را خلاصه کولای شو.

۱ ــ د کندز مرکزي زندان چې سلګونه تنه مجاهدین او یا د جهاد په نوم نیول شوي مظلوم اشخاص په کې بندیان و د دې عملیاتو یو مهم هدف و لله الحمد د عملیاتو په لومړۍ ورځ دغه زندان د مجاهدینو تر واک لاندې راغی او سلګونه تنه محبوسو مجاهدینو ته نجات ورکړل شو.

۲ ــ کندز چې د شمالي او شمال ختیځو ولایاتو لپاره ددښمن یو مهم سوق الجیشي- او د قومندې مرکز بلل کیږي،مجاهدینو وکړای شول چې ددې مرکز تر برید لاندې نیولو او مشغولولو سره د کندز ، بغلان، تخار او بدخشان په ولایاتو کې پراخې سیمې په ډېرو کمو تلفاتو او معمولي عملیاتو سره فتحه او ددښمن له شتون څخه پاکې کړي، په دې لړ کې په بغلان کې د تاله وبرفک ولسوالي، د مرکزي بغلان او پلخمري په مربوطاتو کې لسګونه کلي،د تخار د اشکمش، ینګي کلا او خواجه غار ولسوالۍ ، د بدخشان د وردوج او بهارک ولسوالۍ او خپله په کندز کې د امام صاحب ، قلعه زال او چاردرې ولسوالۍ مکملې او د علي اباد ولسوالۍ ډېرې سیمې د ددریو ورځو په جریان کې د مجاهدینو لاس ته ولوېدې چې په دې ټولو ولسوالیو کې لسګونه پوځي موټر، سلګونه میلې سپکې او درنې وسلې او لوی مقدار مهمات هم مجاهدینو ته په لاس ورغلل چې د فتحو دغسې مسلسل بهیر پخوا نه و لیدل شوی.

۳ ــ د کندز ښار په عملیاتو کې مجاهدینو سلګونه عرادې مختلف پوځي وسایط، ټانګونه ، توغندي ویشتونکي، په ټنونو د سپکو او درنو وسلو مهمات او په دې سربېره د ملي امنیت د ریاست او نورو امنیتي ادارو د اسنادو ارشیفونه او نور ډېر غنائم ترلاسه کړي دي، چې په باور سره ویلی شو چې ددې عملیاتو لاسته راوړنې به په راتلونکي کې د مجاهدینو په ګټه د نظامي وضعیت په تغیر کې مهم رول اداء کړي. ان شاءالله تعالی

په کندز او ټول شمال ختیځ افغانستان کې لوړ فتوحات مجاهدینو په ډېرو کمو او تقریبا د نشت برابر خاني تلفاتو سره ترلاسه کړل،چې د عملیاتو د دقیق پلان په برکت په دې ټولو جګړو کې دملي تلفاتو کچه هم ډېره ټيټه وه.

د کندز جګړې کوم حقائق روښانه کړل؟

هغه حقائق چې د کندز له څو ورځنۍ معرکې څخه راښکاره شول په لاندې ډول یې خلاصه کولای شو.

۱ــ طالبان یوه کمزورې یا ګریزي چریکي ډلګۍ نه بلکې یو منظم او د حکومت په وړاندې موازي جنګي صف دی، چې کولای شي د هیواد شپږم لوی ښار په ظرف د څو ساعتونو کې فتحه کړي.

۲ــ دولتي ځواکونه تر اټکل زیات کمزوري ، بې روحیې او تښتېدونکي دي، چې د پایدار مقاومت او موضع ګیرۍ تاب او تجربه نلري بلکې یو معمولي تعرض یې هم په تیښته مجبورولای شي.

۳ــ د کندز پېښې ثابته کړه چې د اسلامي امارت د کلیو غونډې په ښارونو کې هم پراخ ملاتړ له خان سره لري، د کندز عامو ښاریانو د طالبانو دروند استقبال وکړ ، هغوی یې په غیږ کې ونیول او په خندانو څیرو یې ورسره سیلفي انځورونه واخیستل .

۴ــــ دا خبره ثابته شوه چې طالبان د پخوانیو تنظیمي مجاهدینو غونډې ټولاسه او خپلسري نه دي چې

ښارونه له سقوط وروسته د غنیمت په نوم لوټ او تالان کړي، طالبانو نه یوازې د ښار امنیت او شتمنۍ وساتلې بلکې د هغو حکومتي فرصت طلبو مخه يې هم ونیوله چې غوښتل يې له ګډوډۍ په استفاده عامه شتمنۍ لوټ کړي.

۵ ـــ د کندز جګړه د مجاهدینو د ښاري جګړې لومړۍ تجربه وه دې بریا ثابته کړه چې مجاهدین لکه څنګه چې په کلیو، غرونو او دښتونو کې د پارتیزاني او چریکي جګړې پخه تجربه لري او دښمن ته په کې شکست ورکولای شي د ښاریزې کوڅه په کوڅه جګړې په میدان کې هم بریالۍ طرحې پیاده کولای او خپل پوځي اهداف په بریا سره د خان کولای شي، د کندز جګړې د ښارونو د فتحه کولو په چاره کې د مجاهدینو ورتیا ثابته کړه او دا د هغه اجیر حکومت لپاره چې حاکمیت يې یوازې په ښارونو پورې منحصر دی جدي خطر بلل کېدای شي.

٦ـــ په کندز کې چې کله د داخلي عسکرو خوابې عملیات پرلپسې ناکام شول، نو امریکايي خواکونو او الوتکو په ښار درووند برید وکړ، امریکايي پوځیان د کندز ښار په مختلفو ساحو کې پیاده شول . دې پېښې وښودل چې د اوباما لخوا د افغان جګړې د پای اعلان هسې یوه غولوونکې ادعاء وه چې هیڅ حقیقت نلري، امریکایان اوس هم د پخوا په شان جنګي اشغالګر او د افغانستان په خمکه او هوا د حاکمیت متکبرانه سوچ او اراده لري که ددوی دغه اشغال شوک وننګوي دوی په ټول قوت سره میدان ته راوځي او خپل ټول پوځي زور کاروي.

هغه کسان چې دا دېره موده يې تبلیغوله چې امریکایان او نور اشغالګر کفار له افغانستانه وتلي،جنګ بین الافغاني دی او طالبان باید پرته له قید او شرطه اوربند وکړي دغه اوسنۍ د کندز پېښې ته باید ژور ه توجه او پام وکړي تر څو وپوهېږي چې دا هیواد لاهم اشغال او د کفارو تر عملي پوځي تهدید لاندې دی. دلته لا هم امریکايي یرغلګر شته چې د جګړې اصلي لوری دي او د ارتیا په وخت میدان ته کېږي.

د برې زیری

سید احسان الله الهام

په نخا مې بیا احساس دی
د حقبینو بیا بر لاس دی

هر خناس اجل نیولی
اسویلیو دی سوځلی

سپین کاروان پر مخ روان دی
تیاره ده شین آسمان دی

د حیرت په تال کې ښورم
قربانې زلمو ته ګورم

لکه غشي چې را اوري
په پردیو زلمي ستوري

داسي ښکاري شپه دوبیږي
دوبه ورځ بیرته راخیږي

د بري زیری به واورې
منتظر اوسه الهام

مولوي عبد الهادي اخندزاده

ژوند او خدمتونو ته کتنه

بشير همدرد

انسان دنيا ته د دايمي ژوندون لپاره نه بلکې تـري دژر کوچ کولو لپاره راغلی! الله(جل جلاله) هرساکښ (متنفس) ته د دنيانه دکوچ کولو او تلو نيته ټاکلې ده، که څوک خوښ وي اوکه ناخوښ هغه به خامخا دالله تعالی دحکم [کل شيء هالكٌ الا وجهه] په وړاندې سرټيټوي او له زړه څخه به يې مني، چې دالله له ذات نه سيوا د بل چا لپاره دوام اوبقا نشته. او هر ژوندی به خامخا د مرګ پياله په سر اړوي.

په دې باب هرذعقل او شعورڅښتن شک يا تردد نلري او هرڅوک مرګ د حقيقت په توګه مني.

خو دمراتبو له پلوه دانسانانو مرګونه لـه يوبـل سره توپيرلري، هغسې داسې چې دځينو په مړينه يا وفات ايله يوه کورنۍ يا يو کلی دوير په تغر کيني اودځينو په رحلت بيا يوه بسته سيمه يو ولايت او يو هېواد د غم په تغر کينـي.ادا هغـه دکمال اولوړو اخلاقو څښتنان وي، چې ورتـه الله تعـالی ګـڼ علمي او عملي صفات ورکړي وي، دهغوی ژونـد د نـورو پـه سرسيوری او په تياروکې ورته درڼا مشال وي. له دې وجـې دداسې خلکو په مړينه نه يوازې دهغـوی دخپلوانـو سـترګې اوښلنې او لمدې وي بلکې سوونه او زرګونه نور خلک يې هـم په بيلتون له خپلو سترګو اوښکې تويوي،دداسې انسانانو پـه مړينه ګڼ علمي او ادبي مجلسونه بې رنګه او بېخونده پاتـه شي او له امله يې د سلګونو او زرګونو خلکو زړو ته ټکان او جټکې ورسي،هواً د دغسې بختورو انسـانانو شـتون د هـرې تولنې او جامعې دننه دالهي رحمت په معنی دی او رحلت يـې دټولنې او جامعې لپاره يو نه جبيره کيدونکی زيان او تـاوان دی.

دعربي دا مشهوره مقوله: [موت العـالم- مـوت العـالم] شايد همدا معنيويت ولري چې دعالم مرګ د نـړۍ مـرګ دی! او تجربو ښودلې چې دهر ورانديني په رحلت رامنځته شوې تشه هيڅ وروستنې نده ډکه کړې.

په دې لړ کې زمونږ استا د، مـربي او دهېـواد نوميـالی علمي ، جهادي،سياسي او روحـاني شخصـيت مولـوي عبد الهادي اخنداده (رحمه الله) هم دغسـې کمالـدارو او جـامعو شخصيتونو له ډلې څخه و، حقيقت دادی چې داسـې مـثلي شخصيتونه په هره ټولنه او قوم کې ژر نه پيدا کېږي. بلکې له پيړيو وروسته زيږي،د شک پرته داروابنـاد مولـوي صـاحب دشخصيت دننه داسې ګڼې صوري اومعنـوي ځانګړتيـاوې او صفات منډل کېدل چې نن په ډېرو مشهورو خلکو کـې دهغـو نظيـر کـه معـدوم نـدی! نـادر ضرورردی. ولـيس علـی الله بمستنکر- ان يجمع العالم فی واحد.

الله تعالی مولوي صاحب ته داسې علمي او عملي صفات ورکړي وو، چې دهغو په وجه يې شخصيت دعوامو او خواصو په منځ کې يوشان منلی او مقبول و، عالمانـه شـان، صـوفيانه مـزاج اودرويشـانه طبعيـت پـه درلـودو دخپلوهمزولـو، ملګرو،شاګردانو، مجاهدينو، او خپلوانو لپاره د قـوي بـاور او

کلک اعتماد ځلیدونکی منارو، څنگه چې دقرآن پاک او په نبوي احادیثو کې وراندوینه شوې چې په نړۍ کې زرگونه خلک داسې دي چې دمرگ وروسته څوک دهغوی نومونه نه اخلي ، اوځیني هغه دي چې له مرگ وروسته دهغوی په مړینه یواځې دهغوی خپلوان او کورنۍ اوښکې نه تویوي بلکې نور سلگونه او زرگونه خلک هم وربانـدې ویر اوماتم کوي ، دهغوی فکر او نظر ته په ژوند او دوام بښلو یې کردار لمانځي، په دې توگه ویلی شوچې ارواښاد مولوي صاحب (عبد الهادي) شخصیت زمونږ په څېر د ناپوهانو لپاره لاربښود او کمزوروته دسرسیوری و.

زه اعتراف کوم چې زما قلم او زما الفاظ زما دزړه داحساساتو او جذباتو د پوره ترجمانی کولونه عاجزښيي، او د نوموړي دسترو انساني اخلاقو علمي صلاحیتونو، او سیاسي پوهې او تجربو د راسپړللو او لیکلو قاصردی،څو ځله مې همت وکړ، چې په دې اړه خپل احساسات او جذبات سره یوځای کرم خو هرځل پکې پاته راغلی یم. اونه یم توانیدلی چې دنوموړي دستر علمي، سیاسي او جهادي سیرت په باب دخپل زړه دننه په پردو کې پوښلي پراته احساسات رابیرون او له نورو سره یې شریک کړم، بالاخر دمشرانو ملگرو بیا بیا ټینگار او اصرار دیته اړکړم څو دنوموړي په ژوند او ویاړلو خدمتونوته داځو مات گوډ توري دپیرزوینو وراندې کولو په دود وکاږم:

مولوي صاحب ما له نیږدې لیدلی اوتري ډېر څه مې زده کړي وو او هم ورسره په یوځای راته دکار اوخدمت موقع په لاس راغلې ، نوبناءً دادی دلته دنوموړي د درانه شخصیت په اړه خپلې نیمگړې پیرزوینې د درنو لوستونکو سره په دې نیت شریکول غواړم څو زما په ذمه شته مسؤلیت مې څه نه څه اداء کړی وي.

مخکې د دینه چې دمولوي صاحب مرحوم په علمي، جهادي او سیاسي کردار رڼا واچوم غواړم ترهرڅه لومړی دژوند لیک پانه یې دلوستونکو په مخکې پرانیزم:

زوکړه یې:

نوموړی په ۱۳۳۷ل کال کې دپروان ولایت کوه صافي ولسوالی اړوند سیاه سنگ کلي(چې دملایانو په کلي سره شهرت لري) کې دسیمې د مشهور روحاني او بزرگوار شخصیت ارواښاد ملا حبیب الرحمان اخنذاده په علمي او روحاني کور کې نړۍ ته سترگې غړولې وې.

ملا حبیب الرحمان اخنذاده چې پخپله سیمه کې په مشر اخنذاده صاحب شهرت لاره، نه یواځې دکوه صافي دننه ورته خلکو د روحاني مرشد په سترگه کتل بلکې دکوی سافي نه بهر د شمالي په کوهدامانو او ده سبز کې هم په لوی شمېر خلک یې عقیدتمن او ارادتمن ول.

زده کړې یې:

دکاله دننه دعلمي او دیني ماحول په وجه په کوچنیوالي کې زده کړو ته کینول شو ، البته له کوره بهرپه علم پسې هغه مهال ووت چې د ځوانۍ نوځېزې مرحلې ته نـژدې و، لومړی دیني کتابونه یې په کورکې له بزرگوار پلار،مشر ـ ورور او ترونو ولوستل ، بیا دنورو سبقونو لپاره په شمالي کې د باغ عالم مولوي صاحب په مدرسه (درسگاه) کې شامل شو، هلته دځینو لومړنیو کتابونو د ویلو وروسته له مولوي نصر ـ الله او مولوي اسد الله سره دیره شوله هغوی دواړو نه داستفادې وروسته دکابل په شیوه کیو کې د مشهورمدرس عالم مولوی محمود(چې په صوفي مولوي صاحب مشهوررو) درس گاه ته لاړ، هلته دکافیې په گډون د ځینو کتابونو ویلو وروسته د پاته نورو زده کړو لپاره پاکستان ته سفر وکړ، دخیبر پښتونخوا مردان ولسوالی قیامه مدرسه کې شامل شو، هلته یې دشیخ عبد الرزاق اونورو استادانو څخه شرح جامي او نور کتابونه وویل، بیا له هغه ځایه وروستم ته لاړ چیرته یې چې دوه کاله پرلپسي د فنونو کتابونه له مشهوررو استادانو هریو علامه سید قریش بابارحمه الله) او شیخ الحدیث مولانا قاضي محمد امین (رحمه الله) وویـل، بیـا د فنونودوروستیو کتابونو لکه قاضي، حمد الله اونورو... دتکمیل لپاره دمردان

طورو مشهور مدرس مولانا غلام محبوب صاحب ته ورغــی او هغه څخه یــې دفنونــو کتابونــه مکمـل کــړل، وره دوره یــې دکوهــاټ پــه قاضــی حســام الــدین مدرســه کــې لــه مفتــي محمدنعیم(رحمه الله) څخه وکـړه او دلــویې دورې لپـاره یــې دپیښور جامعه امداد العلوم غوره کړه، چیرته یې چې د لــویې دورې ځو کتابونه له نومیالي محدث شهید مولانا محمد حســن جان مدني(رحمه الله) او لــه شــیخ الحـدیث مولانــا امــان الله [مروت] څخه وویل او په۱۳٦٦ ل کال کې لــه جامعــه امــداد العلوم څخه یې دفراغت سند ترلاسه کړ.

دشوروي یرغل په وړاندې جهادې مبارزې ته یې کتنه:

کله چې مولوي صاحب په سبقونو پسې لــه افغانســتانه پاکستان ته سفر کاوه، دغه مهال افغانســتان کــې دکرغیړنــې کمونستي کودتــاه پرضــد د جهــاد د پیـل ورځــې شــېې وې، جهادي فعالیتونه خال، خال ترسترګو کېدل، لــږ وروســته پــه ټول هېواد کــې جهــادي فعالیتونــه مــنظم شــول، لــه دینــي مدرسونه په لوی شمېر طا لبان جهادته لاړل، مولوي صــاحب هم جهاد ته دټلونکو طالبانو له ډلې څخه و، ددې لپاره لومړی په میرانشاه کې نظامي زده کړې وکړې او بیا دجهاد پــه نیــت دخپلې سیمې له طالبانو سره یوځای کوه صافي ته ستون شو او د جهادي امورو په منظمولو کې یې کاري رول ترسره کــړ، دیاوني وړده چې په کوه صافي کې دجهاد پــه پیلولــو کــې د ارواښاد مولوي صاحب سربیره ،دهغه مشر ورورشهید مولوي عبدالصبور اخنذاده بنسټیز او قایدانه رول اداء کړی دی، څوک چې په۱۳٦٥ ل کال کې کوه صافي کې دشورویانولخواد ګنــو الوتکود ناځاپه یرغل په ترځ کې لــه یوشــمیر مجاهــدینو سره یوځــای شــهید شــو، دهغــه د شــهادت غمیــزه چــې دټولــو کوسافیوالو لپاره بالعموم او دمولوي صاحب دکــورنۍ لپــاره بالخصوص ستره غمیزه او خواشینونکي پیښه وه، خوبیا هم مولوي صاحب ته الله جل جلا له په تکلیفونو او مصایبو باندې د صبر قوي حوصله ورکړې وه، او په داسې مواردو کې دستر زغم او اوبرداشت څښتن و، په همــدې کــال یــې دورې دورې کتابونه و، له څه مودې ځنډ وروسته یې خپلو سبقونو ته پــام وګرځاوه اوپه بري سره یې وره دوره بشپړه کړه دلویې دورې پر مهال دشهید مولوي صاحب عبد الصبور اخنذاده رحمــه الله جهادي ملګرو او قومندانانو کوښښ وکړ چې نوموړی د شهید مولوي صاحب عبد الصبور اخنذاده په شهادت سره د رامنځته شوې تشې په ډکولو قانع کړي، او دهغــه ځــای ناســتی شي، خوداچې ددرس او تدریس په لور یې میلان او رجحان زیات و ، له هغوی نه په مننه کولو یې عذر وړاندې کړ،او په جهاد کې دخپلې کورنۍ دونډې لرلو لپاره یې خپـل مشرـ ورور ملاعبــد الغفار اخنذاده غوره کړ، چې په جهــادي امــورو کــې ددوی کورنۍ نیابت وکړي، څوک چې ښه هوښیار،مدبر او په سیمه کې مخور،منلی مشر و، د جهاد ترپایه پخپل جهــادي موقــف پاته و او دجهاد دپای ته رسیدو سره سم پخپل کور کیناســت، دمولوي صاحب له وفات نه نیږدې یونیم کــال وړانــدې یــې د فاني نړۍ څخه دابدي ژوند په لور رحلت وکړ (انا لله وانا الیــه راجعون)

هجرت یې:

په۱۳٦۱ل کې دمولوي صاحب کــورنۍ لــه افغانســتانه پاکستان ته هجرت وکړ، اول د کرمې ایجنسۍ په خواجه علــي پندغا لي کې میشت شول او بیا له هغه ځایــه د صــوابۍ پنــډ غالي ته لاړل، هلته دکا ل یونیم تیرولو وروســته دکوهاټ غــلام بانډې سافیانو کیمپ ته لاړل چېرته چې تــردې مهالــه میشــت دي.

تدریس یې:

په ۱۳٦٦ ل کال کې دپیښور له امداد العلوم نه د فراغــت وروسته دخیبر پښــتونخوا کوهــاټ ولســوالۍ دانصــارو پــه یومسجد کې یې تدریس پیل کړ، د شلو په شاوخوا کې طالبان ورسره وو ، له لومړیو درجو نیولې تر کافیې، حسامي اوسـلم العلوم پورې یې کتابونه درس کړل په یل کــال د کوهــاټ بـلې ټنګ په نوم سیمې شمس العلوم مدرسې ته دمدرس په حیــث لاړ، هلته دیــو کــال تــدریس وروســته دکوهاټ غــلام بانــډې

دمهاجرينو په پنډ غالي کې دمولوي صاحب په هڅونه دمولوي صاحب خالص ګوند(اسلامي حزب) دپروان ولايت جهادي امير مولوي عبد المنان عابد د منبع العلوم په نوم ديوې مدرسې بنسټ کيښود، چې ورته مولوي صاحب دمدرس په حيث راغی ،هلته د دريمې او څلورمې درجې کتابونه درس کړل، راتلونکی کال منبع العلوم ته د چراټ [جامعه محمديه)نه د فنونو دوه مشهور استادان (علامه سيد قريش بابا او بل قاضي صاحب محمدامين راوستل شول، دهغوی په وجه منبع العلوم ته دپاکستاني او افغاني طالبانو بهير رامات شو، په دغه کال هم ورسره د درېيمې او څلورمې درجې کتابونه وو، په ټولو کتابونو کې طالبان ترې خوشال ول، کله چې دوه کاله وروسته علامه سيد قريش بابا او قاضي صاحب له يادې مدرسې مستعفي شول، دقاضي صاحب زياتره کتابونه لکه (شرح جامي معرب ، سلم العلوم، حسامي هدايه الصلوة اوملاحسن) نوموړي ته ورکړل شول، په هر کتاب کې ورسره دروند شمېر طالبان وو، او طالبانو ته يې د درس طرز اوطريقه راښکونکې او په زړپورې وه.دکوات دانصارو په مشهوره مدرسه [انجمن تعليم القرآن پراچه ټاون) کې دحديثو تکره استاد او د حضرت مفتي محمد فريد(رحمه الله) صاحب خليفه مولوي (مطيع الله شاکر) چې دمولوي صاحب پخوانی شاګرد او دتره څوی دی دمولوي صاحب د تدريسي- اوعلمي صلاحيتونو په اړه رڼا داسې اچوي:

زما او د شهيدمولوي صاحب روح الله روحاني ابتدايي تربيت اوپالنه مولوي صاحب کړې، نوموړی پخپله دڅلورمې درجې طالب و چې مونږ ترې ابتدايي کتابونه ويل، ترکافيې پورې کتابونه مو دمولوي صاحب نه په داسې وخت کې ويلي چې هغه پخپله طالب و، بياچې کله فارغ شو او په يومسجد کې يې تدريس پيل کړ په اول کال مونږ ترې حسامي او سلم العلوم وويلي،دمولوي صاحب د درس طريقه ډېره عام فهمه وه، اول به يې دسبق اجمال يالنديز ووايه بيا به يې تفصيل او دکتاب عبارت حل کاوه، په دې توګه يې په سبق کې فيض او برکت هم زيات و، کوښښ به يې کاوچې طالبان په اسانه او روانه لهجه پوی کړي هيڅکله يې مغلق او پيچلې تعبيرات نه کول سبق يې ښه روان اوسليس و په دې علاوه دهرې روژې مياشت کې به يې دعظيم الشان قرآن ترجمه (دوره تفسير) هم کوله ددې ترڅنګ مولوي صاحب ښه کامياب واعظ او مبلغ هم و،چې په خلکو يې وعظ زيات تاثير درلود په دې وجه دخواصو ترڅنګ دعوامو په منځ کې هم منلی او مقبول شخص و، استاد الحديث مولانا مطيع الله شاکر وراندې وايي: مولوي صاحب عبدالهادي نه تنها په خپلو شاګردانو ته ديني او علمي روزنه ورکوله بلکې دهغوی اخلاقي او سياسي روزنې ته هم ځير و، نوموړی دپروان اوکاپيسا دطالبانو او علماوو داهلسنت والجماعت ټولنې مشرو، په ښه مدبرانه توګه يې دسيمې دعلماوو او طالبانو د سياسي رشد په روزلوکې وخت په وخت ونده او کردار ترسره کاوه په دې توګه نوموړی ته د يو جامع شخصيت په سترګه کتل کېدل.

په ورته توګه د خدای بښلي مولوي صاحب يوبل خاص شاګرد مولوي محمد علي خان زاهد چې ډېره موده دمولوي صاحب سره نيږدې پاته دی، او داسلامي امارت په دوره کې د کونړ دبانک رئس هم و اوس فعال مدرس دی دمولوي صاحب د درسي خصوصياتو په اړه وايي: مولوي صاحب په بالفعل شکل ښه کامياب مدرس و، هيڅ داسې نه احساسيده به چې هغه يوکتاب درس کاو او هغه دې ورباندې بوج و، په سبق يې هر د متوسط استعداد لرونکی طالب پوهيده، په هر کتاب باندې معلوم شروحات ويلي، هغه ټول يې طالبانوته ښودل ، دفصاحت له پلوه د سبق ويلو سليقه او طرز يې طالبانو ته ډېر خوښ و، هر لفظ يې چې دخولې ويسته طالب ته پکې شک او تردد نه پاته کېده ځکه دلوړې درجې فصيح ژبی استاد و.

دمولوي مطيع الله شاکر پشان نوموړی هم وايي: چې مولوي صاحب خپلو شاګردانوته دديني تربيې ترڅنګ اخلاقي اوسياسي تربيه هم ورکوله، طالبان يې دوخت او حالاتو

نژاکتونو ته ځېر کول پخپله يې هم د درس او تدريس ترڅنګ دافغانستان له حالاتو او جرياناتو ځان به خبرساته، وخت په وخت يې د خپلو ملګرو سره نوي معلومات او حالات شريکول، خو دطالبانو اخلاقي تربيې ته ډېر متوجه و، همېش به يې طالبان دبدکارو خلکو دملګرتيا او هغو سره دارېکو جوړولو څخه منع کول. دزاهد صاحب په وينا مولوي صاحب پخپله هم په جماعت سره دلمانځه کلک اهتمام لاره، شاګردان يې هم په جماعت سره دلمانځه اداء کولوته متوجه کول.

دنوموړي په وينا: مولوي صاحب په درس او تدريس دومره حريص و چې دحکومتي منصب ترڅنګ يې تل ارزو دا وه چې خلکوته علمي ګټه ورسوي، دولايت په دوران کې يې ددې لپاره چې يومخ علم ترې پاته نشي،يا يې دعلم سره تعلق کمزورى نشي يوه ځانګړې مدرسه جوړه کړيوه، چې هلته يې دسهار دلمانځه وروسته لومړى دعظيم الشان قرآن ترجمه او بيا يې شرح جامي معرب، هدايه صلواة او حسامي طالبانوته تدريسول دهغه وروسته يې چاى څکه، او رسمي کار يې شروع کاوه.

دپروان او کاپيساه دطالبانو دمشر په حيث يې رول او کردار ته کتنه:

هغه مهال چې افغانستان کې دشوروي او کمونستي رژيم پر ضد جهاد روان و ، دپاکستان په ديني مدرسو کې کومو افغاني طالبانو سبقونه ويل، هغوى دولايتونو په سطحه ددې لپاره چې پخپل منځ کې له يوبل سره وپيژني، ديو بل له غم او درد نه خبر اووسي،يا داچې افغاني طالبان دنويو مذهبي اندونو په لومو کې ونه نښلي ترمنځو يې نوې تفرقې او دلې ټپلې پيدانشي داهلسنت والجماعت په نوم جلا جلا منظمي او اتحاديې جوړې شوې وې، دهر ولايت طالبانو ځانته يوه شورى درلوده، هغې شورى دټول ولايت اړوند طالبانو چارې بررسي کولې اودخپل ولايت دټولو طالبانو يولست به ورسره پروت و، دطالبانو کوايف به يې معلومول، بيا به يې دهر تعليمي کال په پاى کې دافغانانو په کيمپونو کې غونډې جوړولې د اړوند ولايت طالبانو به په هغو غونډو کې ګډون کاو، په دې تو ګه به يې ديوبل سره پيژندل او اړيکې به يې ټينګيدل، بيلا بيل استعدونه او فکرونه به يوځاى راټوليدل ديوبل له معلوماتو او وړتياوو به خبريدل ، مولوي صاحب د پروان او کاپيساه په سطحه داهلسنت والجماعت دمنظمې او اتحاديې بنسټ ايښودونکى و، کله چې دپروان او کاپيساه داهلسنت اتحاديه تشکيل شوه، مولوي صاحب د اتحاديې دمرستيال په صفت غوره شو، او يوکال وروسته دملګرو په ټينګار او غوښتنه دعمومي مشر (صدر)په حيث تعين شو، ترهغه وخته په دغه موقف او دنده پاته وڅو په کندهار کې طالبانو دشر اوفساد پرضد وسلوال پاڅون وکړ، دهغوى دپاڅون سره سم دطالبانو داسلامي تحريک په نوم دافغاني طالبانو يو منظم جهادي او سياسي تحريک راپورته شو، چې په دې سره دولايتونو په سطحه جوړې منظمې او اتحاديې منحل شوې او دهېواد ټول طالبان او علماء دطالبانو داسلامي تحريک په ليکو اوصفوفوکې منظم او منسجم شول مولوي صاحب هم له خپلو ټولو ملګرو سره يوځاى په دغه تحريک کې ګډون وکړ، چې دژوند ترپايه له هم دغه کاروان سره ملګرى و او په ډېر اخلاص، للهيت اوصداقت سره يې يکې بېلا بېل خدمتونه تر سره کړل

دطالبانو داسلامي تحريک په ليکو کې ګډون او خدمتونه:

کله چې دشر او فساد پرضد دهېواد په جنوب کندهار کې دامير المومنين ملا محمد عمر (مجاهد) رحمه الله په مشرى يو کم شمېر طالبانو شرعي پاڅون وکړ، دهېواد دنورو جيدو علماوو ترڅنګ مولوي صاحب عبد الهادي اخنذاده هم ديوتکړه جيد عالم او مدرس په حيث او دپروان اوکاپيساه دعلماوو او طالبانو له منځه ديو قوي او بانفوذه سياسي او اجتماعي شخص په توګه ددغه پاڅون څخه په کلکه ملاتړ اعلان کړ، ددې لپاره يې دخيبر پښتونخوا ايالت په جنوبي سيمو کې سترې غونډې جوړې کړې اوپکې يې ددغه پاڅون

په ضرورت او اهمیت ګډونوالوته ویناوې وکړې اوبیا دپروان او کاپیساه دعلماوو او طالبانو سره یوځای لومړی دخوست دلارې نه لوګر او بیا دهغه ځای نه کندهار ته سفر وکړ، ددغه سفر نه په بیرته راستنیدو دپروان او کاپیساه دنورو دوه سوه طالبانو سره یوځای دخوست دلارې نه چهار اسیاب او بیا د کارته سه لومړۍ کربښې ته لاړ، هلته په لومړۍ کربښه کې دشهید ملا بورجان اخند او ملا یار محمد اخند سره یوځای شو،چیرته چې دمسعود په چل ول او دوکه طالبانو ته سخته صدمه ورسیده چې له امله یې طالبان له کارته سه څخه شاتګ ته اړشول او لوی شمیر طالبان شهیدان، ټپیان او بندیان شول دپروان او کاپیساه له ملګرو څخه هم زیات شمیر بندیان او ټپیان شول، آن ځینې ټپیان هم دښمن په لاس ورغلل، کوم چې بیا دهرات په عمومي تبادله کې ددښمن له منګلو څخه راخلاص شول.

دهغه مهال را په دیخوا مولوي صاحب او ملګرو یې په منظم او متحد شکل دطالبانو داسلامي تحریک په لیکو کې جهادونه ،خدمتونه اوقرباني ورکړې، لله الحمد تردې مهاله داسلامي په امارت په لیکو کې یې ملګرې په مخلصانه خدمتونو اوجهادونو بوخت دي چې په ښو شاندارو کارنامو به یې ضرور د اسلامي امارت قیادت ویاړلې.

هم دا راز کله چې د کند هار په ښار کې دهیواد ۱۵۰۰ جیدو علماوو دطالبانو داسلامي تحریک له مشر ملامحمد عمر مجاهد سره دامیر المومنین په حیث بیعت وکړ، په هغه غونډه کې مولوي صاحب دپروان ا و کاپیساه دیوشمیر جیدو علماوو سره یوځای ګډون وکړ اودامیر المؤمنین رحمه الله سره یې دهیواد دزعیم په حیث بیعت وکړ.

کله چې دهیواد ختیځ ولایتونه د طالبانو لخوا فتحه شول، څنګه چې دهغو په فتحه کولو کې دپروان او کاپیساه طالبانو دنورو طالبانوسره یوځای دقاري احسان الله بریال (دکاپیساه ولایت لپاره داسلامي امارت اوسنی والي) په مشرۍ په ښه عالي مورال ونډه درلوده، کله چې کونړ ولایت فتحه شو دشهید ملا بورجان او ارواښاد حاجي ملا محمد رباني په وراندیز عالیقدر امیر المؤمنین لخوا د۱۳۷۵ ل کال په ۴مه نیټه مولوي عبد الهادي اخندزاده دکونړلپاره دوالي او قاري احسان الله بریال د امنیه قوماندان په توګه تعین شول، شهید ملا بورجان اخند(رحمه الله) دکونړ فتحې بشپړولو وروسته مولوي صاحب ته د کونړ د ټولو ملکي او نظامي ارګانونو لپاره دمسولینو دمعرفي کولو حکم وکړ، هغه و چې د توموري د حکم سره سم مولوي صاحب دکونړ د ملکي او نظامي ارګانونو لپاره مسؤلین معرفي کړل او په په لنډه موده کې یې دولایت درياستونو په ګډون ټولې ۱۸ ولسوالۍ فعاله کړې دبازار او ښاروالۍ چارې یې ورغولې ښوونځي، لیسې او مدارس یې پرانستل دترانسپورت چارې یې تنظیم ګړې ددولتي عوایدو راټولولو طرز العمل یې نافذ کړ ، د ځنګلونو وهلو پرضد یې ګامونه پورته کړل پاکستان ته د نا قانونه لاروڅخه د لرګیو په انتقال یې بندیز پلي کړ،په لویو لارو او درو کې امنیت راغی ،دخلکو دسر او مال خوندي کولو په غرض شپه ورځ مجاهدینو ګزمې پیل کړې زورواکان له سیمې وشړل شول اجتماعي عدالت پلي شو.

په کونړ کې یې سیاسي او جهادي بریاوې:

طالبانو لپاره کونړ ولایت کنترولول اوپکې حکومت جوړول یو ستر ستونزمن کار و، له نیکه مرغه مولوي صاحب ته الله پاک دستونزو دحلولود اوحکومتي چارو درهبري کولو او له خلکو سره دافهام او تفهیم یوه بیمثاله راښکونکې اومؤثره ملکه ورکړې وه، چې په وجه یې په لنډ وخت کې دکونړ اونورستان [دمرکزي او شرقي] په ګډون په ۱۸ولسوالیو کې داسلامي امارت واکمني قایمه کړه او داسې چې ترپایه پاته شوه، له شک پرته چې دجنګ دلارې دیوشمیر ولسوالیو نیول طالبانو ته آسان نه و. لیکن هغه له جنګ پرته د هغو فتحه کول واقعاً ستر بری و، دخبرو او ولسونو ته دقناعت ورکولو له لارې بری مندل او پکې داسلامي امارت واکمني داسې ټینګول چې دمرکزي نورستان له لارې د

پنجشیر ترغرنیو سیمو او دشرقي نورستان په استقامت دبدخشان ولایت ترځنډو پورې داسلامي امارت واک بې له جنګه غځول تاریخي بریا او کارنامه وه.دډېروپه اند: که هغه مهال دامارت چارواکو دا غوښتي چې دشرقي نورستان (برګمټال) له لارې بدخشان ولایت ته ننوزي او هلته دمسعود او رباني په خلاف نوی محاذ خلاص کړي نوپه اسانه کېدای شو، ځکه تربدخشان پورې دنورستان تول سیمه داسلامي امارت ترواک لاندې وه، خو بناء په هرصورت رازو دیته چې مولوي عبد الهادي اخنذده داتولې سیمې ولسوالی دتدبیر او بصیرت نه په کار اخستلو او خلکو سره دنیږدې مفاهمې درلودو په مټ دامارت تر واکمنۍ لاندې راوستې چې په نیولو کې یې دیو طالب پوزه هم سره نشوه.

داروابناد مولوي صاحب همدې ځانګرتیاوو اوصفاتو درلودو ته په پام دافغانستان داسلامي امارت دواکمنۍ په مهال داطلاعاتو او کلتور او بیا د پوهنې وزیر الحاج مولوي امیرخان متقي وایي :مولوي صاحب عبدالهادي په عملي ډګر کې یو موفق اوکامیاب مسئول و ددې خبرې دثبوت لپاره دا درې دلایل کافي دي چې یو خو یې دوفات تروخته دپروان او کا پیسادمجاهدینو او طالبانو په منځ کې خپل محبوبیت او دمشرتابه مقام په داسې ډول وساته چې که یې رسمي دنده وه که نه وه خو دا تیر شل کلونه تولو ورته دمشر په نظر کتل.

بل دا چې پنځه کاله یې داسلامي امارت په وا کمنۍ کې دکونړ غوندې غرنی،سرحدي او له نظامي اړخه نهایت مهم ولایت خورا ښه رهبري وکړه په داسې ډول چې هم یې میشت ولسونه لکه دورو نو غوندې سره لند کړل او هم یې په داسې حال کې ولایت دمخالفینو له حملو وساته چې په غرنیو سیمو کې مخا لفینو فعال حضور درلود او لوی لوی مخالف قومندانان له یوې او بلې خواورته اکمالیدل خو د مولوي صاحب د مدبرانه مشرتوب له امله دښمن ونه توانید چې په خپلو شومو اغراضو کې بریالی شي او په دې سیمه کې اسلامي امارت ته کومه جدي ستونزه ایجاد کړي ځکه مولوي صاحب عام اولس په اعتمادکې اخیستی و او اولس د اسلامي امارت په ملاتړ دفاع ته چمتو وو

دمولوي صاحب بله ځانګړ تیا داوه چې سره له دې چې داسلامي امارت مشر تابه ته یې ډېر ځان نه ور ښکاره کاوه او ځان ځلونه یې نه خو ښیده خو دعالیقدر امیرالمؤمنین اعتماد دومره ور باندې زیات و چې ډېره کمه به پیښه شوې وي چې مشر ملاصاحب دې دده خبره پر مځکه اچو لې وي چې همدا په نوموړي داسلامي امارت د زعیم د بشپړ باور نښه بلل کیدای شي.

مسعود په ځلونو کوښښ وکړ چې طالبان په کونړ کې په جنګ کې مصروف وساتي، څو دبدخشان دلارې هغه ته مشکلات پیدانکړې، ددې لپاره یې په لومړي ګام کې له پنجشیر څخه دمشرقي پخواني شړل شوي قومندانان چې پنجشیرته یې پناه وروړیوه لکه حضرت علي ، حاجي قدیر اوکشمیرخان له پریمانه پیسو او اکمالاتو سره کونړته راولیږل خودپیسو ورکولو دلارې خلک دمجاهدینو پرضد پورته کړي دپاکستان دلارې نه حاجي زرین او حاجي روح الله دیته هڅول چې هغوی دواړه هم په کونړ کې دطالبانو پرضد جنګونه پیل کړي ملک زرین څو ځله داسمار ولسوالی دنیولو کوښښ وکړ خو هر ځل دشکست سره مخ کېده، په ورته توګه کشمیر خان د شیګل ولسوالی دنیولو هڅه وکړه، خو هغه هم بریالی نشو، هم دا راز دپیچ درې له لارې ځینو قومندانانو څو ځله کوښښونه وکړل چې ځینې ولسوالی ونیسي- خو دجزي پرمختګ پرته هغوی کوم پراخ پرمختګ ونشو کړای، ځکه چې مولوي صاحب دقومونو سره له ډېر نیږدې په تماس او ارتباط کې و، او دولس دملاتړ په بدرګه په مخالفینو برلاسی و، تردې پورې چې کله هغوی تول په کونړ کې ناکام شول مسعود تول لرې کړل دتولو لپاره دمشرپه توګه یې سیاف ته وظیفه ورکړه او له پنجشیرنه یې هغه نورستان اوکونړ ته راولیږه، هغه (سیاف) پخپل تول توان هڅه وکړه، چې دمخالفینو متلاشي ځواکونه سره یوکړې او په کونړ کې دامارت پرضد قوي محاذ

پرانیزي د اوریدو له قراره سیاف به په خبرو کې دکونړ خلکو ته ویلي: چې زما پلرونه اونیکونه دکونړ نورګل ولسوالی له مزار درې نه پغمان ته لاړدي، زه هم په اصل کې کونړی یم! ماسره ودریږئ او په ما ننګ وکړئ! خو هیچا یې فریاد نه اوریده او ورسره ملګري نشول بالاخر سیاف دڅو ورځو تیرولو وروسته ناکام بیرته پنجشیرته ستون شو، په دې توګه دمسعود دا ارمان پوره نشو چې په کونړ کې دجنګ پراخولو له لارې امارت ته ستونزې ایجاد کړي‌دهغه د پلانونو په خنثا کولو کې مؤثر اوفعال رول دوالي په حیث دمولوي صاحب د فراست و، دکوم په برکت چې یې دکونړ خلک او علماء په ځان رامات کړي وو په دې خبره دنیږدې ټولو خلکو اتفاق وه چې دکونړ والي صاحب ښه سړی دی او مونږ ترې راضي یو! تردې پورې ماته په زړه دي کله نه کله به چې دباجوړ او شاوخوا سیمو علماء دمولوي صاحب دلیدو لپاره راتلل په هغوی کې ځینو به ویلي: ستا په انتخاب کې یقیناً امیر المونین حق ته رسیدلی !!که له تا پرته بل هر څوک وای دا ولایت به وخت په سر دطالبانو له لاسو وتلی و، خو داچې ستا پشان هوښیار او مدبر انسان یې رالیږلی دی، په دې انتخاب کې هغه مصیب دی انشاء الله.

مولوي محمد علي خان چې په دغه ټوله دوره کې دمولوي صاحب له باوري او راز دارو ملګرو څخه و، وایي: دمولوي صاحب دبري راز په دې کې و، چې نهایتي مهربان او زړه سواند مشر و، او ددې لپاره الله تعالی ورته عجیبه لویه حوصله ورکړیوه دشپې ترناوخته به ددې لپاره ناست و، چې کیدای شي دچا کار ترما پورې بند وي هسي نه هغه راشي او زه ویده یم بیرته به مایوس لاړشي! هم دا وجه وه چې درسمي وخت نه پس به یې هم دخلکو په عریضو احکام لیکل او هیڅ یو عارض یې په دې وجه بیرته ندی لیږلی چې اوس رسمي وخت ختم شوی دی، هم دا سبب و چې دعوامو په زړو کې ورسره محبت وه او هر سړي ته ګران و.

هغه وایي: دمولوي صاحب مزاج دتعصب او کینې څخه هم ډېر پاک و، کونړ یو داسي ولایت و چې دنورو ولایتونو په پرتله یکې مذهبي اختلافات ډېر وو، مولوي سره ددې چې پخپل مسلک باندې ټینګ ولاړو، خو دنورو علماوو یې نهایتي احترام او قدر به کاو، دهغوی سره تعصب او کینه یې نه درلوده، دهغوی سره راشه درشه او تعلقات یې یومخ عادي ووچې په دې اړه ترپایه دهیچا لخوا کوم شکایت ندی اوریدل شوی.

هم داشان نرمه رویه یې دومره زیاته مؤثره او راښکونکې وه، چې مخالفینو هم ورباندې اعتراف کاو،حتی یوځل یو مخالف قومندان چې دباجوړ نه کونړ ته دطالبانو خلاف جنګ ته را ته، هغه دمرورې په سرحدې ولسوالی کې په یو کورکې ځان پټ کړی و ، د کور ښټتن چې یې نږدې ملګری و هغه ته مشوره ورکړه چې جنګ ته له تلو وړاندې یو ځل والي صاحب سره وګوره او بیا ځه،هغه ویل: څنګه ورسره ووینم؟ کوربه و ویل: ستا ضامن زه یم راځه چې والي صاحب ته اوس ورشو، له هغه سړي سره مخالف نیغ مولوي صاحب ته راغی ،مولوي صاحب سره دلیدو وروسته هغه دومره متاثر شو چې له هم هغه ځایه دخپلو مخالفینو ملګرو سره جنګ ته روان شو او ترپایه دامارت سره ملګری پاته و څو چې امریکا په افغانستان یرغل وکړ او طالبان له کونړاو نور هیواد نه وتلو ته اړشول هغه دامارت نه خپله لاره بدله نکړه.

دستونزو اومشکلاتو پرمهال یې د بیمثاله استقامت اوجرئت بېلګې:

څنګه چې وړاندې مو اشاره وکړه دټلوالي مشر مسعود کوښښ کاو څو په کونړ کې دامارت په وړاندې مشکلات ایجاد کړي ددې لپاره د شر اوفساد د دوړې قومندانان یې د ډول ډو لالچونو ورکولوله لا رې جنګ ته هڅول، هغوی د مسعود نه پیسو هضمولو ځای په ځای جنګونه اوبریدونه کول، یوځل مخا لفینو دننګلام په ولسوالی حمله وکړه مخالفینو ولسوالی ونیوله،تردې چې دولایت لورته یې

پرمختګ هم وکړ، مولوي علی خان زاهد وایي: دغه مهال دوه شپې مولوي صاحب خوب ونکړ او خپله تولـه شـپه بېلابېلـو پوستو ته ورتلو او طالبانوته یې روحیه ورکوله چـې ګـورئ حوصله دلاسه ورنکړئ اوپخپلو مورچلونو کې بیـدار اوسـئ هغه وایې: دغه مهال ورسره خپل ساتونکي هم نه وو ځکه ټول یې لومړۍ کرښې ته لیږلي وو، یوازې دغـه مهـال ز مـا نـه علاوه ورسره مولوي نورجلال(دکورنیوچارو وزارت معین) او اینجنر ګل آغـا (دمولـوي نجیـب الله ورور) ملګـري ول چـې دولایت دفاعي پوستې مو کنټلي او مجاهدین مو بیـدارول چـې غفلت ونکړي، په دوهمه ورځ زه ورسره تر دوه بجو تـم شـوم خوماته نور خپل صبر ځواب راکړ زه ویده شوم، خو هغـوی ټوله شپه بیدار ول او په مجاهدینو ګرځیدل، په سبا ته طالبانو مخالفین دولایت له حدودو بیرته پـه شـا وتمبـول او نـنګلام ولسوالی یې ونیوه

په ورته توګـه یوځـل مخـالفینو دشـیګل ولسـوالی لـه استقامت نه دمجاهدینو ددفاعی پوستو اولسوالی دوادنی پر نیولو اول خط دشینکوړک سیمې ته نـژدې کـړ، کومـه چـې ولایت ته لنډه پرته ده، دغه مهال له ځینو نورو ولایتونو څخـه دکومکي مجاهدین راغلي وو، هغوی په دې حات لیدو دومـره ورخطاء شول چې ټولو ځانونه دولایت مرکز(اسعد آبـاد) تـه ور سول او مشران یې نیغ مولوي صاحب ته ورغلل هغـه تـه یې وویل : پنځې دقیقي وخت لرئ که ولایت خالي کوي مـونږ پنځه دقیقې تم کیدای شو که کـوم ضروري شـیان وي هغـه راوخلئ مخالفین مرکزته لنډ دي، اومونږ خو خامخـا درومـو دلته جنګ ګران دی او ولایت دسقوط کوي ملګري ښځایه مـه خرابوئ! مولوي صاحب هغوی ته وویل: که تاسو خامخا ځئ زه تاسو نه راګرځوم په مخ موښه دا خو مخـالفین اوس هـم لري دي مونږ دلته دچغسرایي(اسعد اباد) بازار له دروازو نـه مخالفین په شاتمبولي او دولایت دپریښـودو سـوال نـه پیـدا کیږي اونه دومره بیهمتي به وکړم په دې سره هغوی موټروته پورته شول او په منډه روان شول مولوي صاحب خپل موټرتـه پورته شو خپلو ملګرو سره یوځای شینکوړک ته ورغـی هلتـه ی کونړ کې په خدمت مامور طالبان پاتـه وو کـومکي کسـان تښتیدلي وو، دمولوي صاحب په حکم مجاهدینو خـط واچـوه او بیا ځـو ورځـې پـس شـهید مـلا داد الله اخنـد پـه راتـګ مخالفینو باندې تعرض وشو او په لنډ وخت کـې ولسـوالی ونیول شوه.

مولوي علي خان وایي: کله چـې دکومـک لپـاره راغـلي کسان بیرته وتښتیدل دې کار دشته مجاهـدینو پـه مورالونـو زیات منفي تاثیر وکړ، خو شینکوړک ته دمولوي صاحب تـګ او هلته دخط اچولو حکـم مجاهـدینو تـه مـورال او حوصـله ورکړه بیا مولوي صاحب ماته دنـورو ملګـرو نـه جـلا ماتـه ویل:دوی ماته وایي ولایت تخلیه کړه، ایاولایت داسـې تخلیـه کړم چې زه تري ژوندی ووزم؟ زه به ترهغه ولایت مخالفینوته پرنیږدم چې څو زما مړی له دې ځایـه نـه وي لاړ ، زکـه پـه شریعت کې له جګړې نه تیښته او په شاه تګ جوازنلري... خو انشاء الله مونږ به بری ترلاسه کوو لوی تشویش نشته.

داطاعت کولو جذبه یې:

مولوي صاحب چې دشریعت ښه خبیر عالم و، همیش به یې دشریعت په حکمونو خپله هم دعمل کوښښ کـاو اونـورو ملګروته به یې په شرعي حکمونو دعمل کلکـه توصـیه کولـه دځان په باب به یې ویلې: زه دلته دخدمت او داعلی کلمة الله په سپیځلې جذبه او اراده راغلی یم، له دې پرتـه بلـه هـیڅ اراده نلرم، اونه راته په خدمت کې دولایت څوکی ستر اهمیت لـري که ما امیر المومنین دو لایت څخه لرې کوي او په ځای یې راته بل ددینه وروکی مسولیت راکوي نوزه یې په قبلولو کې تـردد نلرم زکه چې ماته دولایت څـوکی مهمـه نـده بلکـې دامـارت واکمنې مهمه ده او په امارت کې خدمت مهم دی که هغـه پـه لویه څوکی وي او که په وړه!

له رياکارۍ اوځان ښوونې کرکه:

د مولوي صاحب هر کار دالله(جل جلاله) درضاء حاصلولو لپاره کاو، دغه وجه وه چې تل به يې له ځان ښوونې او دخپل نوم ځلولو نه نفرت درلود، کوښښ يې دا و چې خلکو ته يې کټه ورسي او بې ځايه وخت تير نکړي، له عبثياتو يې نفرت و.

دامارت دمشرتابه عاليقدر امير المؤمنين(رحمه الله) ورباندې کلک باور او اعتمادو دامارت په وخت کې کونړ يواځينی ولايت و چې دهغه دکُلي اوجُزي عوايدو مصرفولو واک يې دوالي صلاحيت وبل پلو مولوي صاحب دبيت المال په مصرفولو کې دځان په اړه له پوره تقوا او احتياطه کار اخيسته البته دمجاهدينو دستونزو په حلولو کې يې لاس بيخي خلاص وپه طالبانو زيات مهربان و، هميش به يې دمجاهدينو او طالبانو لپاره دکاليو او خوړو په برابرولو کې له سخا کاراخيسته او هم دعام ولس په بې وزلانو او غريبانو مهربان و، هميش يې دعامو خلکوته نغده کومکونه ليکل ، په خاصه توګه په علماوو يې زيات پام و، دقومونو اوقبايلو مشرانو او ستازو ته يې د پخوانيو حکومتونو ددود او دستور سترګه کتل ورته پګړۍ او تحايف به يې ورکول دهغوی دشان او مقام سره سم به يې دهغوی نوازش کاو،دقبايلي سيمو مشران اوعلماء چې به کله ولايت ته راتلل هغوی ته له استوګنځيو نيولې ترسورليو پورې ټولې اسانتيا وې برابرولې په احترام او درناوي به يې هغوی بيرته رخصتول دنوموړي دهمدې رويې په برکت په ټولو قبايلي سيمو کې داسلامي امارت مخالفين نشوای تم کېدلی، خلکو په لارو تګ راتګ ته نه پريښودل، يو ځل دمسعود په اشاره دکونړ يوشمېر مخالفينو غوښتل دمهمند ايجنسۍ اړوند شيخ بابا او سوران سيمو نه په تيريدو دشونکرۍ او ننګه سر دلارۍ په خاص کونړ او سرکانو ولسواليو حملې وکړي، دمولوي صاحب لخوا قبايلوته ديوليک په ورليږلو هغوی ټول راووتل له مخالفينو څخه يې وسلې او مهمات ونيول او اجازه يې ورنکړه چې په کونړ کې مشکلات پيدا کړي، دا هرڅه دمولوي صحاب دښې حکومتدارۍ او د اسلامي رويې په برکت کېدل چې دمخالفينو ټولې دسيسې او شومې توطئې يې شنډې کړې

مولوي صاحب تل خپلو ملګروته دتقوا ،اخلاص، للهيت او ددښمن په وړاندې داستقامت او جرئت توصيه به کوله په خاصه توګه طالبان خو يې خپلو مسؤليتونو ته ډېر متوجه کول او دحالاتو نزاکتونو ته يې ځېر کول دهغوی دستونزو او حوايجو پوره کولو په باب يې پوره پاملرنه درلوده په دې علاوه دطالبانو دقربانيو، دهغوی داخلاص زيات قدردان و،او ورباندې دپلار په څېر مهربان و.

په دې علاوه مولوي صاحب خوش طبعه و، خو ازاد طبعه نه و، له ملګرو سره يې په مجلسونو کې ظريفانه برخورد لاره ، عادي ټوکې ټکالې يې هم کولې، د استادانو له خولې اوريدلې ظريفانه نکلونه او کيسې به يې کولې، ليکن ازاد طبعه انسان نه و، دشريعت څخه يوادنی مخالف حرکت ورته دزغملو نه و، اونه يې دشريعت څخه په مخالف عمل سترګې پټولې په ښکاره يې له بيحيايۍ او منکراتو کرکه او نفرت درلود، خپلو ملګروته يې تل په کلکه له بدو اخلاقو او بدو کړنو څخه دپرهيز توصيه کوله هم دا راز مولوي صاحب بدګفتاره نه خوړزبی مشر و، که له يوچا به هرڅومره لويه سهوا او خطاء وشوه هغه يې راته نه، چا يې له خولې کنځلې ندي اوريدلې بل دټولو خلکو رايو او مشوروته يې دقدر په سترګه کتل، په دې لړ کې يې ديو عام ساده سړي خبرې ته يې هم په مجلس کې غوږ کيښود دهغه مشوره يا خبره يې په پوره غور سره اوسره سينه اوريده.

په کورنۍ ژوند کې يې هم دچا سره کومه ستونزه نده راغلې، ترپايه يې دخپلو خپلوانو سره حسنه روابط لرل، ټولو ورته داحترام په نظر کتل مولوي صاحب ذبيح الله چې دنوموړي دتره ځوی او اوږده موده ديروان او کاپيساه دطالبانو نظامي دلګی مشر پاته دی وايي:مولوي صاحب له کورنيو معاملاتو نه نيولې تر جهادي او سياسي معاملاتو

پورې په ټولو کې معتدل او میانه روه دریغ ښتن و،په کورني ژوند کې تر اوسه له نوموړي څخه هیڅ یو خپل یا رشته دار ندی خفه شوی ، دهر چاسره یې صمیمانه برخورد لاره، په دې وجه یې دهرچا یې احترام کاو ، هم دا راز په سیاسي او جهادي میدان کې یو کامیاب، مدبراو په کارپو مشر و دکونړ غونډې له ستونزو او مشکلاتو نه ډک ولایت کنترولول ددې ښکاره دلیل دی چې نوموړی دښې حکومتدارۍ له اصولو او رموزو څخه خبرو دکومو پېژندل چې دهر مشر او واکمن لپاره ضروري دي.

په دې علاوه یې دخپلو استادانو سره یې هم ډېر نیږدې اړیکي لرل، په خاصه توګه د شهیدشیخ الحدیث مولانا محمد حسن جان مدنی سره یې زیات محبت و، په هغه علاوه علامه سید قریش بابا قاضي صاحب محمد آمین او دطورو مولانا غلام محبوب وربانډې له ځان هم ګران ول، دتصوف او سلوک په برخه کې یې بیعت له حضرت شیخ الحدیث مفتي اعظم محمد فرید (رحمه الله) څخه کړی و، سبقونه یې پای ته رسیدلي وو، اوخلافت ته نیږدې وچې مفتي صاحب (رحمه الله) وفات شو، دهغه د وفات وروسته یې بل چاته رجوع ونکړه.

په افغانستان دامریکایانو یرغل او داسلامي امارت سقوط له امله نوموړی سخت خواشینی و، همیش به یې ویلې چې وروستی لویه ارزو مې داده چې افغانستان له امریکایانو ازاد شي او پکې یو واربیا داسلامي امارت واکمني راشي په موجوده امریکا یې رژیم له کار کوونکو یې زیات بدانګېرل دافغانانو ستونزو ،کړاونو او مشکلاتو ډېر خفه کاوه، همیش یې دافغانانو لپاره د ازاد مسلمان او خوشال راتلونکي دعاء کوله.

ناروغي:

دڅه مودې راهیسې ورته دشکر او د وینې فشار ناروغي پیدا شوې وه، دهغې په وجه یې روغتیایي حالت ښه نه و، په ژبه یې له ناروغۍ څخه شکایت نه کا و، څه موده پس یې دسترګو لید هم کمزوری شو، کرار کرار یې نیم بدن متاثر شو، دعلاج او درملنې کوښښونه یې وکړل قاري صاحب بریال اوملګرو یې وخت په وخت پوښتنه کوله، له وفات وړاندې یې روغتیا یې حالت ترډېره را ښه شوی و، دسترګونظر یې هم یوڅه بیرته ځای ته راغلی و، خو داچې دمرګ ټاکلې نیټه نه بدلیږي،نو ټول تدبیرونه ناکام شول بالاخر دتمې او توقع خلاف د۲۰۱۴زکال د لسمې میاشتې په ۳۰ مه نیټه دپنجشنبې په ورځ دسهار داشراق لمانځه کولو وروسته یې روح والوت او دتل لپاره یې سترګې دفاني نړۍ څخه پټې شوې داولادونو سربېره په سوونو شاګردان(چې زیاتره یې دیني علماء مدرسین اومجاهدین دي) مجاهدین او ملګرې صدقه جاریه پرېښودل په جنازه کې یې په لنډوخت کې لوی شمېر عوامو او خواصو دامارت مسولینو اومجاهدینو ګډون وکړ،دجنازې وروسته یې جسد دکواټ غلام باندې ماجرینو په هدیره کې خاوروته وسپار ل شو انا لله وانا الیه راجعون، ان لله ما أخذ وله ماأعطی وکل شئ عنده بأجل مسمی.الله تعالی دې مولوي صاحب ته مغفرت نصیب کړي او دنوموړي ټولې ستړیاوې، جهادونه ، درسونه او تکلیفونه دې قبول کړي او الله تعالی دې دې ورته په جنت الفردوس کې ځای ورکړي او دنوموړي کورنۍ، خپلوانو، شاګردانو ملګرو او دوستانو ته دې جمیل صبر په نصیب کړي آمین.

ليکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سيد ابو الحسن علي ندوي (رحمه الله) ژ: ابوظهير

په اسلامي هيوادو کې داسلاميت اومغربيت ترمينځ کشمکش

تونس

دتـونس ولسمشرـ(بورقيبـه) لـه کـړو وړو او وينـاوو داسـې ځرګنـديږي چـې دنومـوړي هغـه کلتـوري سـفر(کوم چـې دده دافکارو همرنګ دی، د کوم تلقين چې مغربي او مسيحي داعيان او مستشرقين کوي) دوام ولري، او تر اوږدو مهالو پايلو به وغځي او اوس په هغه مرحله کې دی چيرې چې داشاريو او کنـايو حـدود پـای تـه رسي، پـه دې توګـه اوس نـوموړی د کـوم دار او انديښنې پرتـه خپـل اندونه ښکاره کـوي پـه اړه يې د جسـارت څخه کار اخلي، ددې خبرې عت دليل دنومـوړي هغـه وينـاوې دي، چې په اسلامي نړۍ کـې يـې يـوه ستره هنګامـه پيـداکړه، تـونس کـې دنړيـوال کلتـوري کـانفرانس مدرسـينو او مربيينـو ځانګې ته دوينا پر مهال يې وويلې [چې دتونس ورځپانو دخينـو فقراتو اوجملو په حذفولو خبره کړيوه چې پـه اسلام او درسـول الله (جـل جلالـه) پـه ذات يـې کلکـې حملـې کـړې وې] او هـم رسمي ورخپانو حذف کړې وې دلبنان څخه خپريدونکي اوونيـز اخبار الشهاب دخپل اووم کال په لومړی ګنه کې کومه چې پـه ۱۹۷۴زکـې داپريـل پـه ۱۵مـه نيټـه لـه چاپـه راوتي لانـدې فقـرې خپرې شوې:

(۱)- قـرآن کـې تضـاد دی، چـې عقـل يـې تـه مني لکـه: يوځای وايي﴿ قل لن يُصِيبَنا اِلا ماکتب الله لنا اوپـه بـل ځـای کې وايي:اِن الله لايُغيرُ مَابِقَومِ حَتى يُغَيِرُوا مَا بِانفسِهم.

خبرنه:

د تـونس ولسمشرـ تـه چـې د کومـو ايـاتونو تـرمنځ تضـاد ښکاري! يا داچې نوموړی له عربي ژبې سره نابلد دی [ځکـه چـې ذده کړې يې فرانساه کـې کـړې] او يا دا چې د قـرآن او دهغـه تفسير د نه مطالعې پايله ده.که د اسلامي علومو يې ادنی عالم تـه يې هم رجوع کړيوه، نو ددې شبهې ښکار کيده به نه!

(۲) ـ محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ :ژ) يـو سـاده انسـان و، چـې پـه عربي صحرا کې يې زيات سفرونه کـول او رايـج الوقـت خرافـات اوريدل، بيا يې هغه (خرافات) په قرآن کې نقل کول لکه دموسی دعصا قيصه؛ چې عقل يې دتحقيق وروسته منلوته تيارندی!يا لکه داصحاب کهف قيصه!

خبرنـه: پورتـه تـور پـوري کـول هـم دتـونس د ولسمشرـ دناپوهی او دهغه فکري انتشار غمازي کوي، کوم چې ۱۹مې پيړۍ په پای کې پـه نويـو ذده کونکـو پيـدا شـوی ، هغـه مهـال علمي اوتاريخي بحثونو وده نه وه مندلې! لـيکن پـه نـوي عصرـ کې دغه دول دعوې کوم جواز نلري او بريښي ي چـې ولسمشرـ بورقيبه قـرآن پـاک درسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ تـاليف بـولي! نـه اسماني کتاب!

(۳)ـ مسلمانانو محمـد هـم معبـود ګرځولی ! ځکـه هميش هغه [محمد صلی الله عليـه وسلم] يـادوي! ددې دا مطلـب دی چې الله په محمد رحمـت ليـږي! کـوم چـې د محمـد دخـدايې درجې سره مرادف ده!

خبرنه: دا هـم دولسمشرـ بورقيبـه دنـاپوهی بـل دليـل دی، چې په هره موضوع کې دتحقيق پرته دخولې چولولو شـوق پـوره کوي، درود او دعاء د معبود ګرځولو سره تړي،حـا داچـې دغسـې دعاګانې پـه ټولو اسـماني او دينـي کتـابونو کـې هـم راغلي چـې

ورخخه پخپله دانسان دبنده ګي او احتیاج ثبوت جوتيږي. چې ورته له خدايه درحمت دنزول غوښتنه کيږي(الصباح – تونس دمارچ ۲۰- ۲۱مه ۱۹۷۲ز).

مونږ دنوموړي په پورتنيو ويناوو ددط زياته تبصره نه کوو، خکه ولسمشر بورقيبه کوم دپام وړ علمي مقام نلري، او نه دهغه د ويناوو ترشا کوم فکر يا مطالعه شتون لري، البته ددغو څرګندونو څخه چې کومه نتيجه راوزي هغه داده چې ولسمشر بورقيبه د کمترۍ احساس اود ذهني غلامۍ ښکاردی.هغه اسلامي زده کړې دخپل عمر په داسې وخت کې ندې کړې چې ور کې پوهه پيدا کيدای شي او س يوه ضروري پوښتنه دا پاتـه ده چې هرهغه تن چې دغه ډول اسلام دښمن اندونه (نظريات) ولري ايا هغه بيا هم دننه داسلام په دايره کې ګڼل کيدای شي کنه؟ او هغه ددې حق لري چې په داسې هېواد حکومت وکړي چې اکثريت وګړي يې مسلمانان دي؟

دولسمشر ددغو څرګندونو په غبرګون کې داسلامي نړۍ او په خاصه توګه ديني کړيو کې اضطراب وليدل شو، دپورته پوښتنې غوره ځواب [اتفاقاً په عين هم هغه ورځو کې د مديني داسلامي جامعې (مديني پوهنتون) دتعليمي کميټې غونډه روانه وه، چې ورته دزياترو اسلامي او عربي هېوادونو څخه وتلي استادان او پوهان راغوښتل شوي وو، زه هم دیادې کمېټې دغړي په حيث حاضر وم، دغه مهال په يو جلا ناسته کې دبورقيبه دپورتنيو څرګندونو څېړنه او ارزونه و شوه، او بيا په پای کې دغونډې ټولو ګډونوالو يې غندنه وکړه هم يې دبريښنايي پيغام دلارې بورقيبه ته دعلماوو پيغام واستول شو، په کوم کې چې په ښکاره ددغسي افکارو خاوند داسلام له دايرې څخه وتلی ګڼل شوی!

په پورتنو درې نيوکو سربېره کومې چې دهغه په وينا کې راغلي، دبورقيبه چې نور کوم افکار درسول الله ﷺ دحيات! اسلامي عقايدو او دعبادت دطريقو په اړه ښکاره شوي دي، له هغو جوتيږي چې نوموړی ولسمشر نه يواځې داسلامي اصولو له مبادیو او شريعت سره موافق ندی بلکې غواړي دتونس مسلمانان هم دبې دينۍ لورته بوزي، او دهغوی په زړونو کې هم ددينې عقايدو او حقايقو په اړه شکوک او شبهات واچوي ددې پېښې نه دا اندازه لګول ګرانه نده چې هغه تونس کومه خوبيول غواړي؟ هغه تونس چې دابن خلدون په څېر لوړرتبه اسلامي فکر، عالم او محقق يې پيدا کړی ، په کومه خاوره کې چې سلګونه محدثين،فقهاء، مشايخ او اولياء ه پيداشوي دي، مونږ پوهېږو چې دولسمشر بورقيبه په وينا هلته داسلامي کړيو لخوا دنه غبرګون ښودو ورروسته تونس ديوې سترې غربې بېلګې کېدو اندېښنې نورې هم سيوا شوې او ددې لپاره کيدونکي کوښښونه نورهم تيزۍ روان دي!

الجزاير:

دلکونو مجاهدينو د بېمثاله قربانيو ورروسته چې په ۱۹۶۲زدجولايې په ۳مه نېټه دفرانسوي ښکېلاک داشغال په پای ته رسيدو الجزاير ازادې ترلاسه کړه او دواک چارې يې دازادۍ پوځي محاذ ته وسپارل شوې دفرحات عباس او احمدبن بلا په مشرۍ خپلواک حکومت جوړشو، کوم چې دبن خده دجلا وطن حکومت ځای ناستی شو، په ۱۹۶۳ ز کې دستمبر په ۱۵مه نېټه رايه اچول ترسره شول په نتيجه کې يې بن بلا دخلک ديمکراتيک الجزاير ولسمشر غوره شو، احمد بن بلا دجمال عبد الناصر له دوستانو او همفکرو له ډلې څخه و ، دهغه په انتخاب کې جمال عبد الناصر ملاتړ او دهغه مرستو هم رول لاره،په واک کې راتلو سره جوخت الجزاير داشتراکيت په لور روان شواو دجمال عبد الناصر په څېر يې د ديني ذهنيت د را محدودولو او له حکومتي کړيو څخه دلري کولو کوښښ وکړ او په مقابل کې يې دکمونزم پلوو رژيمونو سره يې اړيکې پراخ کړل .

الجزاير کې جهاد او جنګ د شهادت او اسلامي غيرت په جذبه و شوی ، ورکې دقربانۍ او ايثار داسې پېښې و ليدل شوې چې په تيرو نيږدې څو پيړيو کې دهغه مثال نه مندل کيږي.[ديوې څېړنې له مخې دالجزاير دازادۍ په جنګ کې ۱۵لکه خلک شهيدان شوي (الاصابه الجزاير)]خو دازادۍ ترلاسه کولو ورروسته سياسي قيادت دهغه چا لاسو ته ورغی چې هغوی

له ديني او روحاني مرکزونو څخه لري په فرانسوي روزنتونو او تعليمي ښوونځيو کې روزل شوی و، په هغوی کې ځوتنه داسې مشران او رهبران هم ول چې ورته ته عربي ژبه اجنبي ژبه وه، هغوی تريوې مودې پورې په محبسونو کې يا په غير اسلامي چاپيريال کې دژوند تيرو لو له امله په ذهني توگه داسلام له اخلاقي ښوونو سره نابلد ښکاريدل، هغوی د هېواد په تعمير او بيا ودانولو کې دديني اساساتو پر ځای د نا اسلامي بنستونو څخه د کار اخيستوهڅې وکړې.

څېړنه:

په ۱۹۶۲ زکې داپريل په ۵مه نېټه هندوستان کې دانگريزې ميډيا لخوا خبر خپور شو چې په هندوستان کې دالجزاير دعبوري حکومت استازي شاغلي بکر په يو خبري کانفرانس کې وويلي: چې ازاد الجزاير به يو سيکولر جمهوري هېواد وي البته کلتور به يې عربي او اسلامي وي دتولو ښاريانو حقوق او مکلفيتونه له يوبل سره به برابر وي او دملگرو ملتونو لخوا منظور منشور او بشري حقوق به په الجزاير کې نافذوي.

ددې حالت اندازه (دکوم پرضد چې دالجزاير اسلامي روح او دشهيدانوپاکو وينو احتجاج کاوه) دالجزايري علماوو د يوې وينا څخه کېږي کومه چې مونږ ته دلندن ديوې يهودې ورځپاڼې(observer jewlsh) له لارې رسيدلې ياده ورځپاڼه د ۱۹۶۲ ز کال داگست ۳۱ مې نېټې په گڼه کې په الجزايرکې دخپل خبريال دخولې ليکي:

دالجزاير ديني رهبرانو اعلان کړی دی چې په الجزاير کې به اسلام او عربي ژبه برتري لري، هغوی پرهغو ملت پالو گوندونو کلکه نيوکې کړې، کوم چې داوسنۍ زمانې سره برابر دهغه نوي الجزايري حکومت ملاتړ کوي،چې يکې به دين په حکومتي چارو کې ونډه نلري.

دعلماوو لخوا په دغه وينا کې ښه صراحت ويل شوي چې د الجزاير جنگ دخپلو هغو شهيدانو سره د بې وفايې او خيانت ارتکاب دی کوم چې داازادۍ په لار کې شهيدان شوي او دابه په تاريخي مقصد کې بشپړه ناکامې گڼل کېږي، که اسلام دحکومت د رسمي دين! او عربي دهېواد د رسمې ژبې په توگه ونه گرځول شي ولې .دجنگ بندۍ دايريان لوظنامه په ښکاره ډول وايي: چې دالجزاير په راتلونکي اساسي قانون کې به يوه ماده دديني ازادۍ په اړه وې فرانسوي او عربي دواړه ژبې به د دولت رسمې ژبې وې! او داچې دهېواد داستازو په اړه طی شوې وه چې دستمبر په ۹مه به هغوی راغونديږي دهېواد داساسي قانون مسوده به جوړوي دا ناسته ځوځله وځنډول شوه، دپوځي او سياسي چارواکو دکشمکش په وجه په ياده دغه نيته جوړه نشوه.

اوس دالجزاير علماء د فرانسوې واک دپای ته رسيدو وروسته په لومړي ځل ديوې ښکاره وينا له لارې اعلان کوي چې ازادي او دهېواد اقتصادي پرمختگ دالجزاير دانقلاب غايت نشي گڼل کېدای هغوی پخپله وينا کې وايي: هرآزاد ولس خپل جلا انفرادې وجودلري، که داسې نه وای نو دنړۍ قومونه به ديوبل سره داسې کډ وډ وای لکه په اوبو کې کبان، دالجزايريانو فرانسويانو او هسپانويانوترمنځ به کوم توپيرنه و پاته، که چېرې داسې نو مطلب داچې الجزاير به يو پرانيستی نړيوال رياست وگرځي مونږ دغسې يو حالت سره اختلاف لرو، مونږ الجزايريان يو، مونږ خانگړی او خپلواک وطني شخصيت لرو او دا زمونږ ددين(اسلام) زمونږ دژبنيو(عربي) اقدارو او تاريخ يوه ناطقه پريکره ده.

دعلماوو په پورته وينا کې له حکومت څخه داسلام جلا کولو کوښښونه له انقلاب سره غدارې او پخپله داسلامي امت په کور يرغل او دتول الجزايري ولس دتوهين مرادف گرځول شوی (المسلمون ۹مه گڼه جمادی الاولی ۱۳۸۲هق اکتوبر۱۹۶۲)

په ۱۹۶۵ز کې دپوځي انقلاب راتلو وروسته حواري بومدين واک ته ورسيد، هغه احمدبن بلا قيد کړ، بومدين دبن بلا په پرتله دسياسي ذهن لرلو په ځای زيات د اداروي ذهنيت څښتن و، له دې وجې هغه دعربي ژبې دودې لورته پام وگرځاو، هم يې تعليم ته وده ورکړه، دهېواد د بيا رغوني لپاره يې پلانونه جوړل کړل دبلا په پرتله هغه دنارو وهلو څخه ډډه وکړه، او دهېواد دسياسي

کلوړینې پاڼې

کندز ته!

مولوي ولي الله ذهين

دتاریخونو دننګ منار دی کندز
داد رهبر دلاس یاد ګار دی کندز

دېردو سرچې پکې ښکیل شي ببل شي
واورئ دسرو سکروټو هار دی کندز

موږه ګڼلی دی امام د فتحو
هر یو مغرور دښمن ته دار دی کندز

اې دکندز فاتح اتله شنا
دخدای نصرت او داستا زیار دی کندز

ددې وحشي غلام رژیم پر تنده
له عبرتونو ډک ګذار دی کندز

دتور تمونو په دې توره غیږ کې
اوس راختلی سپین سهار دی کندز

سرخوري ذهینه دادغرب شیطانان
وهر مغرور ته ذلفقار دی کندز

دکابل هیله

مل غني خيل

مجاهده په زړګي کې مې اوسېږې
مجاهده زما کوګل په تا ودان دی

مجاهده چې دځنو ګرد دې ښکل کړم
مجاهده بس همدا زما ارمان دی

مجاهده ستا له ړنګي ځواني جار شم
مجاهده دغه خومره بختور یې

مجاهده حوري هم پرتامیني
مجاهده په بخت دومره زورو یې

مجاهده تور توپک دې نظر مه شه
مجاهده ګردني دې خومره خوند کړي

مجاهده ستا په غاړه امیلونه
کتارونه دمرمي دې خومره خوند کړي

مجاهده پرښتې دې بدرګه کړي
مجاهده پرلمبو مې قدم کېږده

مجاهده پر شمشاد پامیر راجګ شه
مجاهده پراوړو مې قدم کېږده

مجاهده بیرته ما دشملې ګل کړه
مجاهده راشه راشه ما درخپل کړه

مجاهده زه همغه ستا کابل یم
مجاهده دا ستا ویاړ راسره مل کړه

د کلي مسجد

عرفان الله عرفان

زموږ دخړ کلي مسجد اوس کنډواله غونډې دی
بس یو محراب یې ښکاري
منبر یې رنګ دی په سرو وینو باندې
اوس یې هادنګې منارې نه وینم
اوس مې ترغوګ دآذان غږنه راځي
نه یې امام نه مؤذن وینمه
نه مقتدي نه یې خادم وینمه
هادمسجدڅنګ کې ولاړه حجره هم ړنګه ده
چې به دېره پکې همېش وه مسافرطالبان
ټول څنورطالبان
په ونه دنګ لکه نښترطالبان
ورته راتلل به لراوبر طالبان
ورته به شیخ صاحب په مینه سبقونه ویل
چابه واړه اوچابه غټ غټ کتابونه ویل
څومره عجیبه وخت وه
له دې شاو خواکلو به
په ډلوډلوماشومان هم راتلل
تنکولاسوکې به یې
وې رانیولې سپارې دقرآن
چابغدادي قاعده
استاد به ناست وه په صفه دمسجد
ټول ماشومان به تر ېنه چارچاپېروه
چابه الف اوچابه با ویلې
چاکلیمې دلا اله ویلې
اوس تشې تورې دي دکلي کوڅې
چې به چنیان له مدرسې نه ورتلل
دوظېفې لپاره
بس ددکلي په مسجدکې نورڅه نه دي پاتې
یوڅوکتابه په تاخچوکې ګردوهلي ایښي
ورباندې لیک دی یویادګار دمسافرطالب جان

د غزني د زندان
د ماتیدو په پلمه

مولوي رضوان الله (فیضاني)

پل پر پل ماتېږي هر وحشي زندان
وار دی د بګرام او د څرخي زندان

نه شو نور زغملی د وحشت پنجرې
دا د ستمو او بربریت پنجرې

نور به نړوو هر طاغوتي زندان
ډېرې دي حیرانې زولنې راته

دا د سرو کفارو جېل خانې راته
مونږ ته نه تینګېږي فولادي زندان

نه کوو بلکل د ولچکو پروا
نشته خیال کې زمونږ ځنځیرو پروا

تل به ماتوو هر فرعوني زندان
بیا هر یو زلمي کولنګ راخیستی دی

هم یې تبر بیل په څنګ راخیستی دی
نه پرېږدي نور دلته صلیبي زندان

وایي (فیضاني) چې مونږ تکل کړی
مونږ د ابراهیم پر پله مزل کړی
ړنګ به کړو نن هر یو نمرودي زندان

او اجتماعي ترقی او يوالی خواته متوجه شو، خو هغه دخپل مزاج په وجه او دالجزير دېڅلو کورنيو ستونزو په درلودو يې داسلامي نړۍ په ستونزو کې زياته ليوالتيا وانه خيسته. دهغه په وجه الجزاير چې دنورو هېوادو لپاره د سرخاروني، قرباني او ددیني غيرت اوحميت له پلوه رهبر گرځيداى ، دخپل رول په اداء کولو کې پاته راغی.

په الجزاير کې چې کوم سياسي گوند جوړشوی و، هغه داشتراکيت،قوميت او داسلام شعار پورته کړ، خو په دې لړ کې دسياسي رهبرانو زياته توجه داشتراکيت په خواوه او داشتراکيت غوره کولو او هغه ته دترجيح ورکولو په وجه په الجزاير کې هم هغه فکري تضاد او کشمکش پيداشو، کوم چې په نورو اسلامي هېوادو کې ترسترگو کېده، داشتراکي فکر پربنسټ الجزاير دعربي ختيځ له هغو هېوادو سره زيات اړيکي او روابط جوړکړل چې اشتراکي ذهن يې لاره، داشتراکي فکر په وجه يې ددینې گوندونو او او داسلامي برم دبيا احياء کولو په چارو بوخت ډلو سره يې تصادم رامنځته شو.

د الجزاير په حکومتي او تعليمي مرکزونو او سياسي تنظيم کې يواځي هغو خلکوته دکار ورکولو موقع ورکول کېده څوک چې داشتراکي ذهنيت لرونکي ول ولسمشر- رابح بيطاط چې دولسمشر- بومدين دمړينې وروسته ترڅه مودې خاى ناستى ولسمشرو د سياسي تنظيم حزب جهة التحرير الوطني په غونډه کې دا اعلان وکړ:

هېواد کې اشتراکي انقلاب ترهغه بريايتوب نشي- مندلی څو چې په کليدي پوستونو هغه خلک قابض شوي نه وي، څوک چې په اشتراکيت بشپړباور لري ولسمشر- پردې ډاډ څرگند کړ چې داشتراکيت د نه منونکو داغېز او نفوذ بايد مخنيوی وکړو او هغوی له صحنې وايستل شي.

تعليمي نظام چې ديو ولس ذهني تکوين او د يو قوم په راتلونکورهبرانو جوړولو کې بنسټيز رول لري ، دميثاق ملي په عنوان يې يوتعليمي نظام پلی کړ،له امله يې ديني تعليم دعصري تعليم تابع شو، ددې حالت په راتلو چې کوم نقصان رامنځته شو، په اړه يې شکوه دالجزاير مفکر شيخ احمد حماني څوک چې داسلامي تولنې مشر دی، دحزب جبهة التحريرالوطني په هغه ځلورمه غونډه کې چې دولسمشر خاى ناستى رابح بيطاط او نوی غوره شوی ولسمشر الشاذلي هم شريک ول داسې وکړه:

د ديني تعليم اهتمام په الجزاير کې پخوانۍ سابقه لري، الجزاير ته تل داوياړ ورپه برخه دی چې حضرت عمربن عبد العزيز لس فقهاء دتعليم لپاره الجزايرته راليږلي وو، په وړاندې زمانه کې په تلمسان اوبجايه کې داسې مرکزونه وو، چې ورته دذده کړو لپاره له اروپا نه خلک راتلل، اوله دلته څخه اروپا ته علوم وړل شوي ، دجهادي تحريک پرمهال ديني مدرسو خپل مسؤليت ترسره کړ، او د قوم په روزنه کې مهم رول ترسره کړ، خو دملي ميثاق په نامه چې کوم تعليمي نصاب پلی شوی، دهغه له امله ديني مدرسو ته سخت زيان رسيدلی دی مونږ پوهېږو چې د دې نظام په وجه په غير ديني مدرسو کې ديني تعليم رايج شو، او ديني تعليم عام شو خو دا نتيجه ددې برعکس راووته.

شيخ حماني انديښنه وښوده چې دڅه مودې نه پس په اسلامي مدرسو کې سبق ويونکي طالبان دلوړو زده کړو څخه محروم پاته وي په پوهنتونونو کې چې دديني تعلم کوم واجبي نظام دی هغه دديني ذهن د جوړولو او د ديني علومو د ترويج صلاحيت نلري.ددغه تعليمي نظام په وجه چې کوم خلک تيارېږي هغوی به دخپل دين او ثقافت سره اشنا نه وي، هغه د دې حالت دمقابلې لپاره وړانديز وکړ چې اسلامي تعليم، عقايد، عبادات، معاملات او اخلاق دتعليم په هره څانگه کې بايد پلي شي د ښوونځيو ليسو، او پوهنتونونو په تولودورو کې دې داسلامي علمو اختصاصي څانگې پرانيستی شي څنگه چې دنورو علومو دتخصص لپاره څانگې پرانيستل شوي ددې لپاره همت پکار دی هغه تول وسايل دې په کار اچول پکاردي کوم چې دنورو علومو لپارپه کار اچول کېږي.

اسلامي پوهنتون او ديني ليسه دې جوړه شي، دهغو لپاره دې داسې استاذان غوره شي څوک چې اهل وي او ديني شعور ولري.

دقرآن پاک دحفظ لپاره دې جلا عامې مدرسې جوړې شي او قرآن حفظ کوونکي دې تشويق او ترغيب کړای شي.

مدرسو او مسجدونو ته دې پاملرنه وشې دهغو دلګښتونو پوره کولو لپاره دچندو او مرستو په راټولولو لګيدلی بنديز دې لغوه شې څو دغه اداري پخپلو پښو باندې ودريږي.

دعلماوو او ائمه وو ديني روزنه دې و شي څو له بيرون څخه داستادانو راوستو ته اړتيا نه وې

په تلويزون او راډيو کې دې ديني برنامو ته وخت زيات شي او دهغو لپاره دې ديندراه او روزل شوي خلک وګومارل شې.

داسلامي لارښوونو درناوی دې وکړای شي او څوک چې يې توهين يا ورپورې توکې تکالې کړ ې دهغوی پرضد دې سملاسي ګامونه پورته شي، په هغو فلمونو او راديوي پروګرامونو دې بنديز ولګول شي چې داسلام او د ديني شعايرو دتوهنين مرتکب کيږي..

دشيخ احمد حماني له غوښتنو څخه څرګنديږي چې الجزاير له ديني، تعليمي او اخلاقي پلوه په کومه خوا روان دی؟ اونوی تعليمي نصاب چې دراتلونکو رهبرانو دروزنې ضامن دی او رسنی چې دنوي نسل ساتنه کوي دهيواد لپاره يې ستونزې پيدا کړيدي، او دراتلونکي لپاره خطرونه زيږوي.

ددې ترڅنګ دا خبره هم لحاظول پکاردي چې دالجزاير قيادت په هره شعبه او هره څانګه کې داشتراکيت دنفاذ په لړ کې دهيڅ ډول نرمښت قايل ندی، او هڅه کوي چې په ټولو برخو کې خپل اجتماعي، اخلاقي اوفکري معيارونه دود کړي.اوپه دې اړه يې رهبران په ښکاره اعلانونه کوي.اګرکه هغوی ددې کار ترڅنګ داسلام نوم هم يادوي خو ښکاره ده چې دهيواد دخلکو او او داشتراکيت درهبرانو ترمنځ ديو فکري تضاد پيدا يښت يقيني دی.

دا دنويو ازاد شويو اسلامي او عربي هيوادو کې ملت رهبران وخت په وخت له اسلام سره دخپل پيوستون اعلانونه هم کوي او هغوی ددې حقيقت نه خبرندي چې اوس هم اسلام دخلکو په منځ کې ترټولو ستر خواک دی او دهغه دنوم اخستلو پرته دلکونو او مليونو خلکو په زړونو حکومت نشي. کولی، خو دهغوی په زړونو کې داسلام مفهوم دهغه مفهوم نه ډېر جلا دی کوم چې تراوسه دپخو مسلمانانو کلکه عقيده ده، دهغه نه مراد هغه اصلاح شوی (neformed) دين دی، کوم چې دغربي تمدن او امغربي افکارو او اقدارو سره هم آهنګ کېدای شي.او دملت پالنې سره سمون لري، هم دا راز په قانون جوړولو او دهغوی دسياسي مسايلو او مصالحو په وړاندې مزاحم نه ګرځي په دې توګه يو لبناني نژاد عرب مبصر دا رايه اوتبصره ډېره له حقيقت اومبا لغې لرې نده چې دامريکا په يوې مشهورې مجلې (muslim wor) کې څرګنده کړې ډاکټر سالم(salem) ليکي:

ددې هدف لپاره ملت پالنې بشپړ اتحاد او اسلام پيدا کړی دی، خو کوم اسلام چې قوميت خپل کړی دی، دا هغه پخوانی وچ(خشک) اسلام ندی بلکې يو بدل او نوی اسلام دی، دجديديت په دې تحفه کې چې په هغه باندې يواخي داسلام پرده غوړيدلې دمحمد صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دقرآن نوم بيشکه ياديږي، دا ددې لپاره چې هرهغه څه لپاره سند ترلاسه شي چې ملت پالان يې غوره کوي.عربي قوميت ته په خلکو کې دمقبوليت لپاره دهمدې اسلام سره تړون ته اړتيا ده، او دخينو په اند: دعربي قوميت دنوي جوړښت لپاره داسلام له نامه بايد ښه ګټه پورته شي دعربي قوميت او اسلام په يوځای کولو سره ښه برياليتوب ترلاسه کېدای شي.(مسلم ورلډmuslim worldمضمون نيشنلزم ايند اسلام nationalism and islam) دچاپ نيټه اکتوبر ۱۹۶۲زدصدق جديد مجلې اخستل شوی نومبر ۳۰مه ۱۹۶۲ز.

نوربيا...

دشيخ الحديث حضرت مولانا محمد علي رحمه الله

دژوند حالات او دده پيژندنه

لیکنه: حاجي ظریف

لنډتعارف اوپیژندنه

شیخ الحدیث والتفسیر استاد العلماء مولوي محمد علي رحمه الله تعالي علیه ددپیژندل شوي ستر عالم الحاج مولانا محمد رسول رحمه الله زوی او دستر غازي مولوي محمد سلیم صاحب لمسی وو نوموړی د۱۳۴۷ هق کال چې د۱۹۲۹ میلادي کال سره سمون خوري دقندهار ولایت دژړی ولسوالي دپاشمول په خوګیانو کلي کې په یوه دینداره او علمي کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې.

زده کړې یې:

لومړنی زدکړې یې لکه صرف ،نحو ،منطق او دنظمو کتابونه پر خپل پلار الحاج مولانا محمد رسول صاحب وکړې چې وروسته یې د۱۳٦۱ هق کال دغزني ولایت ته دعلمي زدکړو په موخه سفر وکړ او دشلګر ولسوالي له ستر عالم مولانا غلام حیدر صاحب څخه یې امور عامه ، قاضي او حمدالله ولوستل او د همدې کال په اواخرو کې یې دهلمند ولایت دساروان کلا پر ستر ، متبحر او منلي عالم حضرت مولانا عبدالقیوم صاحب څخه ریاضي او فلکیات ولوستل په ۱۳٦۲هق کال کې یې بیر ته پلرني ټاټوبي قندهار پنجوایي ولسوالي ته راغلی او دچلغور پر نامتو عالم حضرت مولانا نیک محمد صاحب او ستر مدرس حضرت مولانا عبدالستار صاحب معاني ،حکمت او ریاضي ولوستل چې بیا یې دلوګر ولایت ته سفر وکړ چې هلته یې پر منلي او نابغه عالم محمد میر صاحب حاشیه عبدالغفور او پر ستر عالم مولانا قاضي امان الله صاحب یې کتاب خیالي ولوستل چې بیا یې د۱۳٦۵ هق کال په اواخرو کې ګاونډي هیواد پاکستان دسرحدایالت پلاز مینې پیښور ته سفر وکړ چې دفنونو پاتې کتابونه یې هلته د هنګو ،مردان ،نریاب دسیمو پر نامتو علماوو ولوستل او په ۱۳٦۸هق کال یې د پیښور صدر اړوند تاکال سیمه کې دوخت پر مشهور او نامتو عالم او ستر مدرس حضرت مولانا غلام محمد غزنوي رحمه الله موقوف علیه (وړه دوره) وکړه او دممتاز سند یې تر لاسه کړ او په ۱۳۷۰ هق کال کې یې دپیښور ښار اکوړي ختک په لویه او مشهوره مدرسه (الجامعة الاسلامیه)کې یې پر لوی او نامتو صوفي عالم شیخ المشائخ حضرت علامه عبدالرحمن هزاروي دیوبندي رحمه الله څخه کتب الحدیث (لویه دوره) ولوستله او له نوموړي یې دثقه او ثبت په لقب دفراغت او فضیلت سند تر لاسه کړ

علمي خدمات:

کله چې شیخ صاحب وخپل هیواد او پلار ني ټاټوبي قندهار ته راستون شو نو په ۱۳۷۱هق کال کې یې دقندهار ژړی په پاشمول سیمه کې په لمړي کال دخپل بې ساري نبوغ په برکت دمروجه فنونو تر څنګ دصحیح البخاري او صحیح المسلم درس پیل کړ چې ۲۹ کاله یې مسلسل دفنونو او احادثو درس وکړ چې په دې موده کې یې بې شمیره شاګردان وروزل او دفضیلت پګړی یې ور وتړلې چې دده دا علمي خدمت دستاینې وړ او له هیچا پټ نه وو چې بیا یې په ۱۴۰۰ هق کال چې کله دروس پلوه کمونیستي ثور منحوس انقلاب راغلی نو مرحوم شیخ صاحب هم دنورو هیواد والو په څیر له خپل هیواد نه ګاونډي هیواد پاکستان ته هجرت وکړ او دبلوچستان ایالت مر کز کوټې ښار په شیخ مانده سیمه کې یې دجهادي خدماتو تر څنګ ددرس او تدریس لړۍ همداسي جاري وساتله چې بیا په ۱۴۰۳هق کال کې دچمن ښار ګوتې ته ستون شو او هلته یې دحاجي عبدالصمد په مسجد ګلداره باغچه کې ددرس روانه لړۍ لاهم جاري وساتله.

دیوې دیني مدرسې تأسیس :

په ۱۴۲۸ هق کال یې دچمن ښار گوټي په گلداره باغچه کې په خپل لاس پر ۵۷۶۰۰ فوټه ځمکه دیوې لوېې مدرسې (الجامعة دارالعلوم الربانية الوقفية) بنسټ کیښود چې یوازې پر۳۸۲۸ فوټه ځمکه د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په نوم یو ستر جامع جومات ودان دی چې دا مهال دنوموړې مدرسې دارالحدیث هم دی چې دلته حضرت شیخ صاحب دژوند تر پایه د ۱۴۳۶هق کال پورې یې پکې درس جاري وساتو

دنوموړي شاگردان:

شیخ صاحب چې دعمر زیاته برخه یې په درس او تدریس کې تیره شوه دشاگردانو کره شمیره یې نشي معلومیدلای خو یوازې دفاضلانو هغه شمیره چې دسندونو له لیست نه تر لاسه شوې د(۷۵۰۰)شاوخوا ده چې ۲۵ تنه پکې شیوخ الحدیث دي چې دځینو نومونه یې په لاندې ډول دي

پیژندل شوی عالم شیخ الحدیث مولوي لاجبر صاحب
شیخ الحدیث مولوي نصرالدین هروي
شیخ الحدیث مولوي عبدالعلي دهراوودي
شیخ الحدیث مووي پیر محمد بلوچ قندهاري
شیخ الحدیث مولوي محمد علي صاحب قندهاري
شیخ الحدیث حافظ مولوي احمد صاحب قندهاري
شیخ الحدیث مولوي عبدالرزاق صاحب هلمندي
شیخ الحدیث مولوي دادالله صاحب قندهاري
شیخ الحدیث مولوي سیف الله صاحب قندهاري
شیخ الحدیث مولوي سید محمد صاحب تیروي

طریقت او سلوک: شیخ صاحب رحمه الله چې په خپل ژوند کې ډیر محتاط او عزلت خوښونکی کس وو او بې ساری تقوایې درلوده چې زیات عمر یې په ریاضت دنفس او تصوفي وظائفوکې تیراوه نو هم دا لامل وو چې بالأخره په ۱۴۰۳ هق کال یې دچمن له حاجي بابا څخه چې اصلي نوم یې مولوي داد محمد صاحب وو او دقندهار ولایت دډنډ ولسوالی دروانې اوسیدونکی وود دڅلورو طریقو نقشبندیې ، قادریې ،چشتیې او سهروردیې طریقو دخلیفه توب اجازه تر لاسه کړه او دطریقت دازرینه لړۍ یې هم همداسې وساتله چې دعمر په اوږدوکې یې په زرگونو مریدانوته یې په نقشبندیه معصومیه احراریه طریقه کې دسلوک او احسان لاره وښوده او هغه یې دخدای معرفت ته را وبلل چې تخمیناً د ۳۰ پا شاوخواکې مریدانو ته یې دخلافت سندونه ورکړل او په دې سپیڅلې لاره کې یې دارشاد اجازه ورته وکړه شیخ صاحب په حقه سره عاشق رسول وو کله چې به په مجلس کې درسول الله صلی الله علیه وسلم یا دونه وشوه نو ده به ژړل کله چې نوموړي وداکترته ورغلی نو هغه ورته وویل چې ستا دستر گو مریضي له ژړا نه درته پیښه شوې دنورو عباداتواو ریاضتونو تر څنگ یې ورځني نوافل ،په کثرت سره صلاة التسبیح او دشپې له خوا دتهجد لمونځ ډیر کاوو دهر چا دوډۍ یې نه خوړله ډیر ځله به داسې وو چې خپله وچه ډوډۍ به یې کوره ورسره اخیستې وه او هر چاته به یې دتقوا ،صبر او پرهیز گاری توصیه کوله

په مقدس جهاد کې ونډه:

شیخ صاحب چې دښه علمیت تر څنگ دبې ساري جرئت خاوند وو دروسانو دیرغل په مهال یې خپل ځو تنه ملگري لرل او دقندهار ښار ،ژړۍ ولسوالی په پاشمول ،سنزري او ارغنداي ولسوالی کې یې پر روسانو او دهغوی پر گوډاگیانو بریدونه کول او هر څه یې په خپلو پیسو وو دشر ،فساداو ټوپکسالارانو په خلاف دامیر المؤمنین له لوري درا پورته شوې تحریک لمړی ملاتړی وو بیا تر امریکا یې تا روا یرغل پورې داسلامي امارت تر څنگ ودرید او په هره جلسه او مجلس کې به یې هر چا ته دا وینا وه چې دامریکا او دراغلیو کافرانو په خلاف جنگ فرض دئ اوورسره وجنگیری ده په ژوند کې یو دا ارمان وو چې امریکایان په افغانستان کې له ماتې سره مخ شي او یو اسلامي نظام حاکم شي ده به وخپلو زامنو او شاگردانو ته ویل چې که زه وفات وم او امریکا یان مات شول نو زما قبر ته به را ځئ او پر ما به یې دوتلو او ماتې زیری کوئ !

حرمينوشريفينو ته دحج سفرونه: شيخ صاحب چي له پيغمبر عليه السلام سره يې ډيره زياته مينه وه په خپل ژوند کي ۸ ځله حرمينو ته دحج او عمرې دادايني په موخه ولاړ چي په لومړي حج يې د۱۳۸۵ هق کال دموټر په وسيله د ايران ،شام،عراق او کويټ له لارې وکړ چي درې مياشتې يې په بر کي ونيولې چي په دې سفر کي يې دډيرو انبياوو ،صحابه وو ،مجتهدينو ، أئمه وو ، او اولياوو او سپيڅلو مقاماتو زيارتونه وکړل او په دې سفر کي يې د فلسطين په بيت المقدس کي لس ورځې اعتکاف هم وکړ چي بيا يې درې حجونه نور هم همدا راز دځمکې له لارې وکړل او لدې بعد يې ځلور عمرې وکړې چي آخري هغه يې په ۱۴۲۵هق کال کي وو دپاکستان هيواد له لارې وه ٠

وفات: حضرت شيخ صاحب چي دژوند زياته برخه يې په ناروغي کي تيره کړې دا وخت هم دمريضي دتداوې په موخه دپاکستان کوټې ښار ته ولاړ او په هسپتال کي داخل شو خودا چي دصحت نصيب يې نه وو شوى نو د۱۴۳٦هق کال دځلورمې خور پر ۱۵ تاريخ دشنبې په شپه هلته په روغتون کي يې له خپل کور او کلي نه لرې دپرديسي په حالت کي خپل روح الله جل جلاله ته وسپارو او په داسي حال کي يې داجل داعي ته لبيک ووايه چي دشهادت کلمه يې په خوله کي وه او له دې نړۍ څخه يې دابد لپاره سترګې پټې کړې (اناالله وانا اليه راجعون).

دده په اړه دعلماوو نظرونه

دده دعلميت او ښې ساري حافظې په اړه دده يو شاګرد مولوي عبدالرحيم صاحب وايي چي زه يې په ماشوم توب کي شاګرد وم بيا مي ديرش کاله بعد ملا قات ورسره وشو په روغبړ او ستړې مشې ! کي مي ورته وويل چي ودي پژاندلم نو ده راته وويل هوکي عبدالرحيم يې !!

مولوي لاجبر صاحب وايي چي ما په خوب کي وليد چي راته ويې ويل کوم څه چي ما غوښتل نو هغه ټول راته رب العزت راکړل.

کرامات

دنوموړي خارق العا ده کارونه بالکل ډير ول خو دنمونې په توګه يې دلته ديو يا دوو يادونه کوم دده يو مخلص مريد او خادم حاجي عبدالواحد وايي چي دشيخ صاحب ټول ژوند کرامت وو زه به يې څه بيان درته وکړم ډير ځله به داسي وو چي کله به دلمونځ کولو او جماعت وخت را نيژدې شو نو شيخ صاحب به له وظيفې سر را پورته کړ چي دا به کټ مټ دجماعت وخت و.

کورنی پس منظر: دشيخ صاحب رحمه الله له دوو بي بي ګانو ۱۲ لورګانې او ۱۱ زامن وو لکه:

۱ شيخ الحديث والتفسير او دده ځى ناستى حضرت مولانا فيض الباري صاحب عم فيضه

۲ الحاج مولوي عبدالهادي صاحب

۳ الحاج ملا محمد ولي مجاهد

۴ الحاج مولوي عبدالعلي صاحب

۵ الحاج مولوي عبدالغني صاحب

٦ مولوي عبدالباقي صاحب

۷ الحاج مولوي عبدالي صاحب عرف خان مولوي صاحب

۸ شهيد قاري عبدالباسط تقبله الله

۹ ملا عبدالنافع اخوند زاده صاحب

۱۰ حافظ مولوي عبدالباري صاحب

۱۱ ملا عبدالحليم اخوند زاده صاحب

دمرحوم شيخ صاحب له وفات نه بعد دده مشرزوى شيخ الحديث والتفسير مولوي فيض الباري عم فيضه چي په ۱۴۱۱ کال کي يې پر خپل پلار مرحوم شيخ صاحب دفضيلت پګړۍ وتړله او لس کاله يې دټولومروجه فنونو درس وکړ او په ۱۴۲۱ هق کال يې دخپل پلار په څنګ کي دنبوي احاديثو په درس پيل وکړ او ۱۵ کاله يې دتدريس دا لړۍ جاري وساتله ،چي دده مرحوم له وفات نه بعد دده دوصيت سره سم دسيمې دعلماوو له لوري داحاديثو په تدريس او طريقت کي دده دځاى ناستى په توګه انتخاب شو نوموړى دعلمي تبحر تر څنګ ډير متواضع او متشرع شخص دى.

طالبانو

۱۴ کاله وروسته ځینې رسنۍ وګواښلې

د تلــې پــه یوویشتمه نېټه وسله والو طالبانو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره دوه خصوصي تلویزیونونه وګواښل. دغه خبرپاڼه چې د طالبانو د نظامي کمېسیون په نامه خپره شوې وه، په ترڅ کې یې د طلــوع او یــک دوو خصــوصي تلویزیونونــو او د دغــو تلویزیونونو کارکوونکو او اړوندو کسانو تـه د مـرګ ګـواښ شوی و. طالبـانو پـه تېـرو څوارلسـو کلونـو کـې پـه دغـه ډول خبرپاڼه نه وه خپره کړې.

طالبانو په خپله اعلامیه کې لیکلي وو: «د طلـوع او یـک په نوم تیلویزیوني چینلونـه هغـه تبلیغـاتي شـبکې دي، چې پـه افغانستان د کفارو د فکري، کلتوري او تبلیغاتي یرغـل د پـرمخ وړلو مسؤلیت لري، دغه شبکې د امریکایانو د پراخ ملاتـړ پـه مټ زموږ په دیني او کلتوري اقدارو ملنډې وهي، فحشـاء او بې حجابي خپروي، د ځوان نسل اذهانو ته د بې دینـۍ، بـداخلاقۍ، خشونت، قمار، اختلاط او بـې حجـابۍ غونـډې مضرـ افکـار پیچکاري کوي او په څانګړي ډول د جهاد او مجاهدینو پـه اړه له کرکې او برېنډې دښمنۍ څخه ډک تبلیغات کـوي». طالبـانو داسې مهال دغو رسنیو ته د مرګ ګواښ وکړ چې څو څو ځلـه په کابل کې د ډېرو مسجدونو امامانو او ځینـو اسـلامپالو مـدني فعالانو هم د دغو تلویزیونونو پر ضد خپل غږونه پورته کړل. د دغو رسنیو پر خپرونو په تېره د اختریزو مېلو پر مهـال پراخـې نیوکې شوې دي؛ خو تر اوسه د دغو رسنیو اړوندو کارکوونکو دخپل کار په دفاع کوم غبرګون نه دی ښودلی.

ولې ګواښي؟

کـابو دوه اوونـۍ وړانـدې، طالبان وتوانېدل چې د هېواد پـه شمال کې د کندز ولایـت مرکـز په بشپړ ډول تـر خپلې ولکـې لاندې راولي. د کندز د ښار ماته د طالبانو په لاس، دغې ډلې ته په تېـرو څوارلسـو کلونـو کـې کـم سـارې ارزښـت درلود. طالبان لـه ۲۰۰۱م کـال وروسـته وتوانېـدل چـې د افغانستان د یوه مهم ولایت په مرکز خپل بېرغ ورپورې.

د کندز په مرکـز کـې د جګـړې لـه تودېـدو سره رسـنیزه جګړه هم ګرمه شوه. د طالبانو ضد رسنیو د طالب جنګیالیو پر ضـد رپوټونـه خپـرول. طلـوع پـه دې تبلیغـاتو کـې مهـم رول ولوباوه. کندز لا د طالبانو په ولکه کې و چې یادو رسنیو یـې د حکومت له خوا د نیولو خبر خپور کړی و. کله چې د الجزیره شبکې افغان خبریال، ولي الله شاهین تـه طالبـانو اجـازه ورکـړه چې د کندز په چوک کې راپور تیـار کـړي، لـه هغـې وروسـته څرګنده شوه چې کنـدز لا هـم د طالبانو پـه ولکـه کـې دی. د طالبانو له خوا د طلوع او یـک تلویزیونونـو تـه ګـواښ شـاید یوازې د دغو رسنیو د وروستیو تبلیغاتو لپاره نه وي. د طالبانو له سقوط او د دغو رسنیو له راپیدا کېدو راهیسې د طالبانو او یادو رسنیو ترمنځ نرمه جګړه روانه وه. طالبـانو ښـایي د دې لپـاره د دغو رسنیو پر ضد توند غبرګون نه ښکاره کاوه چې لـه رسـنیو سره ټکر یې شاید پر دریځ منفي اغېز وکړي.

د کندز د جګړې په وروستیو ورځو کې طلوع تلویزیون یو داسې راپور خپور کړ چې په پراخـه کچـه یـې ولسيـ منفـي غبرګـون لـه ځـان سره درلـود. د طلـوع یـو خبریـال لـه کنـدز پوهنتون څخه داسې راپور ورکړ چې ګواکې طالب جنګیالیو د دغه پوهنتون پر ښځینه محصلینو جنسيـ تېـري کـړي. خبریـال داسې استاد هم وړاندې نه شوای کړای چې ښکاره کـړي جنسيـ تېرى شوى. دا راپور په پیل کې څکه د عام ولس زړه تـه ونـه

لوېد، چې د پوهنتون محصلين د اختر د رخصتيو لپاره خپلو کورونو ته تللي وو. په پوهنتون کې څوک نه وو. خبريال هم د شپه غالي له تشو خونو رپوټ ورکاوه. د طلوع تلويزيون دغه راپور پر طالبانو سربېره د ډېرو ليکوالو او مدني فعالانو تونډ غبرګونونه راوپارول. د ټولنيزو چارو ځينو کارپوهانو وويل، چې د طلوع دغه غلط راپور د هغو نجونو حيثيت ته ضربه رسوي چې په ياد شپه غالي کې اوسېدې. اوس چې ډېرى ليکوال، فرهنګيان او عام ولس د طلوع د وروستي راپور له امله پارېدلي، طالبانو هم شايد له همدې فرصت څخه د ګټه پورته کولو په موخه داسې دريځ نيولى وي. شايد همدا دليل به وي چې په خواله رسنيو کې د طالبانو د دريځ هرکلى وشو.

طالبانو په يوې کم ساري خبرپاڼه کې د دغو دوو تلويزيونونو ټول کارمندان خپل «مشروع نظامي اهداف» وګڼل. د طالبانو په خبرپاڼه کې راغلي: «له دې وروسته د دغو تيلويزيونونو هيڅ کارمند، نطاق، دفتر، خبري ټيم يا راپور ورکوونکى مصؤنيت نلري، د اسلامي امارت نظامي کميسيون خپلو ټولو مجاهدينو ته امر کوي چې د يادو دواړو شيطاني چينلونو په وړاندې پريکنده اقدام وکړي، نور د دغو تلويزيونونو ټول خبريالان او همکاران د دښمنو افرادو په توګه پيژندل کيږي او د دغو تلويزيونونو مراکز، دفترونه او هرځاى استولي شوي ګروپونه نظامي اهداف دي چې مخامخ به له منځه وړل کيږي، زموږ غوښتنه ددې رسنيو له متعلقينو داده چې ديادو شبکو له دفاترو او خبريالانو څان لري وساتي او ټول روابط دې ورسره قطع کړي، خلک دې ددغو رسنيو مرکزي دفتر او ځانګو ته له ورتلو، په پروګرامونو کې له شرکت او کورونو ته ددغو رسنيو د خبريالانو له ورتللو څان وساتي، د نظرخاوندان دې په خپرونو کې ګډون نه کوي او مسلمان هيواد وال دې يې له کتلونه ډډه وکړي او په کلکه دې تحريم کړي.

۱۴ کاله وروسته ګواښ

د طالبانو حکومت د امريکايي يرغل په پايله کې څوارلس کاله وړاندې له منځه ولاړ. کله چې امريکايي پوځيانو افغانستان ونيو، د امريکا سفارت ځينې رسنۍ پيل کړې. د امريکايانو په باور رسنيز او مدني فعاليتونه کولاى شي په ټولنه کې د بيان ازادۍ پياوړې کړي. په دغو رسنيو کې طلوع تلويزيون او ازادي راډيو مخکښې وې. پر دغو رسنيو سربېره، د امريکا سفارت نورو رسنيو سره هم منظمې مالي مرستې لري. طلوع تلويزيون په ۲۰۰۴ کال کې د امريکا متحده ايالاتو د پرمختيايي ادارى (USAID) په مالي مرسته او د ۱۸ بهرنيو مشاورينو (څې اکثره امريکايان او استراليايان وه) د موبي ګروپ لوى چتر لاندې په کار پيل وکړ. په ظاهره توګه موبي ګروپ د محسني کورنۍ (سعد , زيد, جاهد او وژمې) لخوا په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې په لومړي ځل افغانستان کې خپل فعاليتونه پيل کړي دي. لويديځه رسنۍ ډير وخت ښاغلي محسني ته د (Media Mogul)يعنى د رسنيو د ميدان بې تاجه بادشاه لقب ورکوي او دى ښاغلى په افغانستان کې د خلکو دفکرونو په بدلولو او اداره کې ډير مهم ګڼي.

که څه هم طالبانو تر دې مخکې په ښکاره د دغو رسنيو کارمندانو ته ګواښ نه و کړى؛ خو د دغو رسنيو خبريالانو د طالبانو اړوند د لومړي لاس رپوټونه نه دي خپاره کړي. د يادولو ده چې طلوع او يک تلويزيونونو ته د طالبانو ګواښ په خواله رسنۍ کې له کم ساري هرکلي سره مخ شوى دى. د ځينو غيراخلاقي خپرونو له امله په ټولنه کې د دغو رسنيو هرکلى نه کېده.

پرون په کابل کې ځينو خبريالانو د طالبانو وروستۍ پرېکړه وغندله. د ژورناليستانو د ملي اتحاديې دوره يي مشر، فهيم دشتي وويل، که طالبان خپله پرېکړه پلې کړي، لومړى به پرې خبري تحريم وضع شي او بيا به د بالمثل چلن کوشش وشي. دشتي ونه ويل چې د طالبانو پر ضد به د خبريالانو بالمثل چلن څه وي. دوه کاله وړاندې پر ازادو رسنيو د څار اداري يا «نى» هم اعلان وکړ چې د طالبانو پر فعاليتونو خبري تحريم لګوي؛ مګر د طالبانو فعاليتونه لا هم په پراخه کچه خپرېدل. ويه کتل شي چې د طالبانو ګواښ د عمل جامه پر تن کوي کنه.

صمیم سعادت

د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې

د ملکي تلفاتو معمې پیښې

په ۲۰۰۱م کال د امریکا په مشرۍ نړیوالو ایتلافي ځواکونو پر افغانستان برید وکړ او د طالبانو واکمني یې ونړوله. له هماغه وخته تر اوسه پورې دا هیواد د بهرنیو ځواکونو تر هوایي بریدونو لاندې دی.

که څه هم امریکا او ناټو د ۲۰۱۳م کال په پای کې په افغانستان کې خپله جګړه په رسمي توګه پای ته رسېدلې اعلان کړه، خو لا هم نړیوال ځواکونه عملا په جګړه کې ښکیل دي او په ځانګړي ډول «هوایي بریدونه» ترسره کوي.

د ملګرو ملتونو د هغې احصائیې پر اساس چې د تېر اګست په میاشت کې یې خپره کړې، د بهرنیو او افغان ځواکونو د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو کچه د تېر ۲۰۱۴م کال په پرتله سږکال ٪۸۸ لوړه شوې.

د امریکا او ناټو ځواکونو د هغو هوایي بریدونو چې په ۲۰۰۱م کال کې یې د کابل تر نیولو وروسته تر اوسه پورې ترسره کړي او ګڼو ولسي خلکو ته یې مرګ ژوبله اړولې، د ځینو مهمو پیښو نوملړ په لاندې ډول دی:

۱۰ جولای ۲۰۰۲م: په روزګان کې ۴۷ ملکي وګړي هغه مهال ووژل شول چې امریکایي الوتکو په واده بمباري وکړه.

۲۷۰، ۲۹ اپریل ۲۰۰۷: امریکایي الوتکو د هرات ښار ته څېرمه په زیرکوه سیمه دوه ورځې بمباري وکړه، چې په نتیجه کې یې د ښځو او ماشومانو په ګډون لږ تر لږه ۴۲ تنو ولسي- خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړ. په دغې بمبارۍ کې ۱۰۰ کورونه هم ونړېدل.

۱۷۰ جون ۲۰۰۷: د هلمند په حیدراباد کلي امریکا هوایي برید وکړ او ۴۵ ملکي وګړي یې ووژل.

۷۰ جولای ۲۰۰۷: د کنړ ولایت د وټه پور ولسوالۍ په ځانګار کلي کې د امریکایي ځواکونو په دوه جلا جلا بمباریو کې ۳۵ ولسي وګړي ووژل شول. خلکو د ۱۰ وژل شوو ولسي کسانو مړي ښخول چې پر جنازه بیا بمباري وشوه او شاوخوا ۲۵ کسان پکې مړه شول.

۲۳۰ اکتوبر ۲۰۰۷: د میدان وردګو ولایت په جلریز ولسوالۍ کې لږ تر لږه ۱۳ ولسي خلک د ناټو ځواکونو په بمبارۍ کې ووژل شول، چې یوازې ۱۱ تنه له یوې کورنۍ څخه وو.

۶۰ جولای ۲۰۰۸: د ننګرهار په شینوارو سیمه کې د ناټو ځواکونو جنګي الوتکو د واده مراسم په نښه کړل او ۴۷ ملکي خلک یې ووژل، چې اکثریت یې ښځه او ماشومان وو.

۱۴۰ جولای ۲۰۰۸: امریکایي ځواکونو د نورستان ولایت د وانت ولسوالۍ مرکز ته نږدې کلي بمبار کړ، لږ تر لږه ۳۰ ولسي خلک یې ووژل او ۲۵ کورونه او دوکانونه یې ونړول.

۲۲۰ اګست ۲۰۰۸: ناټو ځواکونو د هرات ولایت د شینډنډ په عزیزاباد سیمه کې ۹۰ تنه ولسي- وګړي د هوایي برید په پایله کې ووژل، چې یوازې ۵۰ تنه یې ماشومان وو. په بمبارۍ کې پنځلس کورونه هم ونړېدل.

• ٦ نومبر ۲۰۰۸: د کندهار په شاه ولیکوټ ولسوالۍ کې امریکایي ځواکونو د واده په کور بمباري وکړه چې له کبله یې ۴۰ تنه مړه کړل.

• ۵ می ۲۰۰۹: په فراه ولایت کې د امریکایي ځواکونو په هوایي برید کې تر ۱۴۰ زیاتو ولسي خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړ، په وژل شوو کې ډیری ښځې او ماشومان وو.

• ۴ سپتمبر ۲۰۰۹: جرمني ځواکونو په کندز کې د طالبانو له لوري په یرغمل شوو دوو ټانکرو هوایي برید وکړ او تر ۱۰۰ زیات وګړي یې ووژل، په وژل شوو کسانو کې ۷۰ تنه ولسي-خلک وو.

• ۱۸ سپتمبر ۲۰۰۹ :د کاپیسا ولایت په اله سای ولسوالۍ کې د ناټو ځواکونو په بمبار کې لږ تر لږه دوه عام وګړي ووژل.

• ۱ مارچ ۲۰۱۱: د کنړ ولایت د ماڼوګۍ ولسوالۍ په ننګلام تنګي کې بهرنیو ځواکونو بمباري وکړه او ۹ ماشومان یې په داسې حال کې ووژل چې د سون توکي (خس او خاشاک) یې راټولول.

• ۲۲ اپریل ۲۰۱۱: د خوست په دوه منده ولسوالۍ کې امریکایي الوتکو د سړک جوړونې په یو شرکت هوایي برد وکړ او د دې شرکت ۳ ساتونکي یې ووژل.

• ۲۷ می ۲۰۱۱: د ناټو ځواکونو د هلمند ولایت په نوزاد ولسوالۍ کې بمباري وکړه او ۱۴ ولسي- وګړي یې ووژل، چې ډیری یې ښځې او ماشومان وو.

• ۲۱ جون ۲۰۱۱: امریکایانو د هلمند د نوزاد ولسوالۍ د سرغچ کاریز په سیمه کې بمباري وکړه چې له کبله یې ٦ تنو ولسي وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

• ۲۸ جون ۲۰۱۱: د هلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ په مزراباد سیمه کې امریکایانو بمباري وکړه، چې په نتیجه کې یې ٦ ماشومان او ۲ ښځې ووژل شوې.

• ۲۵ جولای ۲۰۱۱: د کونړ په وټه پور ولسوالۍ کې د ایساف چورلکې ۲ ماشومان او یو ملا امام په ډزو ووژل.

• ۱۳ می ۲۰۱۲: د کونړ ولایت په وټه پور ولسوالۍ کې امریکایي ځواکونو هوایي بمبار وکړ چې په نتیجه کې یې له ۹ تنو ولسي خلکو ژوند واخیست. په وژل شوو کې ۵ ښځې وې.

• ٦ جون ۲۰۱۲: امریکایي ځواکونو په لوګر کې هوایي برید وکړ او لږ تر لږه ۱۸ ولسي وګړي یې ووژل.

• ۱۵ سپتمبر ۲۰۱۲: د لغمان په الینګار ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په برید کې ۸ تنه میرمنې چې غره ته د خس او خاشاک د ټولولو لپاره تللې وې، ووژل شوې.

• ۱۳ جنوري ۲۰۱۳: د وردګو ولایت د سید اباد ولسوالۍ په تنګي دره کې ۱٦ ملکي وګړي د سهار لمانځه پر مهال د بهرنیو ځواکونو په بمبار کې ووژل شول.

• ۱۳ مارچ ۲۰۱۳: ناټو ځواکونو د غزني ولایت په سفندي ولسوالۍ کې پر یو موټر هوایي برید وکړ چې له امله یې لږ تر لږه ۲ عامو وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

• ٦ اپریل ۲۰۱۳: د کنړ ولایت په شیګل ولسوالۍ کې د امریکایانو په بمبار کې د ماشومانو په ګډون لږ تر لږه ۲۰ تنه ولسي خلک ووژل شول.

• ۷ سپتمبر ۲۰۱۳: په کنړ ولایت کې امریکایي بې پیلوټه الوتکې د ولسي خلکو په هغه موټر هوایي برید وکړ چې له اسعداباد څخه د ګمبیر سیمې ته روان و. په دې برید کې د ښځو او ماشومانو په شمول ۱٦ تنه ووژل شول.

• ۲۳ نومبر ۲۰۱۳: امریکایي بې پیلوټه الوتکو د نورستان ولایت د وانټ وایګل ولسوالۍ په کوڼ کلي کې ولسي کور بمبار کړ او د یوې ښځې او دوه ماشومانو په ګډون یې ۹ ملکیان ووژل.

• ۱٦ جنوري ۲۰۱۴: امریکایي ځواکونو د پروان په سیاګرد سیمه کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۳ ملکي وګړي په هوایي برید کې ووژل.

• ۹ سپتمبر ۲۰۱۴: امریکایي ځواکونو په کنړ ولایت کې ولسي- وګړي په هوایي برید کې په نښه کړل او د ښځو او ماشومانو په ګډون یې ۱۱ تنه ووژل.

• ۲۷ سپتمبر ۲۰۱۴: د ننګرهار ولایت په کوټ ولسوالۍ کې د امریکایي ځواکونو په هوایي بمبار کې دوه ښځې ووژل شوې.

• ۱۲ اکتوبر ۲۰۱۴: د پکتیا ولایت د مرکز ګردیز د نیازیو کلا په سیمه کې بهرنیو ځواکونو بمبار وکړ، چې له امله یې ۷ تنه عام وګړي ووژل شول. په وژل شوو کې یو سپین ږیری او یو ماشوم شامل و.

• ۱۰ ډیسمبر ۲۰۱۴: د پروان ولایت په سیاګرد ولسوالۍ کې امریکایي ځواکونو په یو باغ بمباري وکړه چې په ترڅ کې د ښوونځي ۵ تنه زده کوونکي په داسې حال کې ووژل شول چې د کانکور ازموینې لپاره یې تیاری کاوه.

• ۲۵ ډیسمبر ۲۰۱۴: د لوګر ولایت په بره کې برک ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په بمبار کې د دوو کورنیو ۵ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

• ٦ جنوري ۲۰۱۵: د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالۍ په شوړیک سیمه کې د امریکا بې پیلوټه الوتکې په برید کې ۲ تنه ولسي وګړي ووژل شول.

• ۱۷ جنوري ۲۰۱۵: د ننګرهار د لعل پورې ولسوالۍ په چکنور سیمه کې امریکایي بې پیلوټه الوتکې یو ځل بیا له ۳ ملکي کسانو ژوند واخیست.

• ۱۹، ۲۰ فبروري ۲۰۱۵: د امریکایانو په هوایي برید کې د ننګرهار ولایت په خوږیانو ولسوالۍ کې ۹ تنه عام وګړي ووژل شول.

• ۲۱ فبروري ۲۰۱۵: د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې بهرنیو ځواکونو ۵ تنه ملکي وګړي په داسې حال کې ووژل چې په بایسیکلونو کور ته روان وو.

• ۷ اپریل ۲۰۱۵: په کنړ ولایت کې یوې ښځې او ۱۱ ماشومانو د هوایي برید له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

• ۳۰ اپریل ۲۰۱۵: د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په کلتیپه سیمه کې د امریکایي بې پیلوټه الوتکې برید د ښځو او ماشومانو په ګډون له ٦ تنو ولسي وګړو ژوند واخیست.

• ۵ جون ۲۰۱۵: د امریکا بې پیلوټه الوتکو د خوست ولایت په علیشیرو ولسوالۍ کې د جنازې مراسم په نښه کړل او ۳۴ ولسي کسان یې ووژل.

• ۲۲ جون ۲۰۱۵: د کندز په چهاردرې ولسوالۍ کې امریکایي بې پیلوټه الوتکو په یو مسجد برید وکړ او ۸ ماشومان یې په داسې حال کې ووژل چې د قرآن کریم په زده کړې بوخت وو.

• ۳ اکتوبر ۲۰۱۵: په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو په روغتون امریکایي الوتکو بمباري وکړه او د ۱۰۰ په شاوخوا کې عام خلک یې ووژل، چې ټول یې ناروغان او د روغتون طبي پرسونل وو.

باید وویل شي چې پورتنۍ احصائیه ټول هغه هوایي بریدونه او بمبارۍ نه رانغاړي چې په تېرو څوارلسو کالونو کې په افغانستان کې رامینځته شوي. دغه احصائیه یوازې د څو هغو مهمو پیښو پر بنسټ ولاړه ده چې چارواکو پرې اعتراف کړی او تر پراخ رسنیز پوښښ لاندې راغلي. همدا راز دغه احصائیه یوازې د مړو او وژل شوو ملکیانو شمېره را اخلي، په هوایي بریدونو کې د ټپیانو او زخمیانو شمېره یې نه ده ذکر کړې.

د هوایي بریدونو او بمباریو په پایله کې د ملکي تلفاتو کره شمېره تر هغې کچې ډیره لوړه ده چې بهرني ځواکونه یې رسما تاییدوي او اعتراف پرې کوي. د هغې سرشمیرنې له مخې چې په دې وروستیو کې د واټسن موسسې لخوا ترسره شوې، راغلي چې د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې په تیرو څوارلسو کالو کې سل زره ملکي افغانان وژل شوي، چې امریکا او افغان حکومت په خپل وخت کې هر برید په مخالفینو بللي او په کې وژل شوي کسان یې طالبان ګڼلي دي.

هېره دې نه وي چې په دې نوملړ کې د هغو ملکي وګړو د وژنې شمېره نه ده شامله چې بهرنیو ځواکونو د ټوپک په ژوندیو مرمیو مخامخ وژلي دي.

استقبال فراگیر مردم از استهداف شبکه های شیطانی

نویسنده: سمیع زرمتی

دو روز قبل امارت اسلامی افغانستان طی نشر اعلامیهٔ مطبوعاتی موقف گیری تازه خود در برابر برخی از رسانه نماهای تیلویزونی اعلام کرد.

دربخشی از این اعلامیه در پیوند به کارکرد این شبکه های شیطانی (طلوع و یک) آمده است : (چینل های تلویزیونی طلوع و یک از شبکه های تبلیغاتی اند که مسئولیت به پیش بردن اشغال فکری ، فرهنگی و تبلیغاتی کفار را بر عهده دارند ، این شبکه ها ، با حمایت گستردهٔ امریکایی ها بر اقدار دینی و فرهنگی ما تمسخر نموده ، فحشاء و بی حجابی را نشر می کنند ، در اذهان نسل جوان بی دینی ، بداخلاقی ، خشونت ، قمار ، اختلاط و مجلس های مختلط وافکار مضر را پیچکاری می کنند و بطور اخص در مورد جهاد و مجاهدین تبلیغات مملو از نفرت و دشمنی عریان را تبلیغات می کنند.

یک مثال واضح نشرات شرم آگین و تبلیغات دروغین این شبکه های شیطانی این است که می گویند که در روز چهارم عید قربان هنگامی که مجاهدین امارت اسلامی مرکز ولسوالی قندوز را تصرف کردند ، خدای نا خواسته بر لیلیه دختران حمله نموده و دختران را بی آبرو کرده اند!

این شبکه های تلویزیونی این راپور دروغین را در حالی بطور مکرر نشر می کنند که مردم و شهریان قندوز این گفته را بشدت رد نموده و با حاضر گرفتن الله تعالی شهادت می دهند که در شب های عید ، تمام ادارات تعلیمی افغانستان و لیلیه اناث قندوز در رخصتی بودند وهیچ کسی در آن حضور نداشت.

به علت اینگونه رفتار های معاندانه و گستاخانهٔ تلویزیون های طلوع و یک در مقابل ملت مجاهد افغان ، امارت اسلامی دیگر این رسانه ها را به حیث رسانه نمی شناسد بلکه آنان را در اهداف نظامی خویش داخل می کند(

داخل نمودن شبکه های طلوع و یک در ردیف اهداف نظامی طالبان نخستین موضعگیری طالبان از نوع خود در برابر رسانه ها است، رسانه های همچو طلوع و یک که زیر چتر دموکراسی وارد شدهٔ غرب برای منافع اشغالگران و رژیم تحت الحمایهٔ شان کار می کنند در امتداد یک و نیم دههٔ گذشته همواره مورد انتقاد مجاهدین و مردم عام بوده اند،لست شکایات ازین رسانه ها بسا طولانی است از ترویج فساد، بی حجابی، اختلاط و بدا خلاقی گرفته تا پخش سریالهای ضد دینی، شرم آگین و خشونت بار که برای ترویج فرهنگ بیگانه ها صورت میگیرد.

درین اواخر همین رسانه ها بشدت در تلاش اند تا آتش نفاق و منازعات قومی ،لسانی و سمتی دربین اقوام متدین و برادر افغانستان شعله ور نمایند، مردم افغانستان خصوصا شهریان کابل بارها خواستار توقف و بازپس گیری جواز کاری این شبکه های تفرقه انگیز شدند اما از جایی که این شبکه ها دست های قدرتمند استخباراتی باخود دارند و از پشتیبانی همه جانبهٔ سفارت های امریکا و انگلیس برخوردار هستند، منتقدان

عامه نتواستند جلو خودسری های این شبکه های مضر را بگیرند.

در همین حال امارت اسلامی یگانه مرجع امید مردم شریف افغانستان بودکه میتوانست دراین زمینه کاری بکند تا جلو فتنه گری ، تفرقه اندازی و دین و فرهنگ زدایی شبکه های متذکره گرفته شود، امارت اسلامی افغانستان همانطور که همیشه امیدهای مردم را برآورده است این بار هم در برابر دشمنان دین و فرهنگ ما قد علم نمود و بسیار با جرات اعلام کرد که دگر نمیتواند فساد و فتنه گری این شبکه های شیطانی را تحمل نماید و پس ازامروز شبکه های متذکره بحیث رسانه ها نه بلکه بحیث دشمنان دین و فرهنگ ما قلمداد خواهند شد و بجزای اعمال مضر شان خواهند رسید.

با آنکه این موقف گیری طالبان غیرمترقبه و نظر به محیط رسانه یی دور از انتظار بود، که باعث شوکه شدن بعضی کارمندان شبکه های شیطانی شد و در جامعه رسانه ای واکنش های مخالف را هم برانگیخت اما در افکار عامه بااستقبال و تاییدی روبرو شد که هرگز انتظار آن نمی رفت.

در روز صدور این اعلامیه و بعد ازآن من صفحه های فیسبوکی رسانه ها افغانستان و جهان را دنبال می کردم تا در پیوند به این موضع گیری طالبان از عکس العمل مردم عامه آگاه شوم، در طی دو روزگذشته که این موقف گیری طالبان خبرساز شده و در شبکه های اجتماعی بحث های داغ را ببار آورده است ما شاهد هستیم که کاربران شبکه های اجتماعی از این موضع گیری طالبان بحدی استقبال نموده که قبلا هیچ اقدام و اعلامیه طالبان همینگونه استقبال عامه را با خود نداشته است

از مجاهدین و مخالفین اشغال گرفته تا مردم عام، کارمندان دولتی و حتی مخالفین عنعنوی طالبان تمام افغانهای که احساس دارند و دلهای شان برای این مردم و کشور می تپند از این موضعگیری طالبان استقبال کردند و آن را یک تصمیم بجا و ضروری پنداشتند.

این جا بگونهٔ مشت غونه خروار بعضی از اظهارات و تبصرهای مردم عام خدمت تان عرض می نماییم که در شبکه های اجتماعی احساسات خودرا نسبت به اقدام طالبان در برابر رسانه های شیطانی ابراز داشته اند . باید یادآور شویم که این کامنت ها را از صفحه فیسبوکی طلوع نیوز گرفته ایم.

حمید رحیمی : درین ۱۰ سال طالبان معقول ترین تصمیم را گرفتند، چون این رسانه شیطاني را باید قبل مورد هدف قرار میداد.

Mohammadagha Yazdanpanah

تلویزیون طلوع و تلویزیون ۱ هر دوفحشی شیطانی ودروغ گو است وباعث همه ناهنجاری ها میان مردم شده کاری خوب میکنند این طالب ها، چون همه جامعه را به فحشا کشیدند این دو تلویزون.

Sayed Rahman Rohani

٪۹۰رسانه ها افغانستان اهداف کفارا به پیش میبرد قبلاًباید ریشه یابی میشد.

حالا هم سری وخت است.

قابل یاد آوری میدانم اینکه اشخاص بسیار فهمیده وصاحب رسوخ و علمای دین نیز در بعضی رسانه ها همکاری مي نماید این چنین رسانه ها انگشت شمار است.

Prince Ghâzñi

همه این رسانه ها فقط توانسته که برای مردم عزیز افغانستان فلم و سریال های مختلف هر کشورهای بیگانه را به

ما ترجمه نمایدو بس من از طالب میخواهم که بزودی از بین ببرد این رسانه های شیطانی را.

Abdultawab Salahshour

دوستان عزیز من با شما موافق استم. تلویزون طلوع یک جاسوس و کاسه لیس است. نمیدانم از کدام منبع آب مینوشد اما منبع اش این منابع ره بر علیه منافع عقاید دین رسم و فرهنگ وطن عزیز ما افغانستان بکار میبره...ما از این تلویزون کثیف حمایت نمیکنیم.

Naheed Ebad

دلم براي كارمندان طلوع و تلويزيون يك سوخت ، بسيار ترسيدند ،حتمن پياز نوش جان كنيد.

طالبان خوب جاي را هدف گرفته امید تیر شان خطا نرود این دو تلویزیون واقعاً مراکز فساد شده بودند بهتر است خود را اصلاح کنند و دست از پخش فساد و فحشا بردارند.

Nadir Masudi

بهتراست پیش از اینکه تلویزیون طلوع و tv1 به خاك وخون کشیده شود. مسدود گردد واجازه فعالیت برایش داده نشود.

نه تنها طالب بلكه تمام مردم ازمسدود شدناین دو شبکه حمایت میکنند.

Noormohammad Arabzada

تلویزون طلوع دروغ گوی است و خبرنگارهایش شیطان است....

فقط دروغ گفتن وتفرقه انداختن دربین اقوام و توهین برعزت مسلمان ها کاری دیگر ندارد بایداین تلوزیون بندشود

Hamsafar Eshq

تلویزون طلوع را باید آتش زد نه ماه رمضان میکه، نه عاشورا ؟

صدای آذان پخش نداره قرآن پخش نداره شب روز سریال های هندی ترکی....

دګل مینه

نظام کندهاری

مونږ د اغزو پر څوکو څو د منزل مینه کوو
پر سینه سره زخمونه وړو خو د ګل مینه کوو

اول د زړه وینه په جام کې د وفا ورلېږو
بیا د لیلی د سپین رخسار او اوربل مینه کوو

د یار دیدن ته د بارودو په سنګار کې ورځو
غواړو آشنا خو د رقیب د اجل مینه کوو

مینه مو کار مینه مو ژوند مرګ ته هم ځو په مینه
مینه مو خوښه ده دا ځکه چې تل مینه کوو

مونږ رسوو د مینې ښار ته قافلې د مینې
دا اوږدو لارو د دې سترې مزل مینه کوو

زمونږ په وینه ګډه شوې له ازله مینه
دا چې شیندو یې هره ورځ پر کابل مینه کوو

تول مینه مینه یو نظامه زمونږ مسیر د مینې
که اَشِداٗء یو پر پردو خو پر خپل مینه کوو

مدرسه وپیژنئ!

عاکف مهاجر

څو ورځې وړانـدې بی بی سی راډیو راپور خپـور کـړ، چـې مدرسه یې پکې پـه نـاوړه رسـم انځور کړې وه، هغوی د مدرسې په اړه سم مالومات(معلومات) یاخو لري نه، او یا په قصدي توګه مدرسه وخلکو ته په بده بڼه ور پېـژني، ترڅو خلک له دیني زده کړو، په بله مهار کړي. زه بـه پـه لنـډو کـې مدرسه در و پېږنم، او د هغې اصلي څېره بـه درتـه څرګنـده کـړم . مدرسه هغه کور دی، چې پـه هغـه کـې د الله معجز کتاب(قران) و زده کونکو ته ور ښوول کېږي، کـوم چـې د الهي پېرزوینـو، ډاډ، د ملائکه وو د نزول او د الهي یادګېرني او... لامل کېږي، لکه چې نبي علیه السلام مبارک فرمایي:(ما اجتمع قوم فی بیت من بیـوت الله یتلـون کتاب الله ویتدارسونه الانزلت علیهم السکینه وغشیتهم الرحمة وحفـتهم الملئکة وذکره الله فیمن عنده.....).

مدرسه هغـه دینـي پـوهنځی دی، چـی د نـاپوهي تورتمونوتـه پکې د رڼو مشالونه په څېر زلمکي روزل کېږي، کوم چې ملائکـه یـې تر پښو لاندې خپل نوراني وزر غوړوي . مدرسه له اصحاب صـفه وو نه راته په میراث پاتې ده، که څه هم د ځونوالي او ځرنګوالی له امله به ور سره توپیر لري. له مدرسی نه د امام "ابوحنیفه، امام شـافعی، امام مالک، امام احمد بن حنبل، امام بخاری، امـام ترمـذی، امـام مسـلم - رحمهـم الله- پـه څېـر دیـن پوهـان را ووتي، کـوم چـې تولـه اسلامي نړۍ یې په نبوي زرینو وړانګو پوښلې. د مدرسې پـه غیرکـې هغه څوک روزل کېږي چې د پیغمبري وراثت ویاړ لري . څوک چـې حقه اسلامي عقائدو ته ژمن پـاتې شـوي، هغـه مدرسـه دامـن، یمـن، پـوهي او سـوکالي پـه نامـه پېـژني . موږتـه سـتر لارښـود هـم داسي سپارښتنه کړي: (کن عالما اومتعلما اوخادما اومحبا ولاتکـن خامسـا فتهلک) ژباړه: یا د مدرسې ښوونکی یاپې زده کونکی یاپې خـدمتګار یایې مینوال شه، اوپنځم مه کېږه ورنه هلاک به شي . لقمان حکیم- رحمه الله- دمدرسې په بڼ کـې د روزل شـوو طوطیـانو پـه اړه داسي سپارښتنه کړې:(یابنی لحوم العلماء سموم مـن شـمها یمـرض ومـن اکلها یموت ولوبعدحین).

ژباړه ای زویکیـه دعلـماوو غوښې زهردی چـاچې بـوی کـړې (خبرې یې پسې کولې) مریض کېږي، او کـه چـاوخوړې (ضرر یـې ور ورساوه مرکېږي) اګرکه څه وخت وروسته وی . مدرسه هغه روزنځی دی، چې ځوانانو ته له اسلامي دین نه د دفاع او حمایت، د پردیو د یرغل او استعمار د مخنیوي لارې چارې ښوول کېږي . دمدرسـو لـه غېږې نه راوتلي ځوانان د دیـن دښـمنو څېـرو هـر رنـګ دسیسـې او ناوړه پلانونه شنډوي، او په وړاندی یې کلکه مبـارزه کـوي. مدرسې دتروریزم مرکزونه نه، بلکې دامن هوساینې مرکزونه دي، مدرسې د ترور د ودې نه، بلکـی دتروریـزم دمخنیـوی درس ورکـوی . مدرسه مونږ ته دقراني ایتونو په رڼا کې له ناروا قتل او وژنو نه په کلکه د نه کړنو سپارښتنه کوي، دبېلګې په توګه به له الهي سپارښـتنو نـه څـو سپارښتنې د خپلې مدعی د تائیـد لـه پـاره راوړم، الله پـاک فرمـایي: {ومن یقتل مؤمنا متعمدا فجزائه جهنم خالدا فیها وغضب الله علیه ولعنه واعدله عذابا عظیما} ژباړه: څوک چې یومؤمن مسلمان بې لـه کوم جنایته په قصدي توګه و وژني نو جزا به یې جهنم وي د تـل لـه پـاره، او د الله تعـالی لـه لـوری پـرې غضـب نـازلېږي، او هغـه - جـل جلاله- پرې لعنت وایي، او هغه- جل جـلا لـه- و ده تـه لـوی عـذاب تیار کړی.

او فرمـایي: (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا) ژبـاړه: او تاسو مه نږدې کېږئ و زنا ته، بېشکه زنا بد عمـل او بـده لاره ده. که په یاد ایت عمل وشي، نو د فحشا دریڅـه بنـدېږي . او فرمـایي: (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَـاقْطَعُوا أَيْـدِيَهُمَا...) او غـل سـړی، او غلـه ښـځه لاسونه یې کاټ کړئ. که دا سپارښتنه عملي شي، نو چور او چپاول به د نړۍ له غولي کډه کړیوه

مدرسې د سلام د حریم په ساتلو کې زیاته ونده لري، مدرسې داسلامی ټولنې د دینـي نوامیسـو، ارزښـتونو د حمایـت مراکـز دي، زمـونږ هوسـاینه او سـعادت پرمختـګ دمدرسـوسره پـه محبـت اوهمکاری‌کې ده نه په دښمني او ورته دتروریزم په نسبت کولو کې .ځکه نو باید د مدرسو دپرمختګ فکروکړو نه یې دورانولوله سرمدی ذات نه همیشه دمدارسو د لا پیاوړتیا په هیله یم.

زه رحمن حلقه بګوش دهرعـالم یم
که اعلی دي که اوسط دي کـه ادنی

مرکه کوونکی: حبیب مجاهد

د غزني زندان د ماتیدو په اړه

د همدې ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه

درنو لوستونکو!

د روان ۲۰۱۵ میلادي کال د سبتمبر میاشتې په ۱۴ شپه د اسلامي امارت قهرمانو مجاهدینو د یوه خاص تاکتیکي برید په پایله کې دغزني ولایت مرکزي محبس مات کړ او سلګونه زنداني مجاهدینو ته یې له زندانه د وتلو لاره هواره کړه.

د غزني د زندان ماتولو پیښه د عزم عملیاتو په لړ کې یوه مهمه کارنامه وه چې په اړه مو یې د غزني ولایت جهادي مولوي محمد قاسم صمیم مجاهد راغږولی هیله ده مرکه یې راسره ولولئ .

پوښتنه :

محترم د غزني ولایت جهادي مسؤل مولوي محمد قاسم صمیم مجاهد صاحب ! له هرڅه وړاندې که د غزني د زندان په اړه معلومات راکړئ چې دا څنګه زندان دی او چیرته یې موقعیت لري؟

ځواب :

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم امابعد : پس له سلام او احترام څخه به ستاسو د پوښتنې په ځواب کې ووایم چې د غزني ولایت مرکزي محبس د غزني ښار په جنوب شرق کې د ده خدایداد په سیمه کې موقعیت لري چې د ولایت له ودانۍ څخه په دوه کیلومتره لرې وي، دا زندان چې یو له مشهورو محابسو څخه دی امنیت یې ډیر ټینګ ساتل کیږي او په شاوخوا یې کن شمیر امنیتي پوستې راګرځیدلي دي .

پوښتنه:

د غزني د محبس ماتولو لپاره څرنګه ترتیبات ونیول شول او څرنګه یې پلان طرح شو ؟

ځواب:

ددې محبس د ماتولو لپاره موږ له وړاندې اراده درلوده، شاوخوا لس یوولس میاشتې وشوې چې موږ په دې پلان کارکاوو او په تدریج سره مخکې تلو تردې چې د پلان ټول ترتیبات نهایي او بالاخره په بریا سره تطبیق شو اوپه پایله کې یې شاوخوا ۴۵۰ تنه بندیان ددښمن له منګولو راخلاص کړای شول.

پلان داسې نیول شوی و، چې په عملیاتو کې به ۱۰ تنه فدایان او ۳۰۰ تنه نور تکړه او تجربه کار مجاهدین برخه اخلي، له دې جملې فدایان او ۴۰ تنه مجاهدین هغه و،چې د زندان دماتولو له رازه له وړاندې خبر کړای شوي وو، ځانګړي لاربشووني ورته شوي وې او ددوی وظیفه دا

وه چې په مشخص ډول به په زندان برید کوي، هلته به ننوزي او زندانیان به له پنجرو څخه راوباسي .

پلان داسې و چې لومړی به دوه تنه فدایان چې د ۸۲ ملي متري توپ ښه تعلیم یې درلود، دښمن په یوه بجه د زندان نظام قراول کې د پیره دار په مورچه او یوه څارونکي برج باندې د هشتادو برید کوي، وروسته متصل به موټر بم چې ۱۰ ټنه انفجاري مواد په کې ځای شوي و، او زندان ته ډیر نږدې رسول شوی و، هغه به راځي او د زندان په دروازه کې به انفجار کوي، له دې سره هم مهال به نور مجاهدین د زندان په شاوخوا کې په ټولو پوستو بریدونه پیلوي او هغوی به مصروف ساتي، د موټر بم له انفجار وروسته به ۴۰ تنه مجاهدین او څو تنه فدایان چې زندان ته نږدې په یوه نهر کې انتظار و د زندان دراوزې ته ځان رسوي،که ددښمن کوم مقاومت پاته و هغه به له منځه وړي او کنه مخامخ به زندان ته ننوځي بندیان به راوباسي او زندان ته نږدې درول شویو لویو موټرو ته بي انتقالوي تر څو له هغه ځایه د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ ته دمجاهدینو سیمې ته ورسول شي.

پلان لکه څنګه چې ترتیب شوی و همداسې عملي شود نظام قراول له ویشتلو او موټر بم له انفجار سره هم مهال عملیات پیل شول، دزندان په شاوخوا کې ۷ پوستې دغه راز د غزني ښار ته نږدې د قلعه قاضي پوسته ، د دهیک د سیلمانزو پوسته، د زرګر پوسته د ملانوح بابا د سیمې پوسته په یو وار تربرید لاندې ونیول شوې،د غزني په قومنداني ، د چټک غبرګون په قطعه او پي آر تي باندې هم توغندیز بریدونه پیل شول، په دې ډول دښمن هر ځای تر برید لاندې ونیول شو او هیڅ خبر نه شو چې اصلي هدف څه او چیرې دی، په همدې حال کې د زندان لپاره ټاکل شوي مجاهدین چې له ۹ تنو فدایانو سره یې شمیر ۴۹ تنو ته رسیده په زندان ورغلل، یوه فدایي د زندان د مدیر په دفتر کې ځان منفجر کړ او بل د شپې په تیاره کې د لوېې محکمې پنجرې سره خپل واسکټ والوځاوه، یو بل تن فدایي چې سهار شهید وموندل شو،واسکټ یې نه و منفجر شوی داسې معلومیده چې په جګړه کې لګیدلی وي او یا هم خپل لاسي بم وربانديې چاودلی وي، په دې جګړه کې ټول همدا څلور تنه فدایان چې یو په موټر بم کې و شهیدان شول، مجاهدین زندان ته ننوتل لومړی یې مجاهدین بندیان راوایستل او انتقال کړل او بیا څرنګه چې په جنایي بلاک کې ګڼ شمیر مضر اربکیان هم بندیان و هغوی یې هم ونیول او د بندیانو په حیث یې له ځان سره راوستل،په دې ډول مجاهدینو ټول بندیان به ځانګړو موټرو کې په پوره ډاډ سره د غزني د شلګر کلاخیلو بازار ته راوړل او له هغه ځایه یې بیا د د ګیرو ولسوالۍ ته انتقال کړل.

پوښتنه:

په دې جګړه کې د زندان له ماتولو پرته دښمن ته نور کوم زیانونه ورسیدل او د مجاهدینو تلفات څومره وو؟

ځواب :

د زندان په شاوخوا دعملیاتو له پیل سره د غزني له پي آرتي او د چټک غبرګون له قطعې څخه کومکي عسکر سیمې ته را روان و خو په لاره د مجاهدینو له کمین سره مخامخ شول او تلفات ورته ورسیدل یو بل ځای ددښمن یو رینجر په ماین والوزول شو، له دې پرته په یادو ټولو پوستو د عملیاتو په ترڅ کې دشمن ته تلفات ورسیدل، د دهیک د سلیمانزو پوسته چې په یوه حاکمه نقطه باندې پرته وه او ډیره سیمه یې له تهدید سره مخ کړې وه په همدې شپه فتحه شوه اوڅوتنه عسکر په کې ووژل شول.

د زندان له دروازې سره د موټر بم په برید کې ددښمن تر څلویښتو ډیر عسکر له منځه لاړل ، په دې جګړه کې زموږ څلور تنه فدایان شهیدان شول په نورو مجاهدینو

کې یوازې دوه تنه ډیر سرسري ټپیان شول چې یو د مټ په پسته کې لګیدلی و او د بل د مزله په وخت پښه اوښتې او بې ځایه شوې وه، نور مورډ هیڅ تلفات نه درلودل .

پوښتنه:

له زندان څخه راخلاص شوي بندیان څوک و او آیا دښمن خو به یې بیرته په نیولو نه وي توانیدلی؟

ځواب :

له زندان څخه راخلاص شوي اکثره مجاهدین وو ، ځیني داسې کسان هم و چې بالفعله مجاهدین نه و خو د مجاهدینو همکاران، خپلوان او یا خوخواږي وو چې دښمن د پیسو په خاطر بندیان کړي و، تاسو ته به معلومه وي چې ددښمن رشوتخورو قاضیان او څارنوالان اوس د خلکو بندیانولو ته د یوه کاروبار په حیث ګوري مظلوم خلک نیسي او بیا یې د پیسو په مقابل کې خوشي کوي ، خو لله الحمد د غزني په پیښه کې مجاهدینو سلګونه مظلوم او مجاهد هیوادوالو ته ددښمن له اذیت څخه نجات ورکړ.

په راخلاص شویو مجاهدینو کې زیاتره د غزني ولایت و، دغه راز د پکتیا، پکتیکا، زابل او میدان وردګ ولایاتو بندیان هم و، چې ټول خپلو سیمو ته واستول شول او دښمن د هیڅ تن په بیرته نیولو نه دی توانیدلی .

پوښتنه:

په غزني کې د زندان په ماتیدو سربیره دکال په اوږدو کې څو نور هم ستر جهادي کارونه ترسره شول که د هغو په اړه معلومات راکړئ ؟

ځواب :

هو ، په غزني کې د سږکال د عزم عملیاتو په لړ کې د پام وړ جهادي کارونه ترسره شوي دي، چې په څو برخو بې ویشلی شو، مجاهدینو ددښمن ستر عملیات ناکام کړي، ددښمن پوستې یې نیولې او یایې دښمن ته درانه تلفات اړولي دي.

سږ پسرلی دښمن لومړني عملیات د غزني په دهیک ولسوالۍ کې پیل کړل،چې له دریو لوریو یې دې سیمې ته قوا راوستله په دهیک کې ۷ ورځې جنګ روان و بالاخره ددشمن عسکرو د سختو تلفاتو له منلو وروسته له سیمې پښې سپکې کړې او عملیات یې ناکام شول .

له دهیک وروسته یې د غزني په اندړو ولسوالۍ کې پراخ عملیات پیل کړل، دلته هم سخت مقاومت ورسره وشو۴ ټانګونه او یورینجر یې له منځه لاړل پیاده عسکرو ته یې هم درانه زیانونه ورسیدل او بالاخره یې پرته له کومې لاسته راوړنې د عملیاتو پای اعلان کړل او ناکام ستانه شول .

د اندړو ولسوالۍ له ناکامۍ ۱۵ ورځې وروسته یې د مقر، ګیلان او ناوې په ولسوالیو کې خورا ستر عملیات پیل کړل، په دې عملیاتو کې ددښمن هدف داو چې دناوې مفتوحه ولسوالي بیرته له مجاهدینو ونیسي-په دې سیمه کې مجموعا شل ورځې جګړې دوام وکړ، دښمن خپل ټول زور وکاراوو خو د هیڅ سیمې په نیولو بریالی نه شول سره له دې چې د ناوې ولسوالۍ مرکز یې د لنډې مودې لپاره ونیو خو دلته ورباندې درنې چاودنې وشوې سخت تلفات ورته ورسیدل او بالاخره مجبور شو چې له کومې لاسته راوړنې خپلې قواوې له سیمې وباسي او ناکام ستانه شي، ددښمن د دغو سترو عملیاتو مقابله او ناکامول بې له شکه د سږ کال یوه مهمه کارنامه وه چې د غزني ولایت مجاهدینو ترسره کړه .

سږکال د غزني ښار ته څیرمه د خوګیانو ولسوالۍ مکمله فتحه شوه چې دا له رشیدانو، زنه خان او ناوې وروسته څلورمه ولسوالي وه چې مکمله مجاهدینو تصرف کړه ، د واغز او ګیرو په ولسوالیو هم بیا بیا عملیات ترسره

شول الله تعالی ته امید دی چې دغه ولسوالی به هم فتحه شي.

په دې سربیره په تیرو څو میاشتو کې په ګیلان، آب بند، قره باغ، اندړو او دهیک کې ددښمن ګڼې پوستې هم فتحه شوي دي چې له دې جملې د قره باغ د شاغلو مهمه قرارګاه هم ده ،په اندړو کې د اربکیانو مهم او سرکرده مشران له منځه تللي او اوس يې ځواک ډیر کمزوری شوی دی د غزني په ښار کې ۴۵ هدفي بریدونه شوي چې ددښمن مهم کسان په کې له منځه تللي په دې ټولو عملیاتو کې له دښمن څخه لوی مقدار مهمات او وسلې هم غنیمت شوي دي .

دغه راز له پسرلي راپدیخوا تر اوسه پورې د څو میاشتو په اوږدو کې د غزني په بیلابیلو سیمو کې ۱۲۰ تنه ددښمن عسکر او اربکیان د حقیقت په درکولو ددښمن له صفوفو راوتلي او د دعوت او ارشاد کمیسیون له لارې ورته د پښیمانۍ په اظهار او تضمین ورکولو سره د سر امن ورکړل شوی دی .

پوښتنه:

او په پای کې که څه پیغام لرئ هیله ده راسره شریک يې کړئ موږ به يې تر لوستونکو په رسولو کې همکاري وکړو.

ځواب:

پیغام مې مجاهدینو ته دادی چې داسلامی امارت متحد صف د ځان لپاره یو غنیمت او دالله تعالی لوی نعمت وبولي، که دغه متحد صف نه وای نو هیواد به مو بیا داسې له ګډوډیو او فتنو سره مخامخ و لکه په پخواني جهاد کې يې چې تجربه لرو.

نو د خپل دین او جهاد په خاطر او ددې رنځیدلي اولس او هیواد په خاطر چې د جهاد ارمانونو او یوه شرعي

متحد او سوله ایز نظام ته منتظر دي مجاهدین بايد د تفرق او اختلاف له ټولو فتنو څخه ځان لرې وساتي، هغه که د امارت په داخل کې ځیني کسان اختلاف ته لمن وهي يا د بېل جهادي صف دعوت کوي او يا که دداعش غوندې بهرنۍ فتنې دي.

دا چې زموږ دښمنانو دغه راز خبرو ته ډیره هوا ورکوي روزانه په راډیوګانو کې ترې يادونه کوي او په اصطلاح له ب څه بلا جوړوي له همدې ځایه باید پوه شو چې دا د اسلام او جهاد په خیر نه دي، نوځکه خو زموږ کافر او فاجر دښمنان ورته تبليغاتي کمپاین چلوي .

له افغان اولس څخه مې غوښتنه داده چې د خپلو مجاهدینو ټینګ ملاتړ وکړي جهاد یوه الهي فریضه وبولي او یوازې د طالبانو دنده يې ونه بولي ان شاءالله نور هغه وخت رانږدې دی چې دښمنان مات او په هیواد کې مو اسلامي نظام حاکم شي.

وماذلک علی الله بعزیز

مرکه کوونکی: حبيب مجاهد



اشتباه بزرگ

در آزمون شکست؟!

لیکوال: ابوصهیب حقاني هراتي

بعد از آنکه رئیس جمهور امریکا تحت فشار جنرالال جنگ طلب خود پذیرفت که در جدول کشیدن نیروهای خود از افغانستان تجدید نظر کرده و بجای بیرون کشیدن کل نیروهای خود تا پایان سال ۲۰۱۶ م، ۵۵۰۰ تن دیگر آنها را بخاطر تشویق روحیه و تقویت اردوی مزدور افغانستان نگاه دارد؛ این مسئله یکبار دیگر نشان داد که بارک اوباما و دولت امریکا بازهم مثل گذشته در آزمون افغانستان یک تصمیم غلط و نادرست اتخاذ کرده و بجای عبرت گرفتن از تاریخ شکست به تمدید شکست تن داد و در حالیکه از همین حالا کاملا برای امریکا معلوم است که جنگ افغانستان یک جنگ بی فایده و بی دستاورد برای دولت آن کشور است و هرگز نه فعلا و نه در آینده به نفع امریکاست؛ اما از سر جهل و لجاجت تن به تداوم این ذلت داد تا کشورش شاهد آثار منفی بیشتری از ناحیۀ جنگ افغانستان باشد.

در جنگ افغانستان که برای امریکایی ها طولانی ترین جنگ در تاریخ این کشور محسوب می شود این تصمیم امریکا هرگز از سر شوق و رغبت نبوده است و به گزارش روزنامه های خارجی این یک تصمیم دشوار بود که امریکا در موقعیت کنونی اتخاذ کرد؛ به نقل از آزادی در بخش بررسی مطبوعات جهان: "روزنامۀ "نیویورک تایمز" چاپ امریکا تصمیم اوباما در مورد افغانستان را دشوار خوانده است و گفته است که اوباما در کریسمس گذشته خوشحالانه گفته بود که امریکا مصئون تر شده چون افغانستان فرصت بازسازی یافته و دیگر مکان برای حملات تروریستی نخواهد بود؛ اما اکنون خلاف سخنان گذشته، اوباما مأموریت امریکا در افغانستان را تمدید کرد؛ یعنی تحلیل روزنامه این است که هر چند طرح جدید اوباما احتمالاً نخواهد توانست افغانستان را در مسیر ثبات قرار دهد، ولی او چارۀ دیگر نداشت."

فکر نمی کنم تبصرۀ نیویورک تایمز نیاز به وضاحت داشته باشد و در کل، این مسئله را روشن ساخت که امریکا وقتی ضُعف ادارۀ اجیر کابل در تحولات اخیر مخصوصا شمال افغانستان را دید و اینکه بار بار ادارۀ مزدور کابل چه از طریق عبدالله در حاشیۀ نشست سالانۀ سازمان ملل، و چه از طریق اشرف غنی در هنگام شکست نظامی عساکرش در قندوز و چه از طرف جنرالان قدرت طلب وجناح های جنگ طلب در داخل امریکا مجبور شد بر خلاف میل باطنی این تصمیم را بگیرد و در عین حال می دانست که این

تصمیم جز ضرر و زیان برای امریکا و تبعات منفی آن بر این کشور هیچ منفعتی دیگر نداشته؛ و همین طور این تصمیم هیچ تغییری در روال رو به ضعف ادارۀ دست نشاندۀ کابل هم نخواهد آورد؛ ولی به هرحال این تصمیم را گرفت تا چند صباحی بیش، مزدورانش در افغانستان خوشحال باشند.

عامل مهم دیگری که امریکا را بر آن داشت تا نسبت به وضعیت ادارۀ دست نشانده اش در کابل، از شفقت و مهربانی کار گرفته و بخاطر بلند بردن روحیۀ از دست رفتۀ آنها، تصمیم به تمدید حضورش بگیرد؛ این بود که گویا امریکا قصد دارد از تکرار اشتباه خود در عراق درس گرفته و به اصطلاح جلوی سقوط و فروپاشی ادارۀ مزدور کابل را حداقل در کوتاه مدت بگیرد که این عامل در اکثر محافل خبری و تحلیل وتبصره های روزنامه ها و رسانه های خارجی و داخلی به عنوان مهم ترین دلیل حضور بیشتر امریکا در افغانستان یاد می شود؛ در حالیکه اشتباه محض امریکا همین جاست که فکر می کند افغانستان عراق دوم است و نیروهای مزدور افغانی از ارتش عراق قوی تر است؛ در حالیکه طبق آمار مطبوعات وابسته به اشغالگران؛ مثل روزنامۀ فایننشل تایمز آمده: "نیروهای امنیتی افغانستان در حملات طالبان تلفات سنگین را متحمل شده اند، چنانچه که در جریان امسال بیش از پنج هزار نیروی امنیتی افغانستان کشته شده اند" آیا با این گراف بالا از تلفات، چگونه می شود روی قوت و توانایی نیروهای مزدور افغانستان حساب کرده و آنها را نسبت به نیروهای عراقی تواناتر دانست؟

و آیا مگر نیروهای اجیر افغانستان، بدون کمک زمینی و هوایی نیروهای اشغالگر ناتو و امریکا پس از تصرف شهر قندوز به دست طالبان، قادر شدند به تنهایی این شهر را از تصرف مجاهدین درآورند؛ هرگز نه و دنیا دید که قوای افغانی بدون پشتیبانی هوایی و زمینی قوت های اشغالگر خارجی توان بازپس گرفتن حتی یک وجب خاک از دست رفته را، نداشتند؟!؟

جدای از باور دشمنان نسبت به تمدید اشغال توسط امریکا، نباید تحرکات رو به افزایش روسیه در منطقه را نادیده گرفت؛ جایی که برای امریکا هم ارزش حیاتی دارد و امریکا هرگز این را تحمل کرده نمی تواند که بعد از آنهمه مصارف هنگفت جنگی در اشغال افغانستان و عراق، میدان را به رقیب دیرینۀ خود (روسیه) واگذار کرده تا آن کشور از فرصت به دست آمده نهایت استفاده را برده و از جنگ زیان بار امریکا در خاورمیانه، علیه خود امریکا استفاده شده و بیش از پیش اسباب شکست و رسوایی امریکا در جهان فراهم شود؛ شاید یک دلیل عمدۀ امریکا که تصمیم به تمدید اشغال در افغانستان گرفت و امریکایی ها کمتر آن را برملاء می سازند ترس شان از روسیه است که گویا اوضاع کنونی در آسیای میانه به نفع روسیه در جریان است؛ ولی اگر همین عامل، باعث ماندن بیشتر امریکا در افغانستان شده باشد هم، اشتباه محض است چون روسیه هرگز نخواهد توانست دومرتبه به آن قدرت قبلی اش در منطقه تبدیل شود؛ گرچه شاید بطور موقت روسیه یک جنگ تبلیغاتی و پر طمطراق راه اندازی کند.

به امید روزی که امریکا شکست خورده و ذلیل خاک افغانستان را ترک گفته و نظام مستقل اسلامی حاکم شود. ان شاء الله تعالی

د کندز فتحه

شهید زوی

پر روغتون خونړی بمبار او د دښمن پوچ تبلیغات

په سمت شمال کې د تاجکستان سره په پوله پروت د هیواد پنځم لوی ښار باندې د اسلامي امارت د مجاهدینو کامیاب برید؛ فتحه او د زندان نه یې د کابو ۵ سوه بندیانو ازادول چې اکثریت یې د ځایي مجاهدینو، نړۍ ډېره حیرانه کړیده؛ ډېر خلک دا ګومان کوي چې ګنې دا هر څه ناڅاپه رامنځته شویدي؛ خو څوک چې په ټول هیواد کې په ټولیزه توګه او په سمت شمال کې په ځانګړي ډول د طالبانو د نویو سترو فتوحاتو نه سم خبر دي او د نړیوالو رسنیو په دروغو باور نه کوي هغوئ پوهېږي چې دا ناڅاپي یا د تمې خلاف پېښه نده بلکې پدې ښار د حملې او قبضې لپاره طالبانو له څه مودې راهیسې ځانونه تیارول چې د پلان سره سم پرې د ځایي خلکو په وینا د ۴ نه تر ۵ سوو پورې په ورو او لویو وسلو سمبالو طالبانو له ۴ لوریو حمله وکړه؛ د کابل اداري امنیتي ټول ځواکونه یې له مقابلې عاجز شول او په لږ وخت کې مجاهدین د ټول ښار په نیولو بریالي شول.

قندوس د سمت شمال نورو ولایتونو ته د دروازې حیثیت لري؛ د افغانستان سره د اوږدې پولې لرونکي د منځنۍ آسیا د یو مهم هیواد تاجکستان سره دا ولایت لېږدلی دی او د شېرخان بندر یې افغانستان د تاجکستان سره د وچې له لارې نخلوي

د غربي اشغالګرو او د هغوئ د لاسپوڅو په مقابل کې په روان ۱۴ کلن مقدس جهادي بهیر کې د قندوس ښار د کوم ولایت رومبنی مرکز دی چې طالبان یې په بشپړه توګه فتح کوي؛ دا هماغه قندوس دی چې په سمت شمال کې تر ټولو وروسته د طالبانو له لاسه ووت او دا هماغه قندوس دی چې د سمت شمال د رومبي سقوط پر مهال د ټول سمت شمال نه د راټولو شویو ټولو طالبانو لپاره پناه ځای و؛ د مرکزي افغانستان سره د قندوس ټولې ځمکنۍ لارې پرې وې؛ دا ښار په تمامه معنی د محاصرې په حالت کې و او چارچاپېره ټولې سیمې د شمالي ټلوالې په لاس کې وې؛ دا خورا سخته او اوږده محاصره وه؛ دښمن به په پرلپسې ډول له هر لوري په قندوس درندې حملې کولې خو طالبانو تاریخي استقامت ښکاره کړ؛ د طالبانو مخالفینو څو ځلې اتحاد جوړ او د قندوس د نیولو لپاره یې سترې حملې وکړې خو طالبانو په ډېرې مېړانې په شا وتمبولې.

د مسلسلې کابو ۳ کلنې دفاع او دلته د ځان منظم کولو او مضبوطولو نه پس چې طالبانو د همدې قندوس نه د دښمن پر ضد په اقدام لاس پورې کړ نو له ځینو ورو سیمو پرته ورته الله تعالی د ټول سمت شمال فتح ور په برخه کړه؛ د دښمن کشران یې په پنجشیر ورننویستل او ډېر مشران یې ترکولاب، استامبول او تهران ورغلول.

خو اوس چې حالات تر هغې ډېر بدل دي ماته داسې نه ښکاري چې اسلامي امارت به بیا هم همداسې پلان لري چې په قندوس کې ځانونه ټینګ او بیا د ټول سمت شمال د نیولو لپاره اقدامات پیل کړي؛ او دا ځکه چې د اسلامي امارت لپاره د خپل ولس او مجاهدینو ژوند ډېر مهم دی؛ د دښمن په مقابل کې فتح غواړي خو پدې شرط چې ولس او مجاهدینو ته پکې ځاني تلفات ونه رسېږي یا بیخي کم وي؛ د قندوس نه د ټول سمت شمال د نیولو په اقدام کې چې د ډېرو مجاهدینو او ولسي وګړو د تلف کېدلو

قوي امکان دی نو دا به شاید سمدستي داسلامي امارت په پلان کې نه وي.

زما په اند خو به شاید دا اوږدې مودې لپاره دقندوس ښار کې دمجاهدینو پاتې کول هم داسلامي امارت هدف نه وي ځکه چې ترڅو ددښمن دهوايې ځواک مؤثر جواب نه وي پیدا شوی نو دښارونو په ښکاره برخو کې دمجاهدینو مېشت کول او یا ددښمن په مقابل کې په مېداني سیمو کې خطونه جوړول کامیابه ستراتېژي نده.

نو ددې خبرې قوي احتمال شته چې شاید څو ورځې پس طالبان دقندوس ښار پرېږدي؛ ځکه چې دقندوس دنیولو؛ دڅو اوونیو لپاره یې دخپلې ولکې لاندې ساتلو او ددښمن هره حمله په شاتمبولو او ورته دسترومالي او ځاني تلفاتو رسولو له لارې اسلامي امارت کابو هغه ټول اهداف ترلاسه کړل کوم یې چې ترلاسه کول غوښتل.

دعالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی دوفات داعلان نه پس به چې دښمن دخپلو غلامو نړیوالو رسنیو له لارې دا خبره زیاته کوله چې اوس به دبهرنو ځواکونو او کابل اداري پرضد ورو ورو جنګ کمزوری شي او ډېر طالبان به دجنګ نه لاس په سرشي؛ خو اوس چې دافغانستان په زیاترو سیمو او خصوصاً سمت شمال کې دنویو فتوحاتو لړی پیل او خبره دقندوس ترفتحې راورسېده نو ددښمن ټول امېدونه دخاورو سره خاورې شول؛ ټول اټکلونه یې غلط شول او ټولې نړۍ ته ثابته شوه چې دامیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد دوفات پراعلان په افغانستان کې دیرغلګرو او ګوډاګی اداري پرضد په روان مقاومت کې نه یواځې داچې کمزوري نده راغلې بلکې لازیات قوت یې موندلی دی؛ دنوي امیر ملااختر محمد منصور حفظه الله په قیادت کې طالبان په نوي جذبو، نویو ولولو، نوي احساس او خورا عالي مورال دجنګ ډګر ته راوتي دي نو ځکه یې هغه سیمې هم فتحه کړې چې له دې وړاندې هلته چا دطالب نوم هم نه شو اخستای.

طالبانو دقندوس دفتحې او تردې وخت پورې یې له ځان سره دساتلو له لارې خپل عسکري طاقت او دبهرنو اشغالګرو ضعف دلمر په څېر ټول عالم ته روښانه کړ، اسلامي امارت ټولې نړۍ ته وښوده چې که څه هم ټوله غربي نړۍ یې پرضد متحده شویده او دانساني تاریخ دې ستر اتحاد ددوئ پرضد په تېرو ۱۴کلونو کې خپل ټول فوځي طاقت وکارولو چې له امله یې زیات ځاني تلفات هم رامنځته شول خودې دطالبانو ارادې متزلزلې نکړې؛ ددښمن غوښتنو او زور ته یې سرونه ټیټ نکړل، داشغالګرو اشغال یې ونه مانه؛ له مادي زور نه یې مرعوب نه شول په ۱۴ کلن اوږد جنګ کې دبزدل دښمن په څېر نه ستړي شول، نه دافرادو قلت سره مخامخ شول او نه یې هم مورال بایلود بلکې لاهم ښه په مینې، لوی جرأت او خورا عالي مورال ددښمن په مقابل کې جنګېږي نو ځکه یې خارجي او داخلي دښمن نور د مقابلې نه عاجز دی او دقندوس په څېر لوی او خورا مهم ښار چې تر ې نیسي نو دفاع ترې نه شي کولای.

په زره پورې داده چې دقندوس فتحه په داسې وخت کې رامنځته شوه چې په نیویارک کې دملګرو ملتونو په جنرال اسامبلۍ کې د نړۍ دهېوادونو دمشرانو په سطحه کلنۍ غونډه روانه وه او دخبرو محور او اصل موضوع ددوئ په وینا ((په نړۍ کې داسلامي بنسټپالنې او تروریزم اغېزې)) وه.

که اسلامي امارت دځانګړي پلان او پروګرام له مخې پدې خاص وخت کې داحمله کړې وي نو یقیناً چې دا داسلامي امارت ډېر لوی بریلیتوب دی ځکه چې په ډېره اسانۍ یې پدې مهم وخت کې دهماغه جهاد طاقت نړۍ ته ښکاره کړ د کوم پرضد چې دنړۍ دامشرانو راټول شوي وو؛ داسلامي امارت مجاهدینو ټولې نړۍ ته دا پیغام ورکړ چې نه نور غاصب قوتونه او نه هم ددوئ په لاس

جوړه شوې لاسپوڅې اداره دمجاهدينو مقابله روانه ساتلای شي او نه نورد جهاد زور ته دټينګې دي.

او که په نيويارک کې ديادې غونډې سره دقندوس فتحه دپلان له مخې نه وي بلکې يواځې يو تصادف وي نو دا بيا ډېرپه زړه پورې تصادف دی ځکه چې له ځانه سره يې هماغه پيغام ولرلو دکوم نه موچې يادونه وکړه ځکه خود امريکا په شمول هيڅ هم دطالبانو ددې سترې فتحې نه دانکار جرأت ونه شو کړای؛ امريکا پدې اعتراف کولو مجبوره شوه چې په قندوس دطالبانو قبضه دافغان دولت لپاره لوی ګوزاردی؛ دطالبانو دپرمختګ په اړه اشرف غني ځو کرته رسنيو ته دروغ وويل خو هغه هم دحقايقو په په پټولو ونه توانېد؛ اشرف غني ويلي وو چې موږ به بېرته ډېرژر قندوس ونيسو خو په جواب کې يې داسلامي امارت وياند ويلي چې قندوس خو دکابل اداري له لاسه وتلی دنور افغانستان نه به يې هم ژرتېرور تول کړو.

او هغه رسنۍ چې شپه او ورځ داشغالګرو او کابل اداري لپاره تبليغات کوي هغه هم دې اعتراف کولو ته اړ شوې چې وواي: دقندوس نيول د۲۰۰۱م کال نه پس دطالبانو تر ټولو ستره کاميابي ده.

نو ځکه اوس هر څوک وايي: پدې کې هيڅ شک نشته چې ۱۴ کاله پس پر قندوس دطالبانو قبضه دکابل اداري او اشغالګرو ځواکونو لپاره ستر ملاماتونکی ګوزاردی.

حقيقت دادی چې دقندوس فتحې امريکا او اتحاديان يې سخت تاهيلي کړل نو ځکه په نيويارک کې دامريکا ولسمشر پدې تريخ حقيقت اعتراف کولو ته اړ شو چې پر نړۍ دزور او پيسو له لارې دقبضې امريکايي ستراتيژي نوره ناکامه ده او دکوم هېواد دولس له خوښې پرته داوږدې مودې لپاره دقبضې دوام ناشونی کاردی.

که داو باما وينا ته په غور وکتل شي نو هغه پدې حقيقت اعتراف کړيدی چې دطالبانو په شمول داشغال پرضد دنړۍ هر حرکت داشغالګرو پرضد دمبارزې حق لري نو بايد اشغالګر فکروکړي او دکمزورو هېوادونو اشغال ته دپای ټکی کېږدي.

نو نړۍ بايد نور دافغانستان په اړه په بې ګټې خبرو وختونه ضايع نکړي او نه نور داشغالګرو داشغال ددوام او يا دلاسپوڅې اداري دبقا فکروکړي بلکې دافغانانو داراداو احترام دې وکړي دافغانستان نه دې بهرني فوځونه راوباسي او افغانان دې پرېږدي چې يوه داسې اداره جوړه کړي چې پکې دټول ملت خيرنغښتی وي او ټول ملت ته دمنلووړوي.

دکابل داداري او دامريکا په مشرۍ کې دټولو غربي اشغالګرو دا ضعف چې طالبانو نړۍ ته ښکاره کړای شو دا دطالبانو ډېره لويه کاميابي ده نو که له دې نه پس ترې تاکتيکي شاتګ کوي او يا يې له مصلحت له مخې پرېږدي دا به دطالبانو کمزوري نه ګڼل کېږي او نه به يې اعتبار ته څه تاوان ورسېږي بلکې په خپلې ارادې او دخپل پلان سره سم ديو لوی ښار نيول او بيا يې دخپل پلان له مخې پرېښودل او ترې خوندي وتل به اصل بريا ليتوب او ددې خبرې روښانه دليل وي چې دجنګ ابتکار دطالبانو په لاس کې دی او داچې اوس طالبان دهېواد په زياترو برخو کې اقدامات کوي او دکابل لاسپوڅې اداره او ټول غربي اتحاد کمزوري دفاعي حالت ته راغلي دي.

ددقندوس دبېرته نيولو لپاره دناټو ځواکونو هم دلاسپوڅې اردو مرستې ته راودانګل خو هيڅ پرمختګ يې ونه شو کړای او هر ځل يې چې پر طالبانو ګډه حمله کړې ده نو دماتې سره مخامخ شويدي چې شکست خوړلي او بزدلو اشغالګرو ددې مسلسلو ماتونه پس دمسلمانو او مجاهدو قندوسيانو نه دانتقام اخستلو په موخه بمباروونه پيل کړيدي چې پدې لړکې داکتوبر په ۳يمې نېټې امريکايي ځواکونو دبې پولې ډاکترانو په نوم دنړيوالې اداري روغتون هم په نښه کړچې پکې دډاکترانو په شمول دروغتون ۱۲ کارکونکي او ۱۰ مريضان مړه او ۳۷ ټپيان شول؛ په وژل شويو کې

۳ کوچنیان هم شامل دي ؛ دبمبارېر مهال په روغتون کې ۱۰۵ مريضان، ددوئ کښ پېوازان او د۸۰ نه زيات د روغتون کارکونکي موجود وو ؛ د روغتون ډاکترانو ويلي دي چې مسلسل ۱۰۰ دقيقې امريکايي طياروپه دې روغتون بمبارو کړچې له امله يې روغتون وران او يـاده مرگ ژوبله رامنځته شوه ؛ دوئ دا هم ويلي دي چې ټـولې نښې نښانې داسې دي چې پـه روغتـون شـوي بمبارکې امريکايانو کيمياوي مواد کارولي دي ؛ دحميدالله په نوم يو ډاکتر وايې چې دادفوځې مشرانو او د چارو د ماهرينو کار دی چې پـه دې اړه پلټنه وکړي او دحقايقونه خلک خبرکړي خـو دا چې دمړو غوښې شړېدلې ؛ شکلونه يې له پېژندگلوۍ وتې دي او ترلږ ساحو خلک په تنفس کولو کې د تکليف سره مخامخ شويدي نو دا د دې خبرې قـوي دليـل دی چې کيمياوي مواد کـارول شويدي؛ ډاکترانو او د روغتون مسئولينو دا هم ويلي دي چې مورد بمبارپه جريان کې دافغان دولت او امريکايانو سره رابطه ټينگه کړه او له دې موخبرکړل چې زموږپه روغتون بمبار روان دی نو بايد ژرترژره بند شي خو هغوئ زموږپه خبره هيڅ غوږونه کرولو او تر۱۰۰ دقيقوپې بمبار جاري وساتلو .

دملګرو ملتونـو اداری دبشـر د حقوقو دکمېټې مشـرزيد رعدالحسن دامريکا داعمل په سختو ټکو غندلی دی او ويلي يې دي چې دا داسې ناقابل معافي عمل دی چې دجنگي جرمونو لاندې راتلای شي .

پرروغتون له حملې وروسته درې ځلې امريکا خپل بيان بدل کړ؛ په سرکې يې ويلي وو اشتباه شويده بيا يې خبره بدله کړه او ويې ويل له دې روغتون نه پردوئ ډزې شوې وې نوځکه يې بمبارېرې وکړاوس دناټو او امريکايي ځواکونو لوی قوماندان جنرال کمپبل په واشنگټن کې يوې خبري غونډې ته ويلي دي چې دکندوز پر روغتون يې هوايي بريد دافغان ځواکونو په غوښتنه وروسته ترهغې ترسره کړچې وسلوالو له روغتون څخه پرافغان ځواکونو ډزې کولې .

امريکايانو هرځل دروغ ويلي ونوځکه يې خبره بدلېږي رابدلېږي ؛ حقيقت دادی چې نه دې روغتون ته کوم مجاهد ورغلی دی ؛ نه له روغتونه پربهرنو يا داخلي ځواکونو ډزې شويدي او نه دې روغتون دډزو په ځای کې قراردرلود ؛ که دلته مجاهدينو شتون درلود ای نوپکار ده چې په مړويا ټپيانو کې هم مجاهدين وای حال دا چې دلته په وژل شويو او ټپيانو کې يو مجاهد هم نشته چې ددې حقيقت اظهار پخپله ددې اداري مشرپارټ جانسينس هم کړيدی ؛ هغه ښه په روښانو ټکو ويلي دي چې مورږ دې حملو پر دردولي يو ځکه چې پکې يواځې زموږ ډاکترانو او مريضانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده

امريکايانو اوس پدې اړه خپله خطا منلې ده ؛ ښښنه يې هم غوښتې ده او وژل شويو تنانو ته يې دځه پيسـو ورکولو ژمنه هم کړيده خوپوښتنه داده چې آيا يواځې په ښښنې غوښتلو او دبې گناه هرووژل شوي تـن پـه سـرددوه درې زرو ډالرو پـه ورکولـو دا دومره سترجنايت ښنل کېدای شي ؟

آيا دبې گناه افغانانو وينه دومره سپکه ده چې داسې په اسانه دې هدر ولاړه شي؟

آيا امريکا او نورلويديځ خپلو اتباعو تـه هم په همداسې نظرگوري لکه موږ ته چې په کوم نظرگوري؟

که دکوم اسلامي هېواد مسلمان فوځ دامريکا يابل کوم غربي هېواد بې گناه وگړي په داسې بې رحمۍ ووژني نويواځې دښښنې په غوښتلو به دوئ مسلمان فوځ وښښي؟

که غربي ولسونه ريښتيا هم بشرپالي وي او په ريښتيا هم ټول بشرته په يو نظرگوري نوپکار ده چې اوس خو راپورته شي او دخپلو لويو لويو دعوو يو څو فيصده ريښتينو الی خونړۍ ته ښکاره کړي.

اوس ددې وخت دی چې غربي ولسونه خپل هغه دولتي واکمنان دمحاکمې مېز تـه راکـاږي چې پرافغانستان دحملې پرېکړې يې کړې وې او يا يې په پټو سترگو پرافغانستان ديرغل

لپاره جوړ شوي اتحاد کې خپل هېوادونه راښکېل کړل؛لويديځوال ولسونه بايد ددې حاکمانو نه وپوښتي چې ولې مو دافغانانو تاريخ هېر کړی و؛دلته مو دسترې برتانې اولوی شوروي اتحاد تاريخي شکستونه ولې له پامه غورځولي و؟ دصليبي جنګونو داعلان سره سم مو چې پر افغانستان حمله وکړه؛دا هېواد مو لوټې لوټې او دلته مو په لسګونو زره فوځيان اوپه ملياردونو ډالر ضايع کړل نو تاسو څه ترلاسه کړل؟

آيا اسلام مو له منځه يوړلو؟آيا دجهاد روحيه مو ضعيفه کړه؟آيا له مجاهدينو مو افغانستان خالي کړ؟لاسپوڅې اداړې او اردو باندې چې بې حده زيات مصارف وشول آيا دخپل ځان نه ددفاع او په افغانستان کې دبقا اهليت يې پيدا کړ او دغرب ممثله اداره جوړه شوه؟اوآيا دامريکا او نورلويديځ شوم اهداف دلته ترسره شول؟

چې دا هيڅ هم ندي ترسره شوي نو لږترلږه خو دې دا ولسونه دخپلو دولتونو نه دا غوښتنه وکړي چې نور دې بې ګټې جنګ کې خپل فوځيان او په ملياردونو ډالر نه ضايع کوي خپل فوځونه دې له افغانستان نه راوباسي او افغانان دې پرېږدې چې په خپل هېواد هغه نظام پخپله نافذ کړي دکوم لپاره چې په سونو زرو افغانانو دسرونو قرباني ورکړېده.

دکابل اداره چې دتېرو ۱۴کلونو راهيسې دمجاهدينو دهربريا ليتوب پرمهال خپله پره پرنورو وراچوي داخل يې هم همداسې وکړل ؛پرځای ددې چې دمجاهدينو په جرأت ،قوت ،ښه پلان، نظم اوغښتلتيا اودخپلو امنيتي ځواکونو اواربکيانو په کمزورئ، بزدلئ اوبې کفايتئ يې اعتراف کړی وای اوترڅنګ يې دامنلی وای چې ملت يې نورنه غواړي دځنې ګاونډيو هېوادونو په هکله يې داسې څرګندونې وکړې لکه دقندوس فاتحين چې افغانان نه بلکې نورڅوک وي چې دادافغان ملت اوددوئ دتاريخ سره ډېره ستره جفاده.

اسلامي امارت دامنې چې دټولې نړۍ دمسلمانانو دزړه مينه ،همدردي اودعاګانې ورسره دي اوله دې هم انکارنه کوي چې دسترکفري قابض اتحاد په مقابل کې د روان جهاد په مقدسو صفوفو کې ورسره دنړۍ دځنې برخونه راغلي ځوانان شريک شويدي چې ددوئ هرې قربانئ ته دډېرقدرپه نظرګوري اوپدې هکله دچا ددښمنئ اوملامتيا هيڅ پروانه ساتي خو ترکومه چې ددولتونو خبره ده نو اسلامي امارت دنړۍ په کوم دولت کې نه داجرأت ويني اونه دنړۍ دکوم دولت په رښتينې خواخوږئ ،وفا اواخلاص عقيده لري اونه دادځان لپاره ګټوره خبره بولي.

اسلامي امارت يواځې په اسلامي اخوت عقيده لري اودصالحو ،زيرکو او مخلصو مشرانو ترقيادت لاندې راجمع شوي ملسمان ځوانان اسلامي نړۍ ته دورپېښو ټولو ستونزو حل او اصل طاقت ګڼي نوځکه سمتي ،ژبني ،قومي اونور هرډول تعصبات ردوي خودخپل ولس مزاج ته پاملرنه هم مهمه ګڼي ؛دسيمې اوخصوصاً ګاونډيو هېوادونو حساسيتونه هم له پامه نه غورځوي ؛ دنړۍ سياسي اوضاع څاري اودنړۍ اوسيمې دسياست په لوړواوجوړو پوهېږي نوځکه دټولو داسې حرکتونو اواقداماتونه ځان ژغوري چې دولس دحساسيتونو راپارېدلو اودنورو هېوادونو سره ددښمنئ اوروابطو خرابېدلو سبب ګرځي.

اسلامي امارت دټولې نړۍ سره دښمني اودروابطو خرابول نه غواړي اونه دنورو په داخلي چاروکې دلاسوهنې پاليسي لري نوځکه نوروته هم په خپلو چاروکې دمداخلې اجازه نه ورکوي ؛ اسلامي امارت خپلواک دی ؛ اراده يې خپله ده ؛ واک يې خپل دی ؛دخپلو موخو لپاره جنګېږي اودخپل پلان اوپروګرام له مخې به مخ په وړاندې ځي .انشاءالله تعالی.

په جهاد کې دمطبوعاتي فعالیت ارزښت

داسلامي نړۍ ستر عالم شیخ ابو قتاده حفظه الله

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله ومن واله.

علامه شیخ ابو قتاده صیب! الله جل جلاله دې ستاسې حفاظت او ساتنه وکړي او الله جل جلاله دې تاسې په حق باندې ثابت قدم لري.

شیخ صیب! دشام په جهادي ساحه کې ځیني ملګري په مطبوعاتي برخه کې کار کوي دا ځیني پوښتني یې تاسې ته رالیږلي او ځواب ته مو منتظر دي الله جل جلاله دې تا ته ښه جزاء درکړي.

پوښتني: زموږ فاضل شیخه! الله جل جلاله دې ستا حفاظت او ساتنه وکړي السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته:

(۱) کوم مجاهد چې په جهادي مرکزونو کې مطبوعاتي فعالیت لکه (جهادي فلمونه ایډیټ کول یا انځورونه ډیزاین کول او داسې نور) کوي آیا هغه ته دمرابط في سبیل الله اجر ورکول کیږي، زموږ مقصد هغه احادیث دي چې درباط في سبیل الله دفضیلت په اړه راغلي، لکه دا چې (دالله جل جلاله په لاره کې یوه ورځ رباط دحجر اسود په څنګ کې دلیلة القدر دشپې له سبا کولو څخه زیات فضیلت لري؟

او آیا که چیرته کوم مجاهد په دغه حال کې ووژل شي ددې عمل اجر دقیامت ترورځې پورې ورکول کیږي؟

(۲) کوم ملګری چې په مطبوعاتي برخه کې په روزنه کې تقصیر کوي او ددې تقصیر له امله دجهاد دمخالفانو رسنیز فعالیت یا دغلاتو رسنیز فعالیت یا دنورو فعالیت غالب شو او په نتیجه کې یې ګڼ شمیر ځوانان دغلاتو لیکو ته جذب شي، آیا ددې له امله تقصیر کوونکی ملګری ګناهګاریږي؟

ځکه ډیر ملګري په جهادي فعالیتونو کې په رسنیز ډګر کې کار کول نه خوښوي بلکه جګړه ایز یا دتصنیع او نورو برخو کې په شوق کار کوي.

نو شیخ صیب موږ غواړو چې په دې اړه یو ځانګړې توصیه وکړي ترڅو دا برخه همداسې خواره پاتې نشي.

شیخ ابو قتاده حفظه الله په ځواب کې ورته ولیکل:

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته.

زما مسلمانه وروره! پدې ښه ځان پوه کړه، چې داسلام په تاریخ بلکه دملتونو په تاریخ کې دجهاد او قتال له سترو کارونو څخه رسنیز فعالیت او مطبوعاتي کار دی،

د ځان دوجود ثابتولو او دغلبې نیمايي همدا رسنیز فعالیت دی، دا وګورئ زموږ رسول صلی الله علیه وسلم حسان رضی الله عنه هڅوي ترڅو دمشرکانو هجوه وکړي، او هغه ته وایي چې ستا کلام په هغوی دغشو له ګذارونو څخه هم بد لګیږي.

مسلم په خپل صحیح کې له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دقریشو هجوه کوئ دا په هغوی باندې دغشو له فایرونو څخه هم بد تماميږي، لومړی ابن رواحه ته یوڅوک ورولیږه چې دکفارو هجوه وکړي، هغه یې هجوه وکړه،

رسول الله پرې اکتفاء ونه کړه، بیا یې کعب ابن مالک رضی الله عنه ته ورولیږه چې دمشرکانو هجوه وکړي، بیا یې حسان ابن ثابت رضی الله عنه ته ورولیږه، چې کله حسان رضی الله عنه ته ورننه ووت حسان وویل: تاسې ته نږدې ده چې دغه لکۍ وهونکي زمري ته یې راولیږئ (ځان یې له زمري او خپله ژبه یې دزمري له لکۍ سره تشبیه کړه زمری چې کله په قهر شي خپله لکۍ یوه بلې خوا ته وهي) بیا یې ژبه راوویستله یو او بل لوري ته یې وښوروله او ویې ویل: قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالیږلی یې زه به یې په خپله ژبه داسې تار تار کړم لکه څنګه چې پوستکی شکول کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: عجله مه کوه ځکه ابو بکر رضی الله عنه ته دقریشو نسبونه ښه ورمعلوم دي، زه هم په قریشو کې نسب لرم ترڅو زما نسب په لنډه توګه درته وښايي (داسې نه چې زما دنسب هجوه وکړې) حسان ورغی بیا راستون شو او ویې یارسول الله! ماته یې ستا نسب په لنډه توګه راوښود، قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالیږلی یې، زه به ستا نسب له هجوې داسې روغ رمټ باسم لکه له اوړو چې ویښته باسل کیږي، عائشه رضی الله عنها فرمايي: چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدل چې حسان رضی الله عنه ته یې ویل: روح القدس جبرائیل به تل ستا تائید او ملاتړ کوي ترڅو چې ته له الله جل جلاله او دهغه له رسول څخه دفاع کوې.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي: چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم واوریدل چې ویل یې: حسان یې هجوه وکړه دمسلمانانو زړونه یې هم یخ کړل او خپل زړه یې هم یخ کړ.

همدغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر فاروق رضی الله عنه ته امر کوي چې ابو سفیان ته داحد له غزا وروسته ځواب ورکړي او ځواب هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورښيي:

امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې له براء ابن عازب رضی الله عنه څخه روایت کړی چې موږ داحد دغزا په ورځ له مشرکانو سره مخامخ شوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغشو ویشتونکو یوه ډله په غونډۍ کښینوله او عبد الله رضی الله عنه یې ورباندې امیر وټاکه، (په دې اوږد حدیث کې وروسته راځي) چې ابو سفیان سر پورته کړ او ویې ویل: آیا په تاسې کې محمد شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب مه ورکوئ، هغه وویل: آیا په تاسې کې ابن ابي قحافه (ابو بکر رضی الله عنه (شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب مه ورکوئ، هغه وویل: آیا په تاسې کې دخطاب زوی (عمر رضی الله عنه) شته؟ بیا یې وویل: دا ټول وژل شوي ځکه که ژوندي وای نو ځواب به یې راکړی وو، عمر رضی الله عنه په خپل ځان توان له لاسه ورکړ او ویې ویل: دروغ دې وویل: ای دالله دښمنه! الله جل جلاله هغه خلک لا ژوندي پرې ایښي چې تا به پرې رسوا کړي، ابو سفیان وویل :هبل (دبوت نوم) لوړ شه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب ورکړئ، اصحابو وفرمایل: څه ورته ووایو؟ ویې ویل: ورته ووایئ: الله جل جلاله لوړ او لوی دی، ابو سفیان وویل: موږ عزی (دبت نوم) لرو او تاسې عزی نه لرئ. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ځواب ورکړئ، اصحابو وفرمایل: څه ورته ووایو؟ ویې ویل: ورته ووایئ: الله جل جلاله زموږ مولی دی او تاسې مولی نلرئ.

همدغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل شاعر ته خپل منبر سموي ترڅو دهغه صلی الله علیه وسلم او اسلام په اړه حق کلام ووايي، نو هغه خلک کومه خوا روان دي چې دا ستر او عظیم کارونه پریږدي او التفات نه ورته کوي؟؟

په امیر باندې لازم او واجب دي چې یوه ډله خلک دې ته فارغ کړي چې په خبرو دحق مرسته وکړي لکه څنګه چې یو مجاهد دټوپک په شپیلۍ دحق لپاره مبارزه کوي، که په خپله نه تیاریدل په زور دې یې دې کار ته آماده کړي، که جهاد له دغه ستر کار څخه خالي پاتې شو نو نه موږ خپل ځان چاته ورپیژندلی شو او نه په خپلو دښمنانو رد کولای شو او نه ځوانان او سړي راجلبولی شو چې دسنګرونو او جبهاتو خلاوې ورباندې ډکې کړو.

دغه کار فرض کفایي ده که ټولو مجاهدینو پرېښود بلا استثناء به ټول ګناهګار وي، دا کار له جهاد او قتال سره برابر ده، بلکه په خپله جهاد دی، عربو به دسفر لپاره تیه ویونکی کرایه کاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دا کار کړی، نو چې کله یو انسان یا حیوان په خپل سفر کې داسې تیو او اشعارو ته اړتیا لري ترڅو په سفر باندې توان پیدا کړي، نو آیا مجاهدین هغه چا ته حاجت نلري چې دهغوی خبرونه او انځورونه او پیغامونه نقل کړي ترڅو یې زړونه تقویه او نفسونه یې ثبات پیدا کړي؟

له هغه چا به څوک زیات اجر ولري چې تحریض علی القتال کوي، له مجاهدینو دفاع کوي، دهغوی خبرونه نشر- کوي، او پدې توګه دډېر مسلمانانو زړونه خوشالوي.؟

ډېر هغه حق چې مجاهد پکې عملا او علما حقا او صدقا واقع ده کچیرته ترشا داسې څوک ونلري چې ویې لیکي او ثبت یې کړي، نو فوت کېږي او اثر یې له منځه ځي.

او قسم په الله که زه داسې ووایم چې رسنیز فعالیت کوونکي مجاهدین له ډېرو هغو مجاهدینو څخه ستر اجر لري چې مخامخ په جګړه کې برخه اخلي نو نه به ګناهګار شم او نه دا لیرې خبره ده.

زموږ ډېرې هڅې له همدې امله ضائع کېږي او اغیار یې غلا کړي، که چیرته رسنیز کندکونه ونلرو چې په غاړه یې واخلي ثبت یې کړي او په رښتوني بڼه یې نشر ته وسپاري.

ډېر هغه درواغ چې موږ پرې تورن یو دبیان په زور او دخلکو له خبرولو پرته یې بله ددفاع لاره نشته.

ډېر مسلمانان ځوانان دګمراه، مبتدع او کافر دښمن مطبوعاتي څواک په سبب له موږ څخه غلا کېږي.

ډېر کرته موږ د صادقانو له دعاء څخه ځکه محرومیږو چې هغوی زموږ له خبرونو څخه ناخبره وي.

ډېر نفسونه هغه وخت ترقي کوي او خوشالیږي چې کله هغوی دا درک کړي چې مسلمانان زموږ په فتوحاتو او خبرونو خوشالیږي نو دهغوی نفسونه لازیاتې قرباني، ورکړې او ځان فدا کولو ته تیاریږي، ځکه کله چې هغوی ګوري چې زموږ قرباني بې ځایه نه ځي، بلکه پدې سره دمجاهدینو ملاتړ نور هم زیاتیږي، نو په ډېر ښه زړه پرمختګ ځان فدا کولو ته چمتو کېږي.

په رسنیزه جګړه کې هره نوعه تقصیر په نظامي جګړه کې له تقصیر څخه زیات زیان لري، او په مطبوعاتي برخه کې دتیروتنې تاوان هم د جګړې په میدان کې له تیروتنې زیات تاوان لري.

او قسم په الله! کوم مجاهدین چې پدې میدان کې کار کوي او شپه شوګیر کوي دهغوی شوګیر د هغه پیره دار له شوګیر سره په اجر کې برابر ده چې په جبهو او سنګرونو کې پیره کوي، هغه ته خپل اجر هم ورکول کېږي او دهغه په خیر دنورو هم، او هغه ته دهغه عالم اجر هم ورکول کېږي چې دشریعت دیوې مسئلې دتحقیق او څیړنې لپاره شپه روڼوي، او که پدې حال کې مرګ ورته راغی چې په اخلاص او دثواب په نیت خپل دې کار ته دوام ورکوي دی به له خپلو هغو ملګرو سره یوځای راپورته کېږي چې دبمباری لاندې یا په مرمۍ وژل شوی وي.

او دغه سترګه چې په مطبوعاتي فعالیت کې ویښه پاتې کېږي دا دهغې سترګې په څیر دی چې دالله جل جلاله په لاره کې پیره کوي.

زه دنصیحت په توګه دمجاهدینو مشرانو ته وایم چې که چیرته کوم داسې ملګری پیدا شو چې دمطبوعاتي فعالیت ورتیا لري او په سمه توګه دا کار کولی شي خو بیا هم ددې کار له کولو بده کوي نو له جهاد او قتال څخه منعه کړئ، ترڅو دخپل نفس له خوشالولو څخه محروم شي، ځکه هغه کار پرېښودل چې دجهاد له مصالحو څخه وي او په ځای یې داسې کار کول چې ده خوند ورکوي دا یو نوعه دنفس خوشالول دي، دشرعي جهاد مقصد ندی.

الله جل جلاله دې ټولو ته دهغو اعمالو دکولو توفیق ورکړي چې دهغه خوښ او هغه پرې راضي کېږي.

او ټولې ستاینې الله رب العالمین لره دي.

طالبانوپه یوه مارش د یرغلګرو

خوارلسو کلنه خواري په اوبو لاهو کړه

سید شریف

دطالبانو په لاس د کندوز سقوط دیرغلګرو خواکونو هغه وېناوې هسې غولونکې پرېړې ثابتې کړې چې ویل به یې افغان پوځ کولای شي هغه سیمې چې ددوی په ملاتړ یې نیولې او ساتلې،ددوی تر مستقیمې مداخلې وروسته هم ساتلی شي یرغلګرو په ګڼونړیوالو کنفرانسونواوسیمنارونو کې د داخلي عسکرو تر حد زیاته ستاینه کړې ،خو دادی نن یې نړیوال دسر په سترګو ویني چې هماغه پوځ چې دوی روزلی او پاللی ؤ د لیري سیمو، ولسوالیو څه چې د ولایتونو مرکزونه هم نه شي ساتلی.

نړیوالو او کورنیو رسنیو د طالبانو پر ضد زیات منفي تبلیغات کړي وو،دوی دخپل معمول له مخې د طالبانو ډېره وړه اشتباه ډېره لویه تبلیغ کړې او دحکومت او یرغلګرو خواکونو پر نه بخښونکو جنایتونو یې په وار وار خروار خروار خاورې انبار کړې دي .

د کندوز د سقوط څخه وروسته یو ځل بیا روښانه شوه چې ولس ددغه ډول رسنیو په پروپاګند باور نه کوي، څکه طالبان چې کندوز ته ننوتل ددې پرخای چې خلک یې پرورانګي ودرېږي او یا حد اقل د مخالفت اواز پورته کړي،برعکس خلکو د طالبانو په ورتګ ډېرې خوشحالي وکړې او د «موږ درسره یو!» په شعارونه یې بدرګه کړل .

د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور صاحب طالب جنګیالیو ته ویلي چې د خلګو امنیت وساتي، کوم کسانو چې په حکومتي ادارو کې کار کړی او اوس په خپلو کورنو کې اوسي هغوی ته زیان ونه رسوي، د خلګو د شتمنیو، ملکیتونو ساتنې ته پوره توجه وکړي، دعام المنفعه تاسیساتو دوراني او چور چپاول مخه ونیسي۔ او په توله کې د خلګو سوکاله ژوند او هوساینې ته لا ډیره زمینه برابره کړي .

په تیر کې د کندوز د سقوط غوندې حالاتو کې مغرضو کړیو اولوټمارو افرادو دولتي او ملکي شتمنې چور کړې، شخصي او تنظیمي انتقام یې اخیستی ا وخلګ یې بې له محاکمې وژلي او ځورلي دي .طالبانو د خپلې روښانه سابقې په څیر په کندوز کې هم د چور چپاول او انتقام جویې مخه نیولې او تراوسه کومه دا ډول ناوړه پېښه نه ده رامنځته شوې چې د طالبانو نبه ماضي داغمنه کړې.

د کندوز سقوط په اثبات ورسوله چې د جګړې ابتکار د طالبانو په لاس کې دی، دوی چې هر ځای او هر وخت وغواړي بریدونه کولای شي، پراخې سیمې اود ولسوالیو مرکزونه نیولی او تر کلونو کلونو ساتلی شي، اوس چې یې په لومړي ځل د کندوز غوندې مهم او لوی ولایت مرکز ونیو، دښمن یې هم باید د یو تریخ حقیقت په توګه دطالبانو پر برلاسی اعتراف وکړي او خپل شکست ومني.

مهمه داده طالبان چې دامهال د هیواد په ګوټ ګوټ کې د یرغلګرو خواکونو او کورنیو مجهزو عسکروسره په پراخه جګړه بوخت دي، یوازې هغو طالب جنګیالیو چې کندوز کې دي وېې کولای شوای چې په یوه مارش سره د کندوز ولایت ته سقوط ورکړي او دیرغلګروله لورې روزل شوي او په وسلو سمبال شوي پوځیان ، پولیس او اربکیان له پخو مورچلونو څخه وشړي .اما برعکس ولس ولیدل چې د کندوز ښار د لاندې کولو لپاره د کابل اداري د یرغلګرو خواکونو څخه د هوایي مرستې غوښتنه وکړه او د نورو ولایتونو او حتی کابل څخه یې کومکي عسکر ور وغوښت

نوميالي عالمان

مفتي حبيب الله قاسمي

د هلمند د بست سيمې نوميالی عالم

د دريمې پېړۍ نوميالی محدث او نوماند فقيه

علامه ابن حبان رحمه الله

زوکړه : ۲۷۰هـ مړينه :

يادښت : زموږ هېواد په تېر اسلامي تاريخ کې دعلـم پـه هر ډګر کـې نوميـالي عالمـان لـرل، ښـکلي مفسـرين ، نوميـالي محدثين اوغښتلي فقهاء يې لرل چې نړۍ وال شهرت يې ګټلـی دی، هغوی د تدريس او قلم په ډګر کې اسلام او مسلمانان تـه نه هېريدونکي او تل پاته خدمتونه کړي دي.

زموږ نوی نسل له دغو پخوانيو علمي شخصيتونو سره نا اشنااونابلده دی ددې له پاره چې دوی ورسره ا شـنا شي زه لـه تيرې څه پاسـه يـوې لسـيزې راهېسـې ددوی دژونـد پانوپـه راټولولو اخته يم ، غواړم ددې لـړۍ پيـل د هېـواد لـه نوميـالي محدث علامه ابن حبان رحمه الله څخه وکړم اودنومـوړي پـه اړه معلومات درسره شريک کړم.

[۱]ـــ نوم او زوکړه :

خپل نوم يې ((محمـد)) د((حبـان)) زوی ، د((احمـد)) لمسی او د ((حبان)) کړوسی دی، چې پـه ختـه عـدناني عـرب و(۱) د افغانستان د اوسني هلمند په ((بست)) کې په دوه سوه اويا (۲۷۰)هجري په شا او خوکې کې زيږلي و. دغه مهال پـر هېواد د ((صفاريانو)) او ((ساسانيانو))واکمني وه.

که څه هم يوه مورخ يې د زوکړې معلوم کـال نـه دی ياد کړی ؛ خو دوفات په اړه ټول مورخين يوه خولـه دی چـې نوموړی پرکال ۳٥٤ ه کې داتيا کلونو په عمر وفات شوی.(۲)

[۲]ـ د علامه ابن حبان دزوکړې سيمه ((بست)) پيژندنه:

زموږ د اوسني هلمند په لښکر ګاه کې دننه يوه سيمه ده ،چې پخوا دپخـواني سجسـتان هېـواد يـو ولايـت ګڼـل کيـده ترداتژدې وخته پـورې د ((بسـت)) دکـلاوو نښـې پـاتې وې ، نوميـالی مسـلمان جغرافيـه پوهـه او پيـاوړی مـورخ علامـه ياقوت حموي (مړ: ٦٢٦ هـ)په معجم البلدان کې د دغې سيمې پيژندنه داسې کوي: (بُست چې (با) تـوری يـې پـېښ لـري، د سجستان اوغزني او هرات ترمنځ يولوی ښار دی، چـې ګرمـه هوا لري اوشـا اوخـوا سـيمو تـه يـې ((ګرمسـير)) وايي،چې معنايې د:((تودې سيمې)) ده، بست ډيرې وبالي او شنې سيمې لري، چې اوس پکې يوڅه ويجاړې هم راغلې ده))(۳).

عرب مورخين زياتوي: ((دبست سيمه دسجستان ختيځ ته پرته ده دهلمند دريـاب پـه غـاړه پرتـه ده چـې جنـوب تـه داراغنداب له سيند سره نښلي ، دغه ډير ښکلی سيمه څکـه ده

---

۱ ياقوت حموي (مر : ٦٢٦ هـ)پـه معجـم البلـدان کـې دنومـوړی شـجره ترعدنان پورې تولې ليکلې ده اوغه راز علامه علاء الدين فارسي دخپـل کتاب صحيح په ترتيب شوې نسخه صحيح ابن حبـان ابـن بلبـان پـه سريزه کې شته.

۲ وګوری دصحيح ابن حبنان له پاره داستاد شيعب ارناووط سريزه : مخ.

۳ معجم البلدان لومړی ټوک ۲۹۵کې مخ.

جې دده دریابونو ترمنځ پرته اوډیر کرهنیزه سیمه ده ...
بست په درې څلوېښتم هجری کال کې دنامتو صحابي حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه په لاس فتحه شوه)) ٤ دغې سیمې ته څکه ((بست)) وایي چې: فارسي بست داسې ځای ته وایي چې : ((دمیوو او ګلانو خوړئ وړې او بوی ترې ځي)).(٥)

د((بست)) سیمې ویجاړي:

عرب مورخین لیکي : له بده مرغه دغه سیمه ، ٥٤٥ ه .په شاواوخواکې دعلاء الدین جهان سوز (نړی سوځونکی)غوري په زمانه کې ویجاړه شوه))٦ څکه یاقوت حموي دغه سیمه کې په اومه هجري پیړۍ کې ویجاړه بولي . کیدای شوای دغه سیمه بېرته ودانه شوې وای ؛خو خو داتمې پیړۍ په پای کې د ((ګودتیمور)) دجنګونو له امله دغه سیمه یوځل بیا هغه مهال ویجاړه شوه کله چې د((زرنج)) له لوري پرې چپاو راوړو او یوازې په دغه سیمه کې د ((بست)) تشې کلاوې پاتې شوې . څرنګه چې واکمنو به له دغوو کلاوو به دهغه مهال واکمنو دجنګي سنګر او بالاحصار په توګه کار اخېست نو بیا ((نادرشاه)) د دولسمې هجري په پای کې دغه کلاوې یومخ ونړولې که څه اوس یې یوازې د یوالونه پاتې دي ، دکلاوو دغه پخواني یادګارونه چې ډیره پراخه سیمه یې نیولې ده د دغې سیمې د ستر مدنیت او پراختیا او ښایست ګواهي وایي .(٧)

[٣]ــ د علامه ابن حبان زده کړې:

که څه هم داسې کره تاریخي شواهد په لاس کې نشته چې د نوموړي د زده کړو د پیل په اړه یې څه لیکلي وي، یوازې امام ذهبي رح دومره لیکلي چې : نوموړي زده کړې درې سوه هجري په پیل کې پیل کړې دي٨ چې دغه مهال شل کلن و څکه دنوموړي په اړه ویل کیږي چې تول عمر یې اتیا کاله و.

په زده کړه پسې سفرونه:

له وړکتابه ډیر همتي و، په کم عمر یې زده کړې پیل کړیدي او بیا د لوړو دیني زده کړو ترلاسه کولو له پاره

امام ابن حبان رح په ډیر لوړ همت د علم په زده کړه پسې دهغه مهال اسلامي نړۍ تر څلوېښتو (٤٠) زیات ښارونه په پښو را وغوښتل ، لېږي ښارونه یې په خپل همت را نږدې کړل ، په هرعالم پسې د هغه کور ، وطن اوکلي ته ورغی ، زده کړې یې ترې وکړې او د حدیثو لوړ سندونه یې ترې ترلاسه کړل ، هغه ښارونه دادي چې نوموړي پکې زده کړې وکړې:

١ـ ((سجستان)). ٢ـ ((هرات)).
٣ـ ((مرو)). ٤ـ ((سنج)).
٥ـ ((صغد)). ٦ـ ((شاش)) اوسنی ((تاشکند)).
٦ـ ((بخاري)). ٧ـ ((نسا)).
٨ـ ((نیسابور)). ٩ـ ((أرغان)).
١٠ـ ((جرجان)). ١١ـ ((طهران)).
١٢ـ ((کرج)). ١٣ـ ((عسکر)).
١٤ـ ((مکرم)). ١٥ـ ((أهواز)).
١٦ـ ((بصرة)). ١٧ـ ((بغداد)).
١٨ـ ((کوفة)). ١٩ـ ((موصل)) .
٢٠ـ ((نصیبین)) . ٢١ـ ((رقة)).
٢٢ـ ((أنطاکیة)). ٢٣ـ ((طرسوس)).
٢٤ـ ((حمص)). ٢٥ـ ((دمشق)).
٢٦ـ ((بیروت)). ٢٧ـ ((صیدا)).
٢٨ـ ((رملة)). ٢٩ـ ((بیت المقدس)) .

٤ وګورئ : بلدان الخلافة الشرقیة " ص ٣٧٧ و ٣٨٣ ، ٣٨٤
٥ البدایة والنهایة " ١٢ / ٧٩ ، و " نزهة الخاطر " ١ / ٧٩ ،
٦ " تاریخ الدول الإسلامیة " ٢ / ٦٢٥ و ٦٣٠ ، " الأسرات الحاکمة ص ٤١٩ .
٧ بلدان الخلافة الشرقیة " ص ٣٨٤ .دائرة المعارف الإسلامیة " کې د (بست) تور وګورئ .

٨ سیر اعلام النبلاء : ١٦ توک مخ

۳۰ـ ((مصر))   ۳۱ـ اسکندریه او داسې نور....

اوس تاسو ووایاست چې دپخوانو علماوو څومره همت اوڅومره يې له علم سره يې مينـه وه چـې دومـره ښـارونه يـې یوازې په پښو باندې را وغوښتل.چې يو ښار دنړۍ په يوه سر کې او بل يې په بل سر کې دی . او ترهغه پورې يې مزل وکـړ څومره ابـن حبيـان پـه خپلـه وايـي چـې مـا لـه شـاش څخـه تراسکندريه پورې لـه څـه دپاسـه دوه زره استـادانوڅخه زده کړې وکړې نوموخه يې داده چې ماترڅومره هغه مهال مـزل کيدای شوای دمادعلم له پاره کړيده.

څکه هغه مهال ((شاش)) داسلامی نړۍ پـه ختيځ کـې لېرې پروت ښـار و ،لـه هغـه هـاخوا ترکـان پراتـه وو چـې داسلامي نړۍ وروسته پـولې هغـه مهـال وې ۹او دې خواتـه اسـکندريه هغـه مهـال داسـلامی نـړۍ وروسـتي بريدونـه د لويديځ لور تـه څکـه لـه اسـکندريه پورتـه لـور هغـه مهـال فاطيميان واکمن چې اسلامي نړۍ ورسره راشه درشه نه لرله . که چېرته له هغـه څخـه ورانـدې خواتـه کـوم ښـار وای نـو نوموړی به خامخا ورغلی وای .

له همد ې امله دنوموړي په اړه امام ذهبـی وايـي چـې : همت همدې ته وايي چې له علم اوپوهې سره سره پـه دومـره لېرې پرتو ښارونه باندې راوګرځيده. (۱۰)

[۳]ــ د علامه ابن حبان استادان:

لکه دمخه چې يادونه وشوه نوموړي په خپلو پښوباندې څه دپاسه څلوېښت ښـارونه راوغوښـتل دی امـام ابـن حبـان رحمه الله دخپل ((صحيح)) په سريزه کې ليکي : ما لـه شـاش څخه تراسکندريه پورې په دومـره سـفرونه کـې يـې لـه څـه دپاسه دوه زره استادانوڅخه زده کړې وکړې ، خونوموړي پـه دې تولو استادانوکې يوازې په خپل صحيح کې لـه يـونيم سـل استادانوڅخه حديثونه راويت کړی دي.

[۴] ــ نوميالي استادان :

لومړی استاد : علامه موصلي رحمه الله :

شيخ الاسلام ابويعلی موصـلي دحـديثو استاد او حـديثو دنامتوکتاب ((مسند ابي يعلی)) ليکـوال و پـه خپلـه نـامتو او ثقه راوي ياديږي دحديثو سند يې له امـام نسـايي څخـه هـم لوړ وپه درس کـې دشـاگردانو ځـای نـه کيـده ، دغـه نـامتو محـدث پـه دری سـوه اوه (۳۰۷هــ)کـې مـړ دی . (۱۱) لـه نوموړي څخه امام ابـن حبـان پـه خپـل صـحيح کـې (۱۱۷٤) حديثونه روايت کړي دي.

دوهم استاد : علامه نسوی رحمه الله :

بل استاد يې هم دخراسان نامتو استاد اودعلامـه اسـحاق بـن راهويـه نـامتو شـاگرد علامـه حسـن د سـفيان زوی چـې الخراساني اونسوی سره يې شهرت درلود امام حاکم امام رازي يې زياته ستاينه کړيده ، دغه نامتو امام د يـوه مشـهور مسـند خاوند هم دی امام ابن حبان وايي چې : زه يې پـه جنـازه کـې وم دغه نامتو محدث په دری سوه دری هجري کې دروژې پـه مياشت کې وفات شو۱۲ له دغه نامتو محدث څخه ابن حبـان تول (۸۱۵) حديثونه روايت کړي دي.

نوربيا......

۹ هغه مهال له شاش پورې خواته دګوبي لويه دښته پرتـه چـې لـه هغـې څخه پورې وتل يوه مياشت وخت غوښت وګورئ: د ((مارکو پولو يـون ليکونه)) مخونه : ۸۵ ، ۸٦ .

۱۰ سيراعلام النبلاء : ۱٦ / ۹٤ .

۱۱ دنوموړي دپيژندنې له پاره:" تذکرة الحافظ " ۲ / ۷۰۷ ، " سـير أعـلام النبلاء " ١٤ / ١٧٤ . وګورئ

۱۲ دنوموړي دپيژندنې له پاره:" تذکرة الحافظ " ۲ / ۷۰۳ ، " سـير أعـلام النبلاء " ١٤ / ١٥٧ . وګورئ

په کندوزکې ماتې خوړلې ګوډاګيان او د طالبانو چلند ... !!؟

طالبانو پرون د کندوز ښار تر يوې ورځنۍ جګړې وروسته تر خپلې ولکې لاندې راووست.

کندوز د هيواد په شمال کې د هر اړخيز ستراتيژيک مرکزي ولايت حيثيت لري . کندوز مجاهدينو په داسې غير مترقبه ډول فتحه کړ چې هيڅ ډول ستري قرباني ته يې لله الحمد ارتيا پيدا نشوه ، بلکې دوښمن له وارخطايي له ډېر لږ مقاومت وروسته په تيښته خان يوې او بلې خوا ته غلې کړ .

په کابل کې ناستو مشرانو ګوډاګيانو يې له شرمه د ويلو څه نه درلودل ، پرته له دې دروغ او پروپاګند څخه چې په مجاهدينو پسې يې ووايي ، مزدورو رسنيو په لومړي سر کې خبرونه خپاره کړل چې طالبانو د کندوز ولس ته تکليف ورکړی ، په داسې حال کې چې هيڅ نوع داسې پيښه د نمونې په ډول چا ونه ليدله چې طالبانو دې څوک زورولي او يا دې عامه شتمنيو ته زيان رسولی وي ، بلکې بر عکس پر سوشيل ميډيا ډېرې داسې صحنې خپرې شوې چې د رژيم ګوډاګيان د تيښتې په حال کې پر ملکي وګړو دزې کوي ، د غلا او چور بيلګې يې هم وليدل شوې.

د ښار تر نيولو څو ساعته وروسته د طالبانو امير ملا أخترمحمد منصور ولس ته د ډاډ ورکولو ترڅنګ مجاهدينو ته د لاندې څو مهمو ټکو لارښوونه وکړه:

۱ – مجاهدين دې د عملياتو له پای ته رسيدو او نظامي اهدافو له ترلاسه کولو وروسته ټوله توجه د کندز ښار د درانه ولس د سر، مال، ملکيتونو او عزت ساتنې ته وګرځوي، مجاهدين بايد بيدار و اوسي ، هيڅ چا ته اجازه ورنکړي چې څوک د عام ولس سراو مال او يا عامه شتمنيو ته زيان ورسوي.

۲ – دکندز ښاريان دې په دې خبر وي، چې اسلامي امارت په شخصي اموالو د تعرض ، خپلسرو او بې محاکمې وژنو، لوټماريو اويا دېچا د کورني حريم د ماتولو نيت او اراده نلري بلکې ددغسې کړنو او ګډوډيو مخه نيسي.

۳ – دکندز ښاريان دې د خپل سراو مال د حفاظت په اړوند هيڅ تشويش نه کوي،بې غمه دې له معمول سره سم دخپل ورځني ژوند چارو ته دوام ورکړي. ملي تجاران، کسارګران،د شفاخانو،ښوونځيو ، ښاروالی او ټولو خدماتي بنسټونو کارکوونکي دې بيغمه ورځنۍ چارې پيل کړي او د هيڅ ويرې او تشويش احساس دې نه کوي مجاهدين ددوی ورونه دي او ددوی د سراو مال ساتنې ته ژمن دي.

۴ – د حکومتي اداري اړوند چارواکو او عسکرو ته زموږ پيغام دادی چې د اسلامي امارت مجاهدين د انتقام فکر نلري ، بلکې له عفوې سره راغلي دي . د دوی په وړاندې د عفوې دروازې خلاصې دي.

۵ – دا فتوحات دالله تعالی نصرت اوددې مجاهد ولس دقربانيو نتيجه ده لهذا دکابل اداري چارواکي دي په جرأت سره خپله ماتې ومني دمجاهدينو لاس ته راوړنې دې پرديو استخباراتو ته نه منسوبوي اونه دي هم دخپل شکست انتقام په ړندو بمباريو او توپونو سره له عام ولس نه اخلي او دمجاهدينو پرمختګونه دې ديوه تريخ حقيقت په ډول ومني او په سره سينه دي دخپل راتلونکي او ټول هيواد دمصلحت فکر وکړي ، نورهغه وخت تير شوی چې د دوستم غټې خبرې ، داشرف غني تيرايستونکي وعدې او دغربي رسنيوپوچ تبليغات دې عامه ذهنيت اغفال کړي.

دا څوارلس کاله چې ولسي وګړي د ګوډاګي اربکي نظام له مظالمو سخت زوريدلي وو ؛ مجاهدينو د خپل أمير د لارښوونو په رڼا کې له عفوې سره حفسي- مهربانه چلند وکړ چې بيلګه يې نه وه موندل شوې . او په دې سره يې د مزدورو رسنيو او ګوډاګيانو ټولې دروغجنې هڅې په اوبو لاهو کړې .

مفتي شاهد

دشهامت دارالافتاء

په شمسي باندې داوبه کیدونکیو ځمکو

دنصف العشر دوجوب حکم!

له نبي علیه الصلوة والسلام څخه د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دمنقول شوي حدیث شریف په رڼا کې، فقهاوو مؤنت او مشقت دهغو ځمکودنصف العشر لپاره دلیل ګرځولی، چې هغه په ارهټ، غټه بوکه، غویانو،بریښنایي موټرونویا ماشینونو سره اوبه کیږي، نو نن سبا چې کومې ځمکې په شمسي یا سولر اوبه کیږي، همدا دمؤنت او مشقت وجه پکې شتون لري، نو ځکه پدې ځمکو کې هم دعشر پرځای(نصف العشر)اخستل صحیح دي، دا ځکه چې شمسي ـ په پیسو اخستل کیږي ، داوبو لپاره ورته موټر نصب کیږي، کله نا کله عوارض هم کوي، چې پدې هم لګښت راځي ... (والله تعالی اعلم)

حوالې په لاندې ډول سره دي:

حَدَّثَنَا أبان بن عياش عن أنس بن مالك عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أنه قَالَ:" فيما سقت السماء أو سقي سيحا العشر، وفيما سقي بالغرب أو السواني أو النضوح نصف العشر". [الخراج لابی یوسف ج۱ص۵٤].

قَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى : فأما القطائع فما كان منها سيحا فعلى العشر وما سقي منها بالدلو والغرب والسانية فعلى نصف العشر لمؤنة الدالية والغرب والسانية .

وإنما العشر والصدقة في الثمار والحرث من أرض العشر فما جَاءَت به الآثار والسنة العشر من ذلك عَلَى ما سقي سيحا ونصف العشر عَلَى ما سقي بالغرب والدالية والسانية . فهذا المجمع عليه من قول من أدركنا من علمائنا وما جَاءَت به الآثار. (الخراج لابی یوسف ج۱ص۵۱).

قوله: (ونصفه في مسقي غرب ودالية) أي ويجب نصف العشر فيما سقي بآلة للحديث. والغرب دلو عظيم، والدالية دولاب عظيم تديره البقر. وإن سقي بعض السنة بآلة والبعض بغيرها فالمعتبر أكثرها كما مر في السائمة والعلوفة، وإن استويا يجب نصف العشر نظرا للفقراء كما في السائمة، وظاهر الغاية وجوب ثلاثة أرباع العشر قوله: (ولا ترفع المؤن) أي لا تحسب أجرة العمال ونفقة البقر وكري الانهار وأجرة الحافظ وغير ذلك لان النبي صلى الله عليه وسلم حكم بتفاوت الواجب لتفاوت المؤنة فلا معنى لرفعها. أطلقه فشمل ما فيه العشر وما فيه نصفه فيجب إخراج الواجب من جميع ما أخرجته الارض عشرا أو نصفا إلا أن ما تكلفه يأخذه بلا عشر أو نصفه ثم يخرج الواجب من الباقي كما توهمه بعض الناس (البحرالرائق على كنزالدقايق ج۵ص۱۲۸)

(وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ أَوْ دَالِيَةٍ أَوْ سَانِيَةٍ فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ عَلَى الْقَوْلَيْنِ)؛ لِأَنَّ الْمُؤْنَةَ تَكْثُرُ فِيهِ وَتَقِلُّ فِيمَا يُسْقَى بِالسَّمَاءِ أَوْ سَيْحًا وَإِنْ سُقِيَ سَيْحًا وَبِدَالِيَةٍ فَالْمُعْتَبَرُ أَكْثَرُ السَّنَةِ كَمَا مَرَّ فِي السَّائِمَةِ.

(وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ : فِيمَا لَا يُوسَقُ كَالزَّعْفَرَانِ ، وَالْقُطْنِ يَجِبُ فِيهِ الْعُشْرُ إذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهُ قِيمَةَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنْ أَدْنَى مَا يُوسَقُ) كَالذُّرَةِ فِي زَمَانِنَا ؛ لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ التَّقْدِيرُ الشَّرْعِيُّ فِيهِ فَاعْتُبِرَتْ قِيمَتُهُ كَمَا فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ (وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ : يَجِبُ الْعُشْرُ إذَا بَلَغَ الْخَارِجُ خَمْسَةَ أَعْدَادٍ مِنْ أَعْلَى مَا يُقَدَّرُ بِهِ نَوْعُهُ .

فَاعْتُبِرَ فِي الْقُطْنِ خَمْسَةُ أَحْمَالٍ كُلُّ حِمْلٍ ثَلَاثُمِائَةِ مَنٍّ ، وَفِي الزَّعْفَرَانِ خَمْسَةُ أَمْنَاءٍ)؛ لِأَنَّ التَّقْدِيرَ بِالْوَسْقِ كَانَ بِاعْتِبَارِ أَنَّهُ أَعْلَى مَايُقَدَّرُ بِهِ نَوْعُهُ الشَّرْحُ قَالَ (وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ أَوْ دَالِيَةٍ) الْغَرْبُ الدَّلْوُ الْعَظِيمَةُ ، وَالدَّالِيَةُ الْمَنْجَنُونُ تُدِيرُهَا الْبَقَرَةُ .

وَذَكَرَ فِي الْمُغْرِبِ أَنَّ الدَّالِيَةَ جِذْعٌ طَوِيلٌ يُرَكَّبُ تَرْكِيبَ مَدَاقِّ الْأُرْزِ فِي رَأْسِهِ مِغْرَفَةٌ كَبِيرَةٌ يُسْتَقَى بِهَا ، وَالسَّانِيَةُ النَّاقَةُ الَّتِي يُسْتَقَى عَلَيْهَا .

وَقَوْلُهُ (فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ عَلَى الْقَوْلَيْنِ) أَيْ عَلَى حَسَبِ اخْتِلَافِ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَوْلِ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ عِنْدَهُ يَجِبُ نِصْفُ الْعُشْرِ مِنْ غَيْرِ شَرْطِ النِّصَابِ وَالْبَقَاءِ ، وَعِنْدَهُمَا أَيْضًا نِصْفُ الْعُشْرِ لَكِنْ بِشَرْطِ النِّصَابِ وَالْبَقَاءِ كَمَا بَيَّنَّا ، وَمَا ذَكَرَهُ مِنْ الدَّلِيلِ ظَاهِرٌ وَقَالَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ : عَلَّلَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا بِقِلَّةِ الْمُؤْنَةِ فِيمَا سَقَتْهُ السَّمَاءُ وَبِكَثْرَتِهَا فِيمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ أَوْ دَالِيَةٍ ، وَهَذَا لَيْسَ بِقَوِيٍّ فَإِنَّ الشَّرْعَ أَوْجَبَ الْخُمُسَ فِي الْغَنَائِمِ وَالْمُؤْنَةُ فِيهَا أَكْثَرُ مِنْهَا فِي الزِّرَاعَةِ ، وَلَكِنَّ هَذَا تَقْدِيرٌ شَرْعِيٌّ فَنَتَّبِعُهُ وَنَعْتَقِدُ فِيهِ الْمَصْلَحَةَ وَإِنْ لَمْ نَقِفْ عَلَيْهَا .

وَقَوْلُهُ (وَإِنْ سُقِيَ سَيْحًا وَبِدَالِيَةٍ) وَاضِحٌ . (العناية شرح ج٣ص١٦٩).

(وما سقى بغرب): أي دلو (أو دالية): أي دولاب (أو سانية): أي بعير يسنى عليه، أي يستقي من البئر. مصباح (ففيه نصف العشر في القولين): أي على اختلاف القولين المارين بين الإمام وصاحبيه في اشتراط النصاب والثمرة الباقية وعدمها قال في الدر: وكتب الشافعية "أو سقاه بماء اشتراه" وقواعدنا لا تأباه، ولو سقى سيحا وبآلة اعتبر الغالب، ولو استويا فنصفه، (اللباب فى شرح الكتاب ج١ص٧٧)

قوله: (غرب) بفتح المعجمة وسكون الراء. قوله: (ودالية) بالدال المهملة.

قوله: (أي دولاب) في المغرب الدولاب بالفتح: المنجنون التي تديرها الدابة، والناعورة: ما يديرها الماء، والدالية: جذع طويل يركب تركيب مداق الارز، وفي رأسه مغرفة كبيرة يستقي بها اه.

وفي القاموس: الدالية المنجنون، والناعورة: شئ يتخذ من خوص يشد في رأس جذع طويل، والمنجنون الدولاب يستقى عليه اه.

قوله: (لكثرة المؤنة) علة لوجوب نصف العشر فيما ذكر.

قوله: (وقواعدنا لا تأباه) كذا نقله الباقاني في شرح الملتقى عن شيخه البهنسي، لان العلة في العدول عن العشر إن نصفه في مستقى غرب ودالية هي زيادة الكلفة كما علمت، وهي موجودة في شراء الماء، ولعلهم لم يذكروا ذلك، لان المعتمد عندا أن شراء الشرب لا يصح، وقيل إن تعارفوه صح وهل يقال عدم شرائه يوجب عدم اعتباره أم لا؟ تأمل.

نعم لو كان محرزا فإنه يملك، فلو اشترى ماء بالقرب أو في حوض ينبغي أن يقال: بنصف العشر لان كلفته ربما تزيد على السقي بغرب أو دالية. (حاشية ردالمحتارج ٢ص٣٥٨)

مجاهد ته

اوښکه غوندي سپين جانانه گوره چي بې زړه نشې
دنگ اوسه چناره، چي راکوږ لکه کاږه نشې

سيوري ته ويدې هيلي دي بيا بيا زړه ته يادي کړه
پام کوه له خپل مسيره وا نه وړې پياده نشې

دومره اميدونه دي د نوم تر پلو غوټه دي
څومره چي آهونه وو ، اشنا اوس چي بې څه نشې

خپل خان نه حساب واخله دخداى ترسخت حساب وړاندي
اى دسترگوتوره! چي دبيا په غم اخته نشې

يادساته چي خداى او دا ولس به چرته خپل نکړې
څويې په خدمت ذره ذره لکه رانجه نشې

زموږ دازادى ناوکى پلوري دليلن بچيان
ته که يې گټلو ته ورا نشې ،مرکه نشې

څاري دتاريخ قلم ستا کړه وړه ورته خير اوسه
اى دوخت ايډياله ! دنفاق په رنغ اخته نشې

اوښکي او دعاوي دي هميش دبريا رمز وي
لپې بندي نکړې او چي تولة شپه ويده نشې

وينه د اولس به دناتو بچي تړې وزبښي
ته که په دښمن فدايي بريد نشې، حمله نشې

ډير وحبيبي پشان بې وزلو به دي لار ورشي
گوره دزړه سره ! خداى ته شانکړې غصه نشې

Shahamat
ننگرهار هده